# دملي بودیجه ۱۳۹۷

# دافغانستان اسلامی جمهوریت

دماليې وزارت

دافغانستان اسلامي جمهوريت

لړم ۱۳۹۷

دبوديجي لوي رياست

دمالي معينيت

دماليې وزارت

دافغانستان اسلامي جمهوريت

**سریزه**

د افغانستان حکومت د عامه مالي چارو په برخه کې روڼتیا او حساب ورکونې ته ژمن دی. د افغانستان د خلکو په استازیتوب د ملي منابعو مدیریت یو له هغو اړینو مسؤلیتونو څخه دی چې حکومت په جدی توګه ورته پاملرنه لری. د حکومت لخوا راټول شوي عواید او د نړیوالو شریکانو لخوا مالي مرستې ټول د افغانستان د خلکو اړونده سرچینې دي چې حکومت یې باید د لمړنی او درنې دندې په توګه په پوره امانت داری سره ولګوي ترڅو مونږ د دغو منابعو د پانګه اچونې په هکله ډاډ ترلاسه کړو او په هغو برخو کې ولګول شي چې د افغانستان خلکو ته تر ټولو ډېره ګټه رسوي.

حکومت باید خلکو او زمونږ نړیوالو شریکانو ته حساب ورکوونکی وي. په ملي بودجه کې د منابعو د ګټې اخیستنې څرنګوالي په هکله لازمه مالومات حساب ورکونې ته اړین بلل کیږي. له همدی کبله حکومت د ۱۳۹۷ مالي کال د بودجې جوړولو او وړاندې کولو لپاره یو لړ مهم اصلاحات ترسره کړیدي. لومړی د عامه مالي چارو مدیریت په برخه کې د ۱۳۹۷ مالي کال ملي بودجه د نړیوالو معیارونو په مطابقت ډېر په تفصیل سره ترتیب شوی دی. د ۱۳۹۷ مالي کال لپاره حکومت نه یواځې یوه واحده ملي بودجه وړاندې کوي بلکې سربیره پردی، عادي او پراختیایي بودجه د اقتصادي کودونو، فعالیتونو او جغرافیایي موقعیت پر بنسټ وړاندې کوي. همدا شان، مونږ د بودجې تفصیلی سند هم د وزارت، ولایت، پروګرام او پروژو پر بنسټ وړاندې کوو.

دولت دا تشخیص هم کړی دی چې د ملت جوړونې چارې یوه بودجوي لرلید ته اړتیا لري ترڅو د راتلونکو کلونو اړتیاوې ته هم پام وکړي. د ۱۳۹۶ مالي کال په بودجه کې د منځمهاله مصارفو چوکاټ (MTEF) په نظر کې نیولو سره، د سږ کال بودجه د ۱۳۹۷ مالي کال بودجې برسیره د راتلونکو درې کلونو وړاندوینې هم په ګوته کوي، چې دا په حقیقت کې د هېواد راتلونکې مالي وضعیت رانښیي.

سربېره پر دې، د بودجې د لا روڼتیا او اعتبار لپاره نور اصلاحات هم په نظر کې نیول شوي دي. حکومت د بودجې په اړه د تیرو کلونو مالومات هم چمتو کړی ترڅو په تیره لسیزه کې د عامه پانګه اچونې په هکله د تحلیل او تجزیې فرصت برابر کړي. همدا شان، مونږ په بودجه کې د لومړی ځل لپاره د مالي خطراتو، احتمالي مقروضیتونو، او شتمنیو په هکله تفصیلي مالومات شامل کړي دي. دغه تفصیلي شرحه د بودجې په هکله د احتمالي خطراتو یو شمیر څرګندونې را ښیي چې د راتلونکو کلونو په وړاندوینه کې په پام کې نه دي نیول شوي.

د ټولو یادو کړنو موخه د فساد کمول او ملي پراختیایي موخو ته د رسېدو لپاره د یوې اغیزمنې وسیلې په توګه بودجه جوړونه ده. که څه هم په راتلونکو کلونو کې په دی اړه باید لا ډېر کار وشي، خو حکومت په دی بودجه کې د اوسني او راتلونکي با ثباته مالي تمویل په اړه اړینې کړنې ترسره کړی دی.

**اکلیل حکیمي**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

**د مالیې وزیر**

## لړلیک


د بودجې ستراتیژي او لړلید ........ ۱
بودجې ته کتنه ........ ۱
د بودجې لړلید ........ ۱
اقتصادي لړلید ........ ٤
د افغانستان اقتصادي لړلید ........ ٥
اقتصادي وړاندوینې ........ ٦
کورنی ناخالص تولید (GDP) ........ ۷
انفلاسیون ........ ۸
د بهرنیو اسعارو د بدلون بیه ........ ۹
د تادیاتو بېلانس ........ ۱۰
د سیمه ییز اقتصاد لړلید ........ ۱۰
د افغانستان د ګاونډیانو اقتصادي لړلید ........ ۱۰
مالي ستراتیژي او لړلید ........ ۱۲
مالي ستراتیژي ........ ۱۲
اقتصادي او مالي موخې ........ ۱۲
مالي چوکاټ او بودجوي ریفورم ........ ۱۳
د لګښتونو منځمهاله چوکاټ او د راتلونکو کلونو اټکلونه ........ ۱۳
مالي لړلید – مالي محدودیتونه ........ ۱۵
د ۱۳۹۷ مالي کال بودجه - یو لازمي بودجوي محدودیت ........ ۱۸
د ۱۳۹۸ - ۱۴۰۰ کلونو له پاره وړاندوینه: مالي فشار سره مقابله ........ ۱۸
رسیدونه او مرستې (عواید) ........ ۲۰
د کورنیو عوایدو لړلید ........ ۲۱
د عوایدو لړلید (۱۳۹٦-۱۴۰۰) ........ ۲٤
د عوایدو د وړاندوینې د حساسیت شننه ........ ۲٤
پر ډېر شوي ارزښت د مالیاتو وړاندوینې (VAT) ........ ۲٥
د نړیوالو پراختیایي مرستو له لارې د عوایدو لړلید ........ ۲٥
توحید شوي لګښتونه - عادي، اختیاري او غیر اختیاري پراختیایي لګښتونه ........ ۳۰
د لګښتونو منځمهاله چوکاټ ........ ۳۰

مالي خطرات او احتمالي مقروضیتونه او شتمنی ..... ٥٤
عمومي مالي خطرونه ..... ٥٤
امنیت ..... ٥٤
د افغانانو بیرته راستنېدنه ..... ٥٤
طبیعي پېښې او د اقلیم بدلون ..... ٥٧
دولتي تصدي گانې ..... ٥٨
تقاعد ..... ٥٩
عامه او خصوصي مشارکت ..... ٦٠
د بودجې د اجرا اصول ..... ٦٣
د بودجې د تطبیق حقوقي چوکاټ ..... ٦٣
د ملي بودجې د تطبیق لپاره اداري اړتیاوې ..... ٦٣
عمومي حکمونه ..... ٦٣
بدلونونه او تعدیلات ..... ٦٣
د پروژو او قرادادونو مدیریت ..... ٦٥
د بشري سرچینو مدیریت (تشکیل) ..... ٦٧
د توحید شوي بودجې شرحه ..... ٦٨
له معیارونو سره همغږي ..... ٦٨
د پالیسی اړوند نوي فعالیتونه ..... ٧٠
لنډه کتنه ..... ٧٠
د پالیسی نوي نوښتونه(فعالیتونه) څه دي؟ ..... ٧٠
د پالیسی نوي نوښتونه (فعالیتونه) -عواید ..... ٧١
د پالیسې نوې فعالیتونه -لگښتونه ..... ٧١
زیربنایي پروژو ته کتنه ..... ٧٣
نور نوي زیربنایي فعالیتونه ..... ٧٥
د کلیو پراختیا او کرهنه ..... ٧٨
پوهنه ..... ٨٠
ټولنیز خوندیتوب ..... ٨٣
اقتصاد او د خصوصي سکټور پراختیا ..... ٨٣
روغتیا ..... ٨٥

۳: په ولایتونو کې مالي فعالیتونه ........................................ ۸۷
عمومي کتنه ........................................ ۸۷
په ولایتي کچه د حکومت لګښتونه - ۱۳۸۹-۱۳۹۶ ........................................ ۸۷
د ولایتي لګښتونو تحلیل ........................................ ۹۰
د ۱۳۹۷ - ۱٤۰۰ کلونو لپاره د ولایتونو په کچه د بودجې تخصیص ........................................ ۹۲
ولسي تړون ........................................ ۹۲
د ادارو تشکیل (تشکیل او قراردادي کارکوونکي) ........................................ ۱۰۰
لنډه کتنه ........................................ ۱۰۰
تشکیل ........................................ ۱۰۰
ملي تخنیکي مرستې (NTA) ........................................ ۱۰۰
د ټولو کارکوونکو شمیر او لګښتونه ........................................ ۱۰۱
اداري اغیزمنتوب ........................................ ۱۰٤

## د بودجې ستراتیژي او لرلید

### بودجې ته کتنه

د ۱۳۹۷ ملي بودجه د مالي پلان جوړونې لپاره د دولت په تګلاره کې یوه مهم بدلون په ګوته کوي. د لومړي ځل لپاره په منځمهاله کې د عادي او پرمختیایي بودجې په ګډون د نړیوالو معیارونو سره سم، یو واحده ملي بودجه د دولت له لوري وړاندې کېږي.

د افغانستان دولت د ملي بودجې یو پرانیستې، ځواب ورکوونکې او د اعتماد وړ مدیریت ته ژمن دی. دغه بودجوي اصلاحات به فساد کم او عامه مالي مدیریت پیاوړی کړي. د اوسنی پالیسی لپاره واقعیت بنسټه اټکلونه به وکولای شي د دولت وړتیا لا زیاته کړي ترڅو موجوده مالي محدودیت د نویو پانګونو لپاره وڅېړي او له ناکارو او ټیټو لومړیتوب لرونکو فعالیتونو څخه، لوړو لومړیتوب لرونکو فعالیتونو ته د منابعو د لېږدولو پروسه لاچټکه کړي. دغه کار به، په ځانګړي توګه په پرمختیایي بودجه کې د تېر کال د ژمنو د کمزوریو تګلارو په پای ته رسولو کې مرسته وکړي. سربېره پر دې، دولت هڅه کوي څو د پروګرامونو او پروژو د لګښتونو لپاره له ټاکلې اندازې زیات اټکلونه، په دقیقو او د اعتماد وړ اټکلونو واړوي. په پایله کې د دولت تمه په لوړه کچه د بودجې مصرف دی، مګر نه یوازې په ۱۳۹۷ کال کې بلکې په تدریجي توګه په راتلونکو کلونو کې باید د بودجې د لګښت کیفیت غښتلې شي.

د عامه پانګه اچونې په اړه د یوه رڼه تحلیل د ترسره کولو په موخه د منظور شوې بودجې په اړه د تېرو کلونو مالومات په بودجه کې وړاندې کېږي، چې د ملي منابعو د تخصیص د ښه کولو لپاره مهم ګڼل کېږي.

### د بودجې لرلید

د مهمو اقتصادي او مالي خطراتو پربنسټ د افغانستان لپاره د بودجې لرلید مشخص شوی دی. د ۱۳۹۷ کال بودجه یوه منځمهاله مالي لرلید لري چې د کورنیو عوایدو ښه والی ښیي، مګر له هغه ځایه چې د نړیوالو مرستندویانو مرستې پای ته رسېږي یا کمیږي، په راتلونکو څلورو کلونو کې یو مالي خلا رامنځ ته کېږي.

د منځمهالې دورې د لګښتونو چوکاټ ښیي چې د تېرو کلونو په پرتله په ۱۳۹۷ کال کې به بودجه تردېره محدوده وي. له اندازې زیاته بودجه جوړونه او له اندازې کمه لګښت څخه کلونه وروسته، د ۱۳۹۷ کال بودجه دا حقیقت په ډاګه کوي چې اوس د دولت بودجوي اجراآت د شته منابعو سره برابر دی.

په توحید شوې بودجه کې د ۱۳۹۷ کال لپاره مجموعي مصارف ۳۶۱ میلیارده افغانۍ اټکل شوي چې د کورنیو ناخالصو عوایدو (GDP) ۲۴٪ تشکیلوي. عادي بودجه چې د ملکي خدمتونو او ملي پروګرامونو په ګډون د دولت د فعالیتونو د تمویل لپاره کارول کېږي د توحید شوې بودجې له ۷۴٪ څخه جوړه دی. د ۱۳۹۶ کال حقیقي مصارف په عملیاتي بودجه کې ۲۴۴ میلیارده افغانۍ اټکل شوي. په ۱۳۹۷ کال کې دولت د لګښتونو په کچه کې د ۱۰ سلنې زیاتوالی لپاره چې ۲۶۷ میلیارده افغانۍ کېږي، بودجه جوړونه کوي. د ۱۳۹۶ کال لپاره په اختیاري حقیقي پراختیایي بودجه کې حقیقي مصارف ۳۰ میلیارده افغانۍ اټکل شوي چې د ۱۳۹۵ کال په پرتله لږ څه زیات دی. په ۱۳۹۷ کال کې به دولت ۳۸ میلیارده افغانۍ بودجه جوړونه وکړي. د غیراختیاري بودجې لپاره حقیقي مصارف ۵۵ میلیارده افغانۍ اټکل شوي. دولت

د یوې ټېټې اندازې لپاره چې د لګښتونو اټکل په محافظه کارانه ډول منعکسوي، بودجه جوړونه کوي ترڅو د موجودو پروژو اجراات لاپسې ښه کړي او د نتایجو پربنسټ ولاړو پروګرامونو او پروژو لپاره اضافي وجوه برابر کړي.

لمړی جدول: د بودیجې مجموع

| د منابعو او نغدي وجوه د ګټې اخیستنې صورت حساب (د GFS-۲۰۱۱ پر بنسټ) | لګښتونه | د کال پیل بودجه | حقیقي تخمین | بودجه | وړاندویني | وړاندویني | وړاندویني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د عملیاتي فعالیتونو نغدي جریان | | | | | | | |
| الف. د عملیاتي فعالیتونو څخه نغدي رسیدونه | ۳۵۱,۸۴۵,۹٦٤,۸۷۰ | ٤۱٦,۷۰۸,۹۳۰,۹۱٦ | ۳۸۱,۹۲۸,۱۱۵,۲۹۵ | ۳۵۷,۲٦۱,۱٤۰,۵۱۰ | ۳۵۵,۰۰۸,۲۷۰,۸۸۲ | ۳۵۰,۰۰۲,۵۵۲,٦۱۳ | ۲۸۵,۳٤۲,۵۹۵,۷۷۷ |
| ب. د عملیاتي فعالیتونو لپاره نغدي ورکړه | ۲۸٦,۸۵۱,۹۱۹,۳٦٤ | ٤۲۲,۰٤٤,۳۷۹,۹۸٤ | ۲۷۸,۵۲۸,۲٦٤,۲۷۳ | ۲۹۱,۰۹۲,۵٦۲,٤۵۳ | ۲۹٤,۲۰۰,۸۳۹,۱۱۱ | ۲۹۵,٦۸۹,۸۳۹,۷٤٤ | ۲۹٤,۵۲۵,۱۳۹,۵٦۸ |
| د عملیاتي فعالیتونو څخه خالصه نغدي داخلي جریان | ٦۰,۷۳۱,٦۳۸,۰۲٦ | ۱۰,۹۵۷,۵۹۵,۱۳۹ | ۱۰۳,۳۹۹,۸۵۱,۰۲۲ | ٦٦,۱٦۸,۵۷۸,۰۵۷ | ٦۰,۸۰۷,٤۳۱,۷۷۲ | ۵٤,۳۱۲,۷۱۲,۸٦۹ | (۹,۱۸۲,۵٤۳,۷۹۱) |
| ج. په غیر مالي شتمنیو د پانګه اچونې نغدي جریان | ۵۳,۳۹۵,۱۸٦,۸٤۸ | ۷,۳٤۸,۳۰٤,۸۳۱ | ٦۱,۲۷۹,٤۲۹,۸۸۰ | ۵۳,٦۹٤,۹٤۹,۰۸٤ | ۵۱,۸۸۷,٦۹۳,۸۵٤ | ٤۵,۹۱۸,۱٤۲,۵۱۹ | ۳۷,٤۱۵,۳۵۸,۲۰۳ |
| د نغدي وجوه مازاد/کسر (الف-ب-ج) | ۱۱,۵۹۸,۸۵۸,٦۵۹ | (۱۲,٦۸۳,۷۵۳,۹۰) | ٤۲,۱۲۰,٤۲۱,۱٤۲ | ۱۲,٤۷۳,٦۲۸,۹۷۳ | ۸,۹۱۹,۷۳۷,۹۱۷ | ۸,۳۹٤,۵۷۰,۳۵۰ | (٤٦,۵۹۷,۹۰۱,۹۹) |
| د تمویلي فعالیتونو نغدي جریان | - | - | ۳٦۱,۰٤۹,۹۷۷,۷۷۵ | ۱٤۷,۳۲۱,٦٥۳,۲٥۹ | ۳٦۹,۲۹۵,۹٦٦,٤۱۵ | ۳٦۲,٤۷۷,٤۰٤,۷۸۸ | ۳٤۹,۵۳٦,٦۵۰,۷٤۰ |
| د. د نغدي وجوه پرته د خالصو مالي شتمنیو ترلاسه کول | | | | | | | |
| ر. د خالصو مقروضیتونو (بدهي ها) رامنځته کیدل | ۲۲,۰٦۱,۱۳۷,۹۳۷ | ۲۱,۰۳۰,۰۰۰ | ۱۹,۷٦۵,۳۲۲,۲۷۱ | ۲۳,۹۵٦,۲۸۱,۹۸۸ | ۲۳,۱۵۸,۱۷۵,۳٦۸ | ۲۰,۸۱۸,۸۰۲,٦۰۵ | ۱۷,۵٤٤,۲۸٦,٤۹۵ |
| د تمویلي فعالیتونو خالصه نغدي جریان | (۱,۰۳٤,۵۲۵,۹۳٦) | ۲,٦۵٤,۷۸۷,۲۷۵ | (۱,٤۲۸,۰۷۰,۰۱۲) | ۱,۵٤۷,۷۰۰,۰۰۰ | ۱,٤٦۵,۸۱٦,٦۹۸ | ۱,۲۲۹,٦٦۷,۰٦٤ | ٦۱٤,۸۳۳,۵۳۲ |
| د نغدي وجوه په زیرمو کې خالص تغییرات | (۲۳,۰۹۵,٦٦۳,۸۷۳) | ۲,٦۳۳,۷۵۷,۲۷۵ | (۲۱,۱۹۳,۳۹۲,۲۸۲) | (۲۲,٤۰۸,۵۸۱,۹۸۸) | (۲۱,٦۹۲,۳۵۸,٦۷۱) | (۱۹,۵۸۹,۱۳۵,۵٤۰) | (۱٦,۹۲۹,٤۵۲,۹٦) |
| د حساباتو جدول د لویو کوډونو (باب) پر بنسټ لګښتونه | (۱۱,٤۹٦,۸۰۵,۲۱۵) | (۱۰,۰٤۹,۹۹٦,٦۲) | ۲۰,۹۲۷,۰۲۸,۸۵۹ | (۹,۹۳٤,۹۵۳,۰۱۵) | (۱۲,۷۷۲,٦۲۰,۷۵) | (۱۱,۱۹٤,۵٦۵,۱۹۰) | (٦۳,۵۲۷,۳۵٤,۹۵) |
| ۱ عواید | ۳٦٤,۰۹۸,۲٤۱,٤۳۵ | ٤۱٦,۷۰۸,۹۳۰,۹۱٦ | ۳۸۱,۹۷٦,۳۸٦,۲٦۲ | ۳٤۹,٤۱۰,٦٦۹,۷٦۱ | ۳٤۷,۱۵۹,۳٤۹,۳۹۱ | ۳٤۲,۱۵۵,۰٤۳,۲۹۰ | ۲۷۷,٤۹٦,۳۷۹,۰۷۵ |
| ۲ لګښتونه | ۳۵٤,۱۸٦,۷۷۷,۲۵٤ | ۳۷۲,۷۳۲,۵٦٤,۰٤۵ | ۳٦۱,۰٤۹,۹۷۷,۷۷۵ | ۳۵٤,۵۷۵,٤٤۳,۰٦٦ | ۳۵۷,٤۱۹,۲۰۱,۵٤۸ | ۳۵۱,۲٤۱,۳۱٤,۵٤۸ | ۳۳۹,۱۹۵,۰٤۷,۹۵۱ |
| نور کودونه | - | ۵٦,٦۸۱,۱۵۰,۷۷۰ | - | ٦,۳۱٦,۱۱٤,٤۹۸ | ۳,۹۷٦,۷٦٤,۸٦۷ | ۳,۳۳٦,۰۹۰,۲٤۰ | ۲,٤٤۱,٦۰۲,۷۸۸ |
| د ناخالصو تولیداتو مالي اراقام مجموع (د سلنې له مخې) | | | | | | | |
| عواید | ۲٦.۵۱٪ | ۲۹.٦۳٪ | ۲۷.۱٦٪ | ۲٤.۱۰٪ | ۲۳.۱۸٪ | ۲۱.۹۹٪ | ۱۷.۰۸٪ |
| لګښتونه | ۲۵.۷۹٪ | ۲٦.۵۱٪ | ۲۵.٦۷٪ | ۲٤.٤٦٪ | ۲۳.۸۷٪ | ۲۲.۵۷٪ | ۲۰.۸۸٪ |

مالي محدودې ته په پام سره کورني عواید د زیاتېدو په حال کې دی، مګر بهرنۍ مرستې (ګرنټونه) په ځانګړې توګه د عملیاتي او اختیاري پرمختیایي بودجې لپاره د کمېدو په حال کې دي. په کورنیو عوایدو کې زیاتوالی په مرستو (ګرنټونو) کې د کموالي څخه لږ دی. دا پدې مانا ده چې په ۱۳۹۷ کال کې د کابو ۱۰ میلیارد افغانیو کسر موجود دی چې د نغدي وجوهو څخه به تمویل شي.

د څو کلونو اټکلونو لپاره مالي لرلید تر ۱۴۰۰ کاله پورې په مساوي توګه محدود دی. د ۱۳۹۸ او ۱۳۹۹ کلونو په مصارفو کې د معمولي زیاتوالی په فرض کولو سره، منځمهاله مصارفاتي چوکاټ په دغو کلونو کې ډېر کم بودجوي کسر ولري. دغه بودجوي کسر ته باید د لوړو مالیاتي رسیدونو، نقدي بیلانسونو یا د سپما له لارې د مصارفو د کمولو پوسیله رسېدنه وشي. دولت به دغه بودجوی کسر ته په اوسنیو فعالیتونو کې د سپما څخه په نویو مصارفو کې د انډول د رامنځ ته کولو له لارې رسېدنه وکړي. د دغې پروسې هدف به په راتلونکو څو کلونو کې له بودجې څخه د ټیټو اجراااتو یا د ټیټو لومړیتوب لرونکو پروګرامونو حذفول وي.

د څو کلونو د اټکلونو وروستی کال (۱۴۰۰ کال) د نړیوالو مرستندویانو لخوا د اوسنیو ژمنو د پای اغیزې څرګندوي. پداسې حال کې چې له ۱۳۹۹ کال څخه هاخوا د مرستو هیڅ کوم تړون شتون نلري، د څو کلونو د اټکلونو لپاره دولت د مرستندویانو د اوسنې مرستو ۵۰ سلنه ژمنې په پام کې نیولې دی. د عملیاتي او اختیاري پرمختیایي بودجې لپاره به د مصارفو کچه حفظ شي (په پالیسي کې پرته له بدلون څخه)، خو غیراختیاري پرمختیایي مصارف به د مرستو (ګرنټونو) سره سم کم شي. دا پدې مانا نده چې په راتلونکي کې به د مرستو څخه مخنیوی وشي، مګر پدې مانا ده چې پر نړیوالو پراختیایي مرستو د ۱۴۰۰ کال لپاره د افغانستان دوامداره اتکاء وښودل شي چې د څو کلونو د اټکلونو لپاره ٦١ میلیارده افغانۍ بودجوي کسر په ډاګه کوي.

### اقتصادي لرلید

اقتصادي لرلید ثابته پاتې کیږي، مګر د ګڼو خطراتو تابع به وي. اټکل شوی چې په ۱۳۹۷ کال کې اقتصادي وده تر ۳،۱ سلنې رسېږي چې په تدریج سره به تر ۱۴۰۰ کاله پورې ۴.۴ سلنو ته لوړه شي. د فرض په توګه امنیتي وضعیت نه خرابېږي او کرنه د اساسي اقلیمي پېښو ښکار نه ګرځي، په دغه صورت کې چېرته چې ودانیز او صنعتي چارې د ملي لاسته راوړنو لپاره اساسي عوامل بلل کیږي، اقتصادي شرایط به ثابت پاتې شي. په عمومي ډول د اسعارو د تبادلې بیه ثابته ده. د افغانیو د ارزښت وروستي ټیټوالی په ځانګړي ډول د ډالرو په مقابل کې د مرستو د راټیټېدو له امله، زیات شوي، او اټکل کیږي د افغانیو د دغه معمولي ټیټوالی لړۍ به څو راتلونکو کلونو پورې دوام وکړي. له هغه ځایه چې خلک د ارزانو توکو د پیرودلو تمه لري، دغه کار باید د وارداتي بدیل لامل وګرځي؛ مګر دغه لړۍ د لوړ انفلاسیون او د خوراکي توکو د لوړو بیو لامل ګرځي چې پر بیوزلو یې اغیزې منفي دي.

**دویم جدول: د بودجې پارامترونه**

| | ۱۳۹۵ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ناخالصو ملي تولیداتو حقیقی وده | ٢.٤٪ | ٢.٤٪ | ٣.١٪ | ٣.٤٪ | ٣.٩٪ | ٤.٤٪ |
| د ناخالصو ملي تولیداتو وړاندویني | ١,٣٣٣,٦٩٩ | ١,٤١٦,٤٦٠ | ١,٥٢٨,٦٥٧ | ١,٦٥٥,٨٦٤ | ١,٨٠٠,٥٦٠ | ١,٩٤٣,٣٣٦ |
| د افغانۍ او ډالرو اسعارو د تبادلې بیه | ٦٧.٠٠ | ٦٧.٠٠ | ٦٨.٣٤ | ٦٩.٧١ | ٧١.١٠ | ٧٢.٥٢ |

د ۱۳۹۷ کال بودجه به عامه مالي چارې بیاتنظیم کړي. پداسې حال کې چې اوسمهال نوي ستړې پروژې نه اعلانیږي، دولت هڅه کوي څو د افغانستان د منابعو کمېدو ته په پام سره، د ملي لومړیتوبونو سره برابره بودجه ترتیب کړي. په لګښتونو کې اساسي زیاتوالی د امنیت، زیربنا او پوهنې په برخو کې ترسره شوي دي.

د ولسي تړون لومړی بشپړ پړاو په بودجه او د راتلونکو کلونو په اټکلونو کې منعکس شوی او د دولتي ودانیو ټولې ودانیزې چارې د دولت له لوري د کارونو د چټکتیا په موخه د ښار جوړونې د پراختیا وزارت ته سپارل شوي دي.

د یوې حقیقي او اعتماد وړ بودجې د وړاندې کولو په موخه، د بودجې د اصلاح دویم پړاو د ۱۳۹۷ کال په نیمایي کې ګڼو اساسي موضوعاتو ته د پام کولو په موخه به د یوې ضمیموي بودجې د پروسې سره پیل شي. نوموړي اساسي موضوعات په عادي بودجه کې د اغیزمنتوب پر حفظ او لوړو اجرااتو او پرمختیایي پروګرامونو ته د ډېرو منابعو پر تخصیص شاملیږي.

د اصلاحاتو سربېره، د افغانستان راتلونکي به ګڼ شمېر مهم خطرات هم ولري. د مرستو پر لړۍ د تکیه ملت په توګه، د راتلونکو څو کلونو د اټکلونو څخه هاخوا د مرستندویانو ناروښانه ژمنې د یو اوږد مهاله اقتصادي او مالي خطر څرګندونه کوي. که چېرته مرستندویان خپلې مرستې کمې کړي، کورني عواید به ونشي کولای د ۲۰۲۰ کال څخه وروسته رامنځ ته شوي خلا په بشپړ ډول ډکه کړي. دغه موضوع د اوسني مالي اصلاحاتو هغه اهمیت په ګوته کوي چې نه یوازې عواید باید زیات شي بلکې لګښتونه او پانګونې هم باید تر ډېره د موخو پربنسټ چمتو او اغیزمنې شي.

روانه شخړه په افغانستان کې د ودې او پراختیا په لاره کې خنډ بلل کیږي. د سولې او ثبات څخه پرته د اقتصادي پراختیا دوام له جدي خطر سره مخ دی. دغه خطر په بشپړه توګه د بودجې په ارقامو کې د شته منابعو د یو مهم تناسب په توګه ندی په ډاګه شوی؛ دا ځکه چې امنیتي لګښتونه اوس هم د افغانستان د ملګرو لخوا د ملي بودجې څخه بهر تمویلیږي. سربېره پر دی، افغانستان له ګڼو اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سره مخ دی چې دغه ستونزې د نړیوال جیوپولیتیک او اقتصادي تردید، د راستنېدونکو افغان کډوالو لوی شمېر او په کرنه کې اقلیمي ابهام سره تړاو لري.

له پورتنیو مواردو څخه پرته ګڼ شمېر مالي خطرات او احتمالي مقروضیتونه هم شتون لري؛ د مثال په توګه د تقاعد نه تادیه شوي پیسې او نور امتیازات، د دولتي تصدیانو او ادارو څخه خطرات، پورونه او تضمینونه، د پالیسۍ اړوندې نه تادیه شوي ژمنې او عامه او خصوصي مشارکت، د یو اضافي اصلاحي ګام په توګه سږ کال په بودجه کې د *مالي خطراتو، احتمالي مقروضیتونو او شتمنیو شرحه* هم شامله ده ترڅو له دی لارې هغه خطرات په دقیقه توګه په ډاګه شي چې د راتلونکو څو کلونو په اټکلونو کې په بشپړ ډول ندي منعکس شوي.

### د افغانستان اقتصادي لرلید

پدې برخه کې هغه اقتصادي معیارونه (پارامیټرونه) چې د ملي بودجې بنسټ تشکیلوي، د مهمو فرضیو په شمول، د کورنی او نړیوال اقتصاد لپاره اقتصادي لرلید، د امریکا متحدو ایالتونو او نورو ګاونډیو هېوادونو په ګډون، وړاندې کیږي.

په تېرو پنځلسو کلونو کې د افغانستان وده د پراخو نړیوالو مرستو پایله وه. افغانستان د ۲۰۰۳ او ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ تر ټولو ډېرې بهرنۍ مرستې او کومکونه ترلاسه کول او پدې موده کې د ودې کلنۍ اوسط ۹،۴ سلنه و. د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۶ کلونو ترمنځ اقتصادي

وده د ۲،۱ سلنه په چټکتیا سره راپرېوته چې اصلي لامل یې د تمویلوونکو د مرستو (په تېره بیا له بودجې بهر د امنیتي لګښتونو) بې دریغه راپرېوتل و او تر یوې کچې یې کورني عوامل هم درلودل.

د تمویلوونکو مرستې به په منځ مهاله موده کې لا نورې کمې او بودجه به لا ډېره محدوده شي. څرنګه چې د افغانستان له نړیوالو همکارانو سره هوکړه شوې، دولت د هېواد د پر ځان بسیاینې لپاره اړینې لارې چارې تر لاس لاندې نیولې. هر څومره چې د مرستو سرچینې محدودیږي، د هېواد کورني عواید به د افغانستان د سولې او پراختیا په ملي کاري چوکاټ کې د ټاکل شوو موخو له مخې وده وکړي او دولت به د ملي بودجې د لا اغېزمنتیا او ګټورتوب لپاره مالي اصلاحات پلي کړي.

په کرهنیز سکټور کې د فعالیتونو پراختیا او په زېربنایي پروژو لکه انرژي او سیمه ایزه نغښتلتیا (که چېرته دغه پروژې بشپړې شي) د پانګونې لپاره د دولت پلانونه به د اقتصاد د تشویق، کار موندنې او د پانګونې د لا هڅونې لامل شي. دغه ثابت لرلید سره یو شمېر خطرونه هم مخ دي. رواني جګړې د پانګونو مخه ډبوي؛ د ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ کال ټاکنو سیاسي ناڅرګندتیا د باور کمېدو لامل او دغه راز له نړیوالو شریکانو څخه د روانو مرستو کچه به ښایي له هغه څه چې اټکل شوې، کمه وي.

## اقتصادي وړاندوینې

اقتصادي وړاندوینې چې د بودجې لپاره مهمې انګېرل کیږي، په دریم جدول کې وړاندې کیږي.

***دریم جدول – اقتصادي پارامیټرونه***

| شاخصونه | ۱۳۹۵ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| په اوسط ډول د لګښتونود بیې شاخص(CPI) | ٥٪ | ٥٪ | ٥٪ | ٥٪ | ٥٪ | ٥٪ |
| اوسط شاخص قیمت مصرف جمع ERC | ۱۳٪ | ٦٪ | ٦٪ | ٥٪ | ٥٪ | ٥٪ |
| د تعدیل شاخص | ۳٪ | ۳٪ | ۳٪ | ۳٪ | ۲٪ | ۲٪ |
| د تعدیل شاخص جمع ERC | ۱۱٪ | ۳٪ | ۳٪ | ۳٪ | ۲٪ | ۲٪ |
| د تورم په آخره دوره کې د مصرفي توکو بیه | ٤٪ | ۷٪ | ٦٪ | ٥٪ | ٥٪ | ٥٪ |
| د تورم په آخره دوره کې د مصرفي توکو او ERC د بیې تغییرات | ۱۲٪ | ۷٪ | ٦٪ | ٥٪ | ٥٪ | ٥٪ |
| ERC | ۸٪ | ۰٪ | ۰٪ | ۰٪ | ۰٪ | ۰٪ |
| د خوارکي توکو د لګښتونو د بیې شاخص | ٦٪ | ۷٪ | ٥٪ | ۷٪ | ٦٪ | ۸٪ |
| د خوراکي توکو د لګښتونو د بیې شاخص جمع ERC | ۱٤٪ | ۷٪ | ۸٪ | ٦٪ | ٦٪ | ۸٪ |
| M۲ | ٦٪ | ۸٪ | ۸٪ | ۸٪ | ۸٪ | ۷٪ |
| ناخالصه ملي تولیدات | ٥٪ | ۷٪ | ۷٪ | ۸٪ | ۸٪ | ۷٪ |
| د کرهنې ناخالصه ملي تولید | ۰٪ | ٥٪ | ۸٪ | ۱۰٪ | ۱۰٪ | ۹٪ |
| د تولیدي صنایعو ناخالصه ملي تولید | ٥٪ | ٦٪ | ۷٪ | ٦٪ | ٦٪ | ٦٪ |
| د خدماتو ناخالصه تولید | ۹٪ | ۱۰٪ | ۷٪ | ۸٪ | ۸٪ | ۷٪ |

| **شاخصونه** | **۱۳۹۵** | **۱۳۹۶** | **۱۳۹۷** | **۱۳۹۸** | **۱۳۹۹** | **۱٤۰۰** |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د غیر خوارکي ټوکو د لګښتونو د بیې شاخص | ٤٪ | ٣٪ | ٣٪ | ٣٪ | ٣٪ | ٤٪ |
| د غیر خوارکي ټوکو او ERC د لګښتونو د بیې شاخص | ١٢٪ | ٤٪ | ٤٪ | ٤٪ | ٣٪ | ٤٪ |
| نفوس | ٢٪ | ٢٪ | ٢٪ | ٢٪ | ٢٪ | ٢٪ |
| نفوس او د لګښت بیې شاخص | ٧٪ | ٨٪ | ٨٪ | ٧٪ | ٧٪ | ٧٪ |
| صفر | ٠٪ | ٠٪ | ٠٪ | ٠٪ | ٠٪ | ٠٪ |
| **د موثریت وندې ګټه** | -٢٪ | -٢٪ | -٢٪ | -٢٪ | -٢٪ | -٢٪ |
| **کورنی ناخالصه تولیدات په میلیون افغانی** | **١,٣٣٣,٦٩٩** | **١,٤١٦,٤٦٠** | **١,٥٢٨,٦٥٧** | **١,٦٥٥,٨٦٤** | **١,٨٠٠,٥٦٠** | **١,٩٤٣,٣٣٦** |
| **د افغانۍ او ډالرو اسعارو د تبادلې بیه** | **٦٧.٠٠** | **٦٧.٠٠** | **٦٨.٣٤** | **٦٩.٧١** | **٧١.١٠** | **٧٢.٥٢** |

## کورنی ناخالص تولید (GDP)

د کورني ناخالص تولید وده په ۱۳۹۶ (۲۰۱۷) کال کې ۲.۴ سلنه اټکل شوېده چې لامل يې د دويمي سکټور په فعالیتونو کې زیاتوالی (تولیدات او صنایع) دی. ودانيزې چارې او بيا برېښنا، ګاز، اوبه، کانونه او استخراج د صنعتي سکټور د مهمو محرکونو له جملې څخه شمېرل کیږي. د کورني ناخالص تولید وده به په معتدله کچه کې پاتې شي، يعنې په ۱۳۹۷ (۲۰۱۸) کال کې ۳.۱ سلنه او په ۱۴۰۰ (۲۰۲۱) کال کې په تدريجي توګه تر ۴.۴ سلنه به لوړ شي. د افغانستان اقتصادي وده د کرهنې سکټور (په تېره بيا حبوباتو او مېوو) له بابته دی. له هغه ځايه چې نور سکټورونه د پرمختګ په حال کې دي، کرهنه به يو مهم سکټور وي. په ځانګړې توګه د بېوزلو او کليوالو خلکو لپاره د کرهنې سکټور به خورا مهم وي. په کورني ناخالص توليد کې د کرهنيز سکټور ونډه به تر ۱۴۰۰ (۲۰۲۱) کال پورې له ۲۱ سلنې څخه ۲۳ سلنې ته ورسيږي.

اورښتونه، واورې او د کرهنيز سکټور اجراات له يو بل سره نژدې اړيکه لري چې پر کروندو باندې د هېواد تکيه په ګوته کوي. په کرنيزو چارو کې د اوبو لګونې د زياتولو په موخه د للمي کرهنې کموالی، ښايي د کرهنيز سکټور د بې ثباتۍ د له منځه تللو سبب شي او په ورته وخت کې نورو کرهنيزو پروګرامونو ته پراختيا ورو‌بخښي.

په منځ مهاله موده کې د اقتصادي ودې مهمې فرضيې په لاندې ډول دي.

- کرهنيز سکټور په ۱۳۹۴ (۲۰۱۵) کال کې له منفي حالت څخه په ۱۳۹۵ (۲۰۱۶) کال کې مثبت حالت ته وده کړې. په ۱۳۹۷ (۲۰۱۷) کال کې تمه کيږي کرهنه نژدې ۴.۹ سلنه وده وکړي. د هوا حالات مناسب بريښي چې پر کروندو به هېڅ ډول منفي اغېزه ونلري. په همدې ترتيب، په راتلونکو څلورو کلونو کې به د کرهنې بهير په اوسط ډول ۷ سلنه کې ثابت پاتې شي.
- د ساختماني چارو د بياځلي پيل شوونتيا شتون لري. دغه چاره به ثابته وي، خو د سترو پراختيايي پروژو د پراختيا لپاره د دولت ژمنتياوو ته په پام سره به له پخوالي سره مخ شي.
- په ملي لومړيتوب لروونکو پروژو کې عامه پانګونې ته پام کول به په منځ مهاله موده کې په هېواد کې د اقتصادي فعاليتونو د غښتلتيا لامل شي. دولت بايد په منځ مهاله موده کې د تمويلوونکو په مرستو کې د اټکل شوي کموالي له کبله لومړيتوبونه يو

ځل بیا وټاکي او یا هم له لږ اغېز لروونکو پروژو څخه ډېر اغېز لروونکو پروژو ته د پیسو د بیا اختصاص له لارې پانګونې ته وده ورکړي.

***لومړی شکل***




## انفلاسیون

افغانستان تر ډېره بریده پر وارداتي توکو تکیه لرلېدی؛ لـه همـدې کبلـه د توکـو پـه کڅـوړه کـې د وارداتي توکـو د قیمتونـو تغییـر د انفلاسیون د نرخ د حساب لپاره ښودل شوی. د وړاندوینو له مخې، په ۱۳۹۷ (۲۰۱۸) کال کې به انفلاسیون په منځ مهاله مـوده کـې ۴.۷ سلنه ثابت پاتې شي او تر ۱۴۰۰ (۲۰۲۱) کال پورې به ۴،۶ سلنو ته راښکته شي. پـه ۱۳۹۵ (۲۰۱٦) کـال کـې هېـواد تـه د وارد شویو توکو ارزښت تر ٦،٦ میلیارد ډالرو رسېدل؛ خو په ورته وخت کې د صادراتو ارزښت ٦١۴ میلیون ډالره وو. دغـه وړانـدوینې د تېرو تغییراتو د بهیر پر بنسټ ترسره شوي، خو په هغه صورت کې به تغییر وکړي که چېرته د افغانستان د نړیوالـو شریکـانو د مرسـتو کچه له هغه څه څخه چې په منځ مهاله موده کې اټکل شوې، را کمه شي. د تمویلوونکو د مرستو کموالی د نورو بهرنیو اسـعارو پـر وړاندې د افغانۍ د نرخ د راټیټېدو سبب ګرځي، خو دغه تغیر یوازې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ پـر نـرخ ګـډل کـیږي. د وارداتي توکو د بیو د زیاتوالي له امله به کورني قیمتونه لوړ شي او پر بیوزلو، په ځانګړي توګه پر کلیوالو د منفي اغېزې پـه درلودلـو سره به د هغوی له لوري د پیرودلو کچه کمه کړي. د قیمتونو زیاتوالی همدا راز پر ملي بودجې هم منفي پایلې لرلای شي او د ورته اندازې توکو او خدمتونو د پېرودنې لپاره د واقعي پیسو ارزښت راکمیږي، خو په ورته وختکې، د بهرنیو مرستو پاتې اسمي پیسـو پـه کچه کې هم زیاتوالی راځي.

پدغو وړاندوینو کې د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸) کـال پارلمـاني او د ولسـوالیو شـورا ګـانو ټـاکنې او دغـه راز د ۱۳۹۸ (۲۰۱۹) کالولسمشـیزې ټاکنې سمې او سوله ایزې اټکل شوېدي. که چېرته ټاکنې د سیاسي ناخوالو سبب ګرځي، د هېواد اقتصاد بـه د ۱۳۹۳-۹۴ (۲۰۱۴-۱۵) کال په څېر د کورنی تقاضا بې دریغه کموالی تجربه کـړي. دغـه وضـعیت بـه لـه هغـه هـم د ټیـټ انفلاسـیون لامـل شي چې اوسمهال په منځ مهاله موده کې یې اټکل کیږي.

دویم شکل




### د بهرنیو اسعارو د بدلون بیه

د امریکايي ډالرو په وړاندې د افغانی د تبادلې بیه په ۱۳۹٦ (۲۰۱۷) کال کې نژدې ٦۷ افغانی (یو ډالر) ثابت پاتې دی او تمه کیږي چې په ۱۳۹۷ (۲۰۱۸) کال کې تر ٦۸،۳۴ افغانی (یو ډالر) را ټیټ شي. افغانی هر کال نژدې خپل ۲ سلنه ارزښت له لاسه ورکوي. که څه هم چې د اسعارو د بیو ټیټوالی د لا ډېرو صادراتو د سیالی سبب ګرځي، خو افغانستان د اقتصادي تامیناتو د برخې د کمزورتیا له کبله له یو شمېر خنډونو سره مخ دی. د زېربنا او قوانینو په برخه کې د دولت د پانګونې موخه پورته تامیناتي خنډونو ته رسیدګي او دغه راز افغاني سوداګریو او تشبثاتو ته د لارې هوارول دي څو له اقتصادي فرصتونو څخه ګټه پورته کړي. د اسعارو د نرخونو ټیټوالی به پر ملي بودجې هم خپلې منفي اغېزې پرېږدي او د دولت د پېرېدنې د قدرت د راکمېدو لامل وګرځي او ځرنګه چې مخکې یادونه وشوه د مرستو پاتې اسمي پیسو ارزښت به ورسره لوړ شي.

دریم شکل



### د تادیاتو بېلانس

د صادراتو کچه په ۱۳۹٦ (۲۰۱۷) کال کې د نورو کلونو په پرتله نسبتاً لوړه شوې چې دلیل يې پدې وروستیو کې له هندوستان سره د هوايي دهلېز رامنځته کېدل دی چې د افغانستان د صادراتي لرلید د پراختیا سبب شوی. دولت تمه لري چې دغه پرمختګونه به ځو راتلوونکي کلونه دوام ومومي. صادرات هم ښایي د استخراجي صنايعو له زياتوالي سره سم ډېر شي، خو دا لا یو څه وخت ته اړتیا لري.

د اجناسو سوداګریز بېلانس پر صادراتو د وارداتو د نسبت د زیاتوالي له امله کسر ښيي. په داسې حال کې د خدمتونو بېلانس تر یوې کچې پورې له بهر څخه د افغان کورنیو لخوا د پیسو د رالېږدولو په دلیل مازاد په ګوته کوي. په عمومي توګه، د جاري حساب بېلانس لرلید په اوږد مهاله کې د نړیوالو اتکل شوو مرستو د راکمېدو له امله هیله بخښوونکی نه ښکاري. د نړیوالو مرستو له راکمېدو وروسته د جاري حساب د تمویل یواځینی بله سرچینه بهرنۍ مستقیمې پانګونې دي. دا ښایي په استخراجي سکټور کې ترسره شي، خو پرمختللي امنیتي وضعیت، د لوی اقتصاد ثابت لرلید او داسې قانون او امکاناتو ته اړتیا لري چې پانګه والو ته د ټیکاو او ثبات پیلامه شي.

### د سیمه ییز اقتصاد لرلید

په ۱۳۹۵ (۲۰۱٦) کال کې د افغانستان د مهمو سوداګریزو شریکانو اوسطه اقتصادي وده ۴ سلنه وه او دغه فیصدي د وړاندوینو له مخې ښایي په ۱۳۹٦ (۲۰۱۷) او (۲۰۱۸) کلونو کې په ترتیب سره ۳،۸ او ۳،۷ سلنې ته را ټیټه شي. د افغانستان د سوداګریزو شریکانو له منځه، چین او هندوستان په ۱۳۹۵ (۲۰۱٦) کال کې په ترتیب سره ۹،۵ او ۷ سلنه اقتصادي ودې درلودې. په داسې حال کې چې کاناډا او جاپان په ترتیب سره د ۱،۹ او ۱،۲ سلنې سره د اقتصادي ودې تر ټولو ټیټه کچه لرله. تمه کیږي د چین د اقتصادي ودې کچه په ۱۳۹٦ (۲۰۱۷) کال کې ۸،۵ سلنې ته راښکته شي، په داسې حال کې چې هندوستان به عین اندازه زیاتوالی خپل کړي.

سویلي آسیا او مرکزي آسیا د افغانستان له مهمو سوداګریزو شریکانو څخه شمېرل کیږي. په ۱۳۹۴ (۲۰۱۵) کال کې د سویلي آسیا د بین المنطقوي سوداګرۍ ونډه ۵،۲۸ سلنه وه چې د تېر کال په پرتله یو څه لوړه شوې. مرکزي آسیا د ۸،۹۷ سلنه ونډې سره په بین‌المنطقوي سوداګرۍ کې له سویلې آسیا څخه غوره وه. د افغانستان ۷۱ سلنه صادرات په ۲۰۱۵ کال کې د سارک غړو هېوادونو (SAARC) ته صادر شوي او د افغانستان ټولټال وارداتو ۴۷،۸ سلنه برخه هم له همدغو هېوادونو اخیستل شویدي. په ۲۰۱۵ کال کې د افغانستان د ټولټال وارداتو ۱۵ سلنه برخه له سویلي آسیا څخه ترلاسه شوي، خو هغوی یوازې د افغانستان ۷،۷ سلنه صادرات ترلاسه کړيدي.

### د افغانستان د ګاونډیانو اقتصادي لرلید

**هندوستان:** هندوستان په ۱۳۹٦ (۲۰۱۷) کال کې د تورو پیسو د مخنیوي او له فساد سره د مبارزې لپاره یو لړ تجربوي اقدامات ترسره کړل. دغه چاره په لنډ مهاله دوره کې پر پرچون سوداګریو ښایي د پام وړ اغېز ولري. هندوستان ته افغانستان شاوخوا ۳۲ سلنه کلنۍ صادرات لري. خو، د یادو تجربوي اقداماتو له کبله، د بهرنیو توکو په پیرودلو کې د هندوستان د اتباعو له لوري کموالی ښایي د افغانستان پر صادراتو اغیز ولري.

**چين:** تمه کيږي چې د چين اقتصادي وده به په راتلونکو کلونو کې ورو شي او دغه چاره به د توکو پر نړيوالې تقاضا خپلې اغېزې ولري. افغانستان د صادراتو په برخه کې پر چين ډېره تکيه نلري، خو په چين کې د عايد د دوامداره کمښت له کبله ښايي په راتلونکي کې په استخراجي صنايعو د چين د پانگونې احتمال راکم کړي.

**ايران:** ايران په يو لړ مهمو سکټورونو کې (د ساختماني او توليدي صنايعو په گډون) د اقتصادي فعاليتونو د کموالي شاهد دی. د بنديزونو په لېرې کولو سره د پانگونې د پرېکړو ځنډ او په نړيوالو بازارونو کې د توکو د بيو راغورځېدل د دغه هېواد د اقتصاد د راټيټېدو لامل شول. په راتلونکي کې د بنديزونو په لېرې کولو، تمويلي انتخابونو، مالي خدمتونو، نړيوالې سوداگرۍ او پانگونې ته د دغه هېواد لاسرسی ښايي په اقتصادي وده کې د پام وړ زياتوالی راوړي.

**پاکستان:** په پاکستان کې ځينې سکټورونه، د صادراتو په گډون، د خپلو فعاليتونو د راټيټېدو شاهدان وو. په عمومي توگه کليدي لرليدونه – په هغه صورت کې چې د انرژۍ په برخه کې پانگونې او سيمه ايزه سوداگريزه پراختيا له مخکې څخه پلان شوي وي – ښايي مثبت وي. د پاکستاني کلدارو په ارزښت کې هم د افغانی په څېر د پام وړ کموالی راغلی؛ پدې مانا چې پر افغانستان د نورو اسعارو په پرتله د کلدارو پر وړاندې کوچني تاثيرات لري. افغانستان له پخوا څخه د وارداتو په برخه کې پر پاکستان تکيه کوله، خو پدې وروستيو کې له گاونډيو هېوادونو لکه ترکمنستان، قزاقستان، ازبکستان او ايران (چابهار) سره د سوداگريزو لارو په پرانېستلو سره پر پاکستان د افغانستان سوداگريزه تکيه را کمه شوې. پدې وروستيو کې د پاکستان له لوري د پولې تړل له ځينو مېوو پرته د نورو توکو کورنيو توليداتو پر بيو ناځيزه اغېز لرلې.

## مالي ستراتيژي او لرليد

### مالي ستراتيژي

د حکومت د ځان بسیاینې او مالي ټیکاو لپاره د یوه مهمه او هر اړخیزه مالي استراتیژي شتون یو له اساسي او لومړنیو شرطونو ګڼل کیږي. حکومت د اقتصادي پرمختیا او ودې له پاره د خپلو مالي پلانونو جوړولو لپاره پر اوږد مهاله موخو ولاړ منظم سیستم څخه کار اخلي. د افغانستان د سولې او پراختیا په ملي چوکاټ (ANPDF) کې د دولت شامله مالي ستراتیژي د پالیسۍ لپاره لاندې درې فرضیې لري:

۱. حکومت به مالي پالیسي د اقتصادي مدیریت لپاره د یو ډیرې مهمې وسیلې په توګه وکاروي.

۲. دولت به په راتلونکو کلونو کې د افغانستان د عادي او پرمختیایي لګښتونو له پاره ډیر عواید راټول کړي او په تدریج سره به په راتلونکو پنځلسو کلونو کې په پرمختیایي لګښتونو کې هم پر بهرنیو مرستو د اتکا کچه را کمه کړي؛ او

۳. حکومت په منځمهاله او اوږد مهاله کې پرته له بې ثباته پور اخیستلو څخه به خپله بودجه متوازنه کړي. هر ډول پور اخیستنه به مشروط او د پیسو د نړیوال صندوق د هوکړو سره سم وي.

د حکومت مالي ستراتیژي دا ده چې پر ځان بسیا شي. په مالي ټرمینالوژی کې دا د با ثباته وسایلو له لارې د اقتصادي او ټولنیزو اهدافو د لاسته راوړلو په مانا ده: یعنې له ډیرو لګښتونو او ډیرو مرستو څخه ډډه او پر شته سرچینو بسنه کیږي. د دې دندې د ترسره کولو له پاره به دولت د اصلاحاتو اجندا پلي کولو ته لاره پیدا کړي، چې له دې سره به لاندې پنځو برخو باندې تمرکز ډیر شي:

۱. د فساد څخه د مخنیوی، کشف او مبارزې په ګډون د حکومت په ټولو چارو کې د مؤثریت د کچې لوړول؛

۲. د کورنیو عوایدو د کچې لوړول؛

۳. د اغیزمنه او کم خطره پانګونې لپاره د مشروطو پورونو او ابتکاري وجوهو ترلاسه کول؛

٤. له مرستو اغیزمنه ګټه اخیستنه او په اړه یې ځواب ورکول؛

۵. او په راتلونکي کې د لومړیتوب پربنسټ د پالیسیو تنظیم او د مالي اجراآتو لاښه کول.

### اقتصادي او مالي موخې

حکومت لنډمهاله او منځماله موخې ټاکلې څو د اړینو پانګونو په پیژندنه کې د بودجې جوړونې په بهیر کې مرسته وکړي.

لاندې درې موخې د بودجې جوړونې د پروسې لپاره ګټورې بلل کیږي:

۱. تر ۲۰۲۰ زیږدیز کاله پورې پنځه سلنه کلنی وده؛

۲. په منځمهاله کې هر کال د پوهنې او روغتیا د خدمتونو د وړاندې کولو سره د پرمختیایي بودجې په لګښتونو کې له ۱۰-۱۵ سلنه زیاتوالی؛

۳. د کورنیو عوایدو تر ۱۲ سلنه کلني زیاتوالي او تر ۲۰۲۰ کاله پورې د کورنیو عوایدو د ناخالصه کورنیو تولیداتو (GDP) ۱٤ سلنې ته رسول.

### مالي چوکاټ او بودجوي ریفورم

د پورته یادو شویو موخو د لاسته راوړلو له پاره حکومت د بودجې د جوړولو، اجراء کولو او په اړه یې د راپور ورکولو په موخه هراړخیز اصلاحات تر لاس لاندې لري. پدی برخه کې، د تیرې یوې نیمې لسیزې شته ستونزو د پای ته رسولو لپاره د واحدې ملي بودجې جوړول لومړنی گام دی. حکومت دا مني چې ډېر شمېر داسې پروژې هم شته چې لږ مالي انعطاف لري ترڅو هغو پروژو ته بودجه ولېږدول شي چې ښه اجراآت ولري. د (۱۳۹۷) کال بودجه له اړتیا څخه د زیاتې بودجې د تخصیص ستونزه پای ته رسوي، چې د بودجې د اجراء د ټیټې کچې لامل گرځېدلې او د بودجې اعتبار یې تر پوښتنې لاندې راوستې دی. د پروژو او پروگرامونو په پلان جوړونه کې ناکاره تگلارې او انعطاف ناپذیره جوړښتونه چې د کمزورو اجراآتو لروونکو پروژو څخه لوړو اجراآتو لروونکو پروژو ته د بودجې د لېږدولو مخه نیسي د دغو اصلاحاتو سرټکي تشکیلوي.

حکومت مالي چوکاټ په دریو لاندې اړخونو بدل کړي دي:

١. حکومت د لومړي ځل له پاره یوه واحده ملي بودجه وړاندې کړې ده. سره له دې چې پدې برخه کې ډېرو کارونو ته اړتیا ده خو د لومړي ځل له پاره، عادي او پرمختیایي بودجه یوځای چمتو شوې. دغه بودجه دا ځل د اقتصادي کټگوریو، دندو، پروگرامونو او جغرافیایي موقعیتونو پربنسټ د نړیوالو تجربو او معیارونو سره سم چمتو شوې ده.

٢. حکومت د لگښتونو یو مهم منځمهاله چوکاټ تطبیق کړي چې پر بنسټ یې د ۱۳۹۷ مالي کال او درې راتلونکو کلونو له پاره د حقیقي لگښتونو او د پروگرامونو د ارقامو پربنسټ، یو واحده بودجه چمتو کوي؛

٣. او حکومت له راتکونکي کال څخه د بودجې په پروسې کې بدلون راوستې دی ترڅو د بودجې پایلې له ملي لومړیتوبونو سره لاډېر سمون ولري.

د راتلونکي کال له پیل څخه حکومت د بودجې په پروسې کې د اصلاحاتو د راوستلو تمه لري ترڅو په واضحه توگه د اوسنی پالیسی د لگښت د معلومولو او د حفظ او مراقبت د مصارفو د اټکلونو له لارې، لاډېره مالي محدوده رامنځ ته کړي. د څو راتلونکو بودجوي سایکلونه به دغه اصلاح شوې پروسه کې مرسته وکړي څو ټول هغه لگښتونه چې د کورنیو عوایدو او پراختیایي مرستو له لارې تمویلیږي له ملي لومړیتوبونو سره په کلنی بودجه کې د وجوهو د بیاتخصیص له لارې همغږي شي. د بودجې په سایکل کې اوسنی اصلاحات به د بودجې اغیزمنتوب زیات او په ټول هېواد کې د دولت له لوري د محسوسو خدمتونو د وړاندې کولو لړی ښه کړي.

### د لگښتونو منځمهاله چوکاټ او د راتلونکو کلونو اټکلونه

د ۱۳۹۷ کال په بودجه کې یو اساسي او کلیدي ریفورم د بودجې د منځمهاله چوکاټ په بشپړه توگه پلي کول دی. دا په داسې حال کې ده چې د پخوانیو کلونو بودجه به د یوشمیر راتلونکو کلونو له پاره چمتو کیدله چې دغه کار یوازې د مالوماتو د وړاندې کولو او د عمومي ارقامو په کچه وو. د راتلونکو کلونو لپاره د اټکلونو په معرفي کولو سره حکومت په حقیقت کې په راتلونکي بانډې متمرکزه بودجه په پام کې لري چې له دغې تگلارې سره د منځمهاله مودې له پاره پریکړې نیول کېږي نه د یو کال له پاره. په دغه

بودجه کې د ۱۳۹۷ کال بودجه او د راتلونکو درېيو کلونو له پاره د اټکلونو سره يوځای چمتو شوې چې د لګښتونو پر حقيقي اټکلونو، د پروګرامونو پارامترونو، د تمويل کوونکو ژمنو او اقتصادي بدلونونو باندې ولاړه ده. د راتلونو کلونو اټکلونه په حقيقت کې د اوسنيو لګښتونو يو جامع اټکل دی او شته بودجوي محدوديتونو ته په پام کې نيولو سره جوړ شوي دي. دغه بودجه د ۹۵ سلنې اجرا په موخه چمتو شوې ده.

د يو شمير کلونو په وړاندوينه کې يوشمير ځانګړتياوې شتون لري چې هغه له پخوانيو وړاندوينو څخه جلا کوي. لومړی دا چې د ۱۳۹۷ کال او د راتلونکو درېيو کلونو له پاره د وزارتونو او مصرفي واحدونو له پاره مالي تامين رامنځته کوي. دا پدې مانا ده چې که چيرته دولت په خپلو پاليسيو کې بدلون رامنځته نه کړي نو وزارتونه او نور بودجوي واحدونه هر کال د بودجې تصويب ته اړتيا نه لري. د راتلونکو کلونو وړاندوينه به په ډيره آسانی سره د راتلونکي کال د تخمين شوې بودجې په توګه ومنل شي. خو دا پدې مانا نه ده چې د تصويب يو اوتومات سيستم به رامنځته کيږي، بلکې دا مانا لري چې سربېره پر دې چې د يو څو کلن پروګرام يا پروژې باندې پريکړه شوې خو کلنی بودجه دولت ته اجازه ورکوي چې خپلو پاليسيو ته بياکتنه وکړي او په هغې کې بدلون راولي او بيا پارلمان هم همدغه بدلونونه تصويب کړي.

د راتلونکو څو کلونو وړاندوينه د وزارتونو/بودجوي واحدونو او پلي کوونکو ادارو ته د څو کلنو پروژو او پروګرامونو په اړه د ډاډ په مانا ده. همدارنګه د کلنی بودجې د چمتو کولو په پروسه کې پر نويو پاليسيو باندې ټينګار کوي. د بودجې د چمتو کولو پرمهال د وړانديزونو د کميدو سره به حکومت د بودجې چمتو کولو پرمهال د پروژو/پروګرامونو تنظيم لپاره او له ملي پاليسيو سره د هغوی د همغږيتوب مسألې ته به ډيرې سرچينې ځانګړې کړي.

د راتلونکو کلونو لپاره بودجوي اټکلونه به د اداري فساد په کمولو کې هم مرسته وکړي. د پاليسی پر ښه کولو او بدلولو د تمرکز او د مالي محدودې د رامنځ ته کولو او ډکولو په اړه د مذاکراتو د محدودولو لـه لارې، حکومت پـه هڅه کـې دی تـر څـو د بودجه جوړونې او د فعاليتونو د پلې کولو پر وخت د فساد مخه ونيسي.

د ۱۳۹۷ کال بودجه د دې پروسې لومړنی ګام بلل کيږي. په داسې حال کې چې د څو راتلونکو کلونو لـه پـاره وړاندوينـه د شته مالوماتو پربنسټ ترسره کيږي، په راتلونکو څو کلونو کې به حکومت د شته پاليسيو فرضيو تـه بيـا کتنـه وکـړي او هغـه فعاليتونـه حذفوي چې ضعيف اجراآت لري او ياهم لومړيتوب نه لري. دا پدې مانا ده چې حکومت بـه د سـولې او پرمختيـا د چوکـاټ سره سم د نويو پروګرامونو د بشپړولو له پاره صرفه جويانه اقدامات وکړي. د ۱۳۹۷ مالي کال پيـل سره بـه وزارتونـه مکلـف وي ترڅـو د نويو سرچينو د وړانديز پرمهال خپل کاري ساحه کې د منابعو د سپما په اړه هم خپل وړانديزونه مطرح کړي. دا د "ويې کاروه او يـا يې له لاسه ورکړه" (use it or lose it) مقوله باندې مشهور ده او په ډيرو هيوادونـو کـې د مـالي اصـل او قاعـدې پـه توګـه کـارول کيږي، ترڅو د ضعيفو اجراآتو لرونکو فعاليتونو او يا د کم لومړيتوب لرونکو فعاليتونو څخه بودجه د ښه اجراآتو لرونکي فعاليت او ياهم د ډير لومړيتوب لرونکي فعاليت ته انتقال شي.

لدې امله چې د نړيوالو همکارانو د ژمنو کميدو سره بودجه له يو لړ محدوديتونو سره مخ کيږي، نو مالي ډسپلين ډير زيات ارزښت پيدا کوي. حکومت هم پدې برخه کې اړ دی ترڅو په لږو سرچينو ډير کارونه ترسره کړي.

د عامه پانګونې څخه د ترلاسه کېدونکو پایلو پیاوړي کولو ته په پام سره، حکومت د ۱۳۹۷ کال په منځ کې د اصلاحاتو د پروسې د ګړندي کولو په موخه یولړ اقدامات ترسره کوي. د تېرو کلونو پرخلاف چې د ۱۳۹۷ کال په منځ کې د بودجې یوه ارزونه کېدله، حکومت به وزارتونو او بودجوي واحدونو ته د امر په صادرولو سره له هغوی غوښتنه وکړي ترڅو د ملي لومړیتوبونو سره سم خپل وړاندیزونه نهایي او په بشپړ ډول یې قیمت ګذاري کړي. دا پروسه به د ۱۳۹۸ کال له پاره د بودجې جوړونې ترڅنګ ترسره کېږي.

### مالي لرلید – مالي محدودیتونه

د ۱۳۹۷ کال بودجه منځمهاله لرلید وړاندې کوي. د راتلونکو کلونو وړاندوینه د موجوده پالیسیو پربنسټ د راتلونکو څلورو کلونو په اړه یوه معتبره وړاندوینه وړاندې کوي. تمه کېږي چې د کورنیو عوایدو صعودي سیر دوام ولري او هر کال ۱۰ سلنه لوړ شي او د افغاستان د سولې او پرمختیا د چوکاټ د اوږدمهالو موخو سره سم، په ۱۴۰۰ کال کې د کورنیو ناخالصو عوایدو ۱۲ سلنې ته ورسېږي. که څه هم د پام وړ مالي ستونزې به شتون ولري خو په راتلونکو څلورو کلونو کې به د نړیوالې ټولنې او نړیوالو همکارانو د ژمنو یوه مهمه او زیاته برخه پای ته ورسیږي.

تمه ده چې د راتلونکو اټکل شویو کلونو په اوږدو کې به د نړیوالو همکارانو پرمختیایي مرستې نزولي سیر ولري. د وارسا او بروکسل کنفرانسونو ژمنې به د (۱۳۹۸-۹۹ (۲۰۱۹-۲۰) په کلونو کې پای ته ورسیږي. پداسې حال کې چې د دغو مرستو د راتلونکي په اړه د افغانستان د حکومت او نړیوالو همکارانو ترمنځ به خبرې وشي، د راتلونکو له پاره وړاندوینې د مرستو د اوسني وضعیت په اړه بې باوري منعکسوي.

ځلورم جدول: د بودجې مجموعي ارقام

| کال | ۱۳۹۵ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لګښتونه | منظور شوی بودجه | حقيقي اټکل | بودجه | وړاندوينه | وړاندوينه | وړاندوينه |
| الف. د عملیاتي فعالیتونو څخه نغدي رسیدونه (عواید) | ۳۵۱,۸۴۵,۹۶۴,۸۷۰ | ۴۱۶,۷۰۸,۹۳۰,۹۱۶ | ۳۸۱,۹۲۸,۱۱۵,۲۹۵ | ۳۵۷,۲۶۱,۱۴۰,۵۱۰ | ۳۵۵,۰۰۸,۲۷۰,۸۸۲ | ۳۵۰,۰۰۲,۵۵۲,۶۱۳ | ۲۸۵,۳۴۲,۵۹۵,۷۷۷ |
| مالیات | ۹۹,۲۲۷,۳۳۲,۰۴۳ | ۱۰۴,۹۹۷,۶۹۹,۵۱۹ | ۱۰۶,۷۰۲,۰۲۵,۸۸۷ | ۱۲۱,۹۱۴,۴۵۱,۴۰۹ | ۱۲۷,۷۷۹,۱۸۸,۳۲۴ | ۱۳۶,۳۳۳,۳۲۳,۵۴۶ | ۱۴۵,۲۹۵,۰۳۸,۳۹۳ |
| ټولنيز ونډه | ۴,۰۶۴,۵۵۱,۴۹۸ | ۶,۹۹۷,۹۶۸,۸۸۷ | ۳,۸۷۷,۲۰۷,۵۸۸ | ۳,۹۷۸,۲۷۵,۲۰۳ | ۴,۱۰۲,۷۱۴,۲۶۱ | ۴,۲۱۶,۱۴۲,۰۶۳ | ۴,۳۱۹,۹۶۷,۶۴۷ |
| کومکونه | ۲۱۱,۹۱۵,۶۶۳,۱۷۵ | ۲۵۶,۱۴۷,۷۵۸,۱۹۱ | ۲۲۸,۸۷۶,۴۵۲,۹۲۷ | ۱۸۷,۷۸۸,۸۵۱,۳۳۰ | ۱۷۸,۱۸۳,۶۵۲,۲۳۱ | ۱۶۳,۲۶۷,۸۳۹,۰۰۰ | ۸۸,۴۰۴,۹۹۶,۲۰۲ |
| نور رسیدونه (عواید) | ۳۶,۶۳۸,۴۱۸,۱۵۵ | ۴۸,۵۶۵,۵۰۴,۳۱۹ | ۴۲,۴۷۲,۴۲۸,۸۹۳ | ۴۳,۵۷۹,۵۶۲,۵۶۸ | ۴۴,۹۴۲,۷۱۶,۰۶۵ | ۴۶,۱۸۵,۲۴۸,۰۰۳ | ۴۷,۳۲۲,۵۹۳,۵۳۴ |
| ب. د عملیاتي فعالیتونو لپاره نغدی ورکړه | ۲۸۶,۸۵۱,۹۱۹,۳۶۴ | ۴۲۲,۰۴۴,۳۷۹,۹۸۴ | ۲۷۸,۵۲۸,۲۶۴,۲۷۳ | ۲۹۱,۰۹۲,۵۶۲,۴۵۳ | ۲۹۴,۲۰۰,۸۳۹,۱۱۱ | ۲۹۵,۶۸۹,۸۳۹,۷۴۴ | ۲۹۴,۵۲۵,۱۳۹,۵۶۸ |
| د کارکونکو امتیازات | ۱۶۴,۶۲۱,۰۲۷,۹۰۶ | ۱۷۳,۲۵۰,۰۹۳,۲۹۵ | ۱۷۶,۹۶۸,۴۲۵,۰۰۶ | ۱۷۵,۲۸۶,۴۵۳,۰۹۰ | ۱۸۰,۷۰۲,۴۲۰,۴۶۴ | ۱۸۵,۶۷۳,۲۳۱,۰۶۹ | ۱۹۰,۲۴۵,۵۷۰,۲۶۵ |
| د اجناسو او خدماتو پیرودل | ۸۲,۴۳۹,۶۰۷,۶۶۸ | ۳۴,۳۸۸,۷۱۳,۲۰۷ | ۶۷,۷۵۱,۲۴۱,۵۸۴ | ۶۶,۱۸۹,۳۵۴,۳۲۶ | ۶۵,۷۵۸,۱۵۰,۰۵۴ | ۶۲,۲۶۴,۱۶۶,۹۸۸ | ۵۶,۸۸۵,۹۶۱,۰۰۷ |
| ګټي | ۵۸۰,۴۷۰,۹۷۵ | - | ۴۴۶,۳۱۳,۳۶۰ | ۱,۸۰۲,۸۵۰,۰۰۰ | ۱,۸۰۲,۸۵۰,۰۰۰ | ۱,۸۰۲,۸۵۰,۰۰۰ | ۱,۸۰۲,۸۵۰,۰۰۰ |
| سبسایدی ها | ۱,۴۰۰,۰۰۰,۰۰۰ | - | ۱,۴۵۱,۰۴۷,۹۲۱ | (۲,۰۵۵,۸۵۵) | (۱,۹۴۷,۰۸۷) | (۱,۶۳۳,۴۰۲) | (۱,۱۹۵,۴۴۷) |
| کومکونه | ۵۵۱,۴۰۲,۱۱۴ | - | ۳۲۲,۲۱۸,۳۳۷ | ۸۳,۸۷۳,۶۲۹ | ۷۹,۴۳۶,۱۷۳ | ۶۶,۶۳۸,۶۵۰ | ۴۸,۷۷۱,۱۹۷ |
| ټولنيز ونډه | ۲۲,۵۲۲,۷۱۹,۷۶۱ | - | ۲۳,۹۷۶,۸۱۹,۶۱۹ | ۲۲,۱۰۷,۰۰۶,۲۷۸ | ۲۲,۷۷۸,۵۳۵,۹۰۷ | ۲۳,۳۶۵,۸۸۹,۴۵۵ | ۲۳,۸۸۶,۱۱۷,۹۶۳ |
| نوري ورکړې | ۱۴,۷۳۶,۶۹۰,۹۴۰ | ۲۱۴,۴۰۵,۵۷۳,۴۸۲ | ۷,۶۱۲,۱۹۸,۴۴۶ | ۲۵,۶۲۵,۰۸۰,۹۸۴ | ۲۳,۰۸۱,۳۹۳,۵۹۹ | ۲۲,۵۱۸,۶۹۶,۹۸۴ | ۲۱,۶۵۷,۰۶۴,۵۸۳ |
| د عملیاتي فعالیتونو څخه خالصه نغدی داخلي جریان (الف-ب) | ۶۰,۷۳۱,۶۳۸,۰۲۶ | ۱۰,۹۵۷,۵۹۵,۱۳۹ | ۱۰۳,۳۹۹,۸۵۱,۰۲۲ | ۶۶,۱۶۸,۵۷۸,۰۵۷ | ۶۰,۸۰۷,۴۳۱,۷۷۲ | ۵۴,۳۱۲,۷۱۲,۸۶۹ | (۹,۱۸۲,۵۴۳,۷۹۱) |
| ج.په غیر مالي شتمنیو د پانګه اچونی نغدی جریان | ۵۳,۳۹۵,۱۸۶,۸۴۸ | ۷,۳۴۸,۳۰۴,۸۳۱ | ۶۱,۲۷۹,۴۲۹,۸۸۰ | ۵۳,۶۹۴,۹۴۹,۰۸۴ | ۵۱,۸۸۷,۶۹۳,۸۵۴ | ۴۵,۹۱۸,۱۴۲,۵۱۹ | ۳۷,۴۱۵,۳۵۸,۲۰۳ |
| ج. ۱ د غیر مالي شتمنیو اخیستل | ۵۴,۴۹۵,۹۰۳,۰۱۷ | ۷,۳۴۸,۳۰۴,۸۳۱ | ۶۱,۳۲۹,۲۱۱,۲۰۲ | ۵۳,۷۴۳,۵۹۵,۷۲۹ | ۵۱,۹۳۷,۸۶۲,۱۵۰ | ۴۵,۹۶۹,۶۹۷,۸۱۸ | ۳۷,۴۶۸,۱۸۳,۰۸۹ |
| ثابته شتمنی | ۵۳,۵۴۷,۶۹۹,۶۰۰ | ۷,۱۸۸,۵۰۴,۸۳۱ | ۶۰,۸۷۸,۴۵۷,۳۲۷ | ۴۸,۷۱۲,۵۲۵,۶۰۱ | ۴۶,۷۵۱,۷۶۰,۹۴۰ | ۴۰,۶۴۵,۱۸۳,۲۲۷ | ۳۲,۰۱۹,۰۱۰,۸۳۹ |
| موجودی | - | - | - | - | - | - | - |
| اشیا بهادار | ۳,۸۳۹,۱۲۸ | ۵۰۰,۰۰۰ | ۵۷۵,۰۱۳ | ۴۰۶,۳۸۵ | ۴۱۹,۰۹۷ | ۴۳۰,۶۸۴ | ۴۴۱,۲۹۰ |
| ناتولید شوي شتمنی | ۹۴۴,۳۶۴,۲۸۹ | ۱۵۹,۳۰۰,۰۰۰ | ۴۵۰,۱۷۸,۸۶۲ | ۵,۰۳۰,۶۶۳,۷۴۳ | ۵,۱۸۵,۶۸۲,۱۱۲ | ۵,۳۲۴,۰۸۳,۹۰۷ | ۵,۴۴۸,۷۳۰,۹۶۱ |
| ج. ۲ فروش دارایی های غیر مالی | ۱,۱۰۰,۷۱۶,۱۶۹ | - | ۴۷,۴۱۰,۷۸۳ | ۴۸,۶۴۶,۶۴۵ | ۵۰,۱۶۸,۲۹۵ | ۵۱,۵۵۵,۲۹۹ | ۵۲,۸۲۴,۸۸۶ |
| جریان خالص وجوه نقد به بیرون از سرمایگذاری روی دارایی های غیر مالی (ج.۱- ج.۲) | - | ۷,۳۴۸,۳۰۴,۸۳۱ | ۶۱,۲۳۲,۰۱۹,۰۹۷ | ۵۳,۵۶۶,۳۰۲,۴۳۹ | ۵۱,۸۳۷,۵۲۵,۵۵۹ | ۴۵,۸۶۶,۵۸۷,۲۲۰ | ۳۷,۳۶۲,۵۳۳,۳۱۷ |
| | ۱۱,۵۹۸,۸۵۸,۶۵۹ | (۱۲,۶۸۳,۷۵۳,۹۰۰) | ۴۲,۱۲۰,۴۲۱,۱۴۲ | ۱۲,۴۷۳,۶۲۸,۹۷۳ | ۸,۹۱۹,۷۳۷,۹۱۷ | ۸,۳۹۴,۵۷۰,۳۵۰ | (۴۶,۵۹۷,۹۰۱,۹۹۵) |
| د. د نغدی وجوه پرته د خالصو مالي شتمنیو ترلاسه کول | ۲۲,۰۶۱,۱۳۷,۹۳۷ | ۲۱,۰۳۰,۰۰۰ | ۱۹,۷۶۵,۳۲۲,۲۷۱ | ۲۳,۹۵۶,۲۸۱,۹۸۸ | ۲۳,۱۵۸,۱۷۵,۳۶۸ | ۲۰,۸۱۸,۸۰۲,۶۰۵ | ۱۷,۵۴۴,۲۸۶,۴۹۵ |
| کورنی | ۲۲,۰۶۱,۱۳۷,۹۳۷ | ۲۱,۰۳۰,۰۰۰ | ۱۹,۷۶۵,۳۲۲,۲۷۱ | ۲۳,۹۵۶,۲۸۱,۹۸۸ | ۲۳,۱۵۸,۱۷۵,۳۶۸ | ۲۰,۸۱۸,۸۰۲,۶۰۵ | ۱۷,۵۴۴,۲۸۶,۴۹۵ |

| کال | ۱۳۹۵ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لګښتونه | منظور شوی بودجه | حقيقي اټکل | بودجه | وراندوینه | وراندوینه | وراندوینه |
| د لګښتونو پیشکي | ۶,۳۳۳,۸۵۶,۲۶۶ | ۲۱,۰۳۰,۰۰۰ | ۹,۷۷۳,۸۹۷,۷۲۳ | ۶,۱۰۸,۴۱۳,۰۶۸ | ۵,۸۱۴,۰۰۴,۶۶۴ | ۴,۹۴۳,۸۵۵,۴۰۳ | ۳,۷۲۴,۲۹۹,۱۹۶ |
| سرمایوی پیشکي | ۵,۴۷۰,۵۷۲,۶۷۱ | - | ۹,۹۹۰,۵۳۴,۵۶۵ | ۹,۹۴۶,۹۸۶,۳۱۴ | ۹,۴۴۳,۲۶۰,۴۹۱ | ۷,۹۷۴,۰۱۱,۸۲۳ | ۵,۹۱۹,۰۲۸,۸۸۶ |
| د دولتي تصديو د ونډي خرڅلاو | ۱۰,۲۵۶,۷۰۹,۰۰۰ | - | ۸۶۰,۱۸۴ | ۷,۹۰۰,۸۸۲,۶۰۶ | ۷,۹۰۰,۹۱۰,۲۱۴ | ۷,۹۰۰,۹۳۵,۳۷۹ | ۷,۹۰۰,۹۵۸,۴۱۳ |
| ر.د خالصو مقروضیتونو(بدهی ها)تحمیل | (۱,۰۳۴,۵۲۵,۹۳۶) | ۲,۶۵۴,۷۸۷,۲۷۵ | (۱,۴۲۸,۰۷۰,۰۱۲) | ۱,۵۴۷,۷۰۰,۰۰۰ | ۱,۴۶۵,۸۱۶,۶۹۸ | ۱,۲۲۹,۶۶۷,۰۶۴ | ۶۱۴,۸۳۳,۵۳۲ |
| بهرنی | (۱,۰۳۴,۵۲۵,۹۳۶) | ۲,۶۵۴,۷۸۷,۲۷۵ | (۱,۴۲۸,۰۷۰,۰۱۲) | ۱,۵۴۷,۷۰۰,۰۰۰ | ۱,۴۶۵,۸۱۶,۶۹۸ | ۱,۲۲۹,۶۶۷,۰۶۴ | ۶۱۴,۸۳۳,۵۳۲ |
| د بهرنیو پورونو بیرته ورکړه | (۱,۰۳۴,۵۲۵,۹۳۶) | - | (۱,۴۲۸,۰۷۰,۰۱۲) | - | - | - | - |
| نوی بهرنی پورونه | - | ۲,۶۵۴,۷۸۷,۲۷۵ | - | ۱,۵۴۷,۷۰۰,۰۰۰ | ۱,۴۶۵,۸۱۶,۶۹۸ | ۱,۲۲۹,۶۶۷,۰۶۴ | ۶۱۴,۸۳۳,۵۳۲ |
| | (۲۳,۰۹۵,۶۶۳,۸۷۳) | ۲,۶۳۳,۷۵۷,۲۷۵ | (۲۱,۱۹۳,۳۹۲,۲۸۲) | (۲۲,۴۰۸,۵۸۱,۹۸۸) | (۲۱,۶۹۲,۳۵۸,۶۷۱) | (۱۹,۵۸۹,۱۳۵,۵۴۰) | (۱۶,۹۲۹,۴۵۲,۹۶۳) |
| | | | (۳,۰۲۷,۰۲۸,۸۵۹) | ۱۷,۹۰۰,۰۰۰,۰۰۰ | ۷,۹۶۵,۰۴۶,۹۸۵ | (۴,۸۰۷,۵۷۳,۷۶۹) | (۱۶,۰۰۲,۱۳۸,۹۵۹) |
| | | | ۱۷,۹۰۰,۰۰۰,۰۰۰ | ۷,۹۶۵,۰۴۶,۹۸۵ | (۴,۸۰۷,۵۷۳,۷۶۹) | (۱۶,۰۰۲,۱۳۸,۹۵۹) | (۷۹,۵۲۹,۴۹۳,۹۱۷) |
| | | | ۱۰,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰ | ۱۰,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰ | ۱۰,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰ | ۱۰,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰ | ۱۰,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰ |
| | | | | | | | |
| **۱عواید** | **۳۶۴,۰۹۸,۲۴۱,۴۳۵** | **۴۱۶,۷۰۸,۹۳۰,۹۱۶** | **۳۸۱,۹۷۶,۳۸۶,۲۶۲** | **۳۴۹,۴۱۰,۶۶۹,۷۶۱** | **۳۴۷,۱۵۹,۳۴۹,۳۹۱** | **۳۴۲,۱۵۵,۰۴۳,۲۹۰** | **۲۷۷,۴۹۶,۳۷۹,۰۷۵** |
| مالیاتي عواید-۱۱ | ۷۰,۵۸۹,۹۳۲,۵۱۴ | ۷۱,۱۹۸,۱۳۲,۶۲۴ | ۷۲,۶۷۶,۸۵۱,۳۹۶ | ۸۳,۶۵۲,۹۲۶,۷۸۰ | ۸۹,۳۶۲,۹۴۰,۳۵۰ | ۹۶,۱۱۲,۴۵۶,۵۶۳ | ۱۰۳,۵۵۷,۵۱۹,۶۵۵ |
| ګمرکي محصولات او فیسونه-۱۲ | ۲۸,۶۳۷,۳۹۹,۵۲۸ | ۳۳,۷۹۹,۵۶۶,۸۹۶ | ۳۴,۰۲۵,۱۷۴,۴۹۲ | ۳۸,۲۶۱,۵۲۴,۶۳۰ | ۳۸,۴۱۶,۲۴۷,۹۷۴ | ۴۰,۲۲۰,۸۶۶,۹۸۳ | ۴۱,۷۳۷,۵۱۸,۷۳۸ |
| غیر مالیاتي عواید-۱۳ | ۳۲,۳۹۹,۶۷۷,۴۱۲ | ۳۹,۴۲۸,۷۳۰,۲۷۸ | ۳۱,۹۷۴,۸۵۱,۱۳۵ | ۳۲,۸۰۸,۳۴۳,۲۴۷ | ۳۳,۸۳۴,۵۷۶,۷۶۵ | ۳۴,۷۷۰,۰۰۱,۸۱۱ | ۳۵,۶۲۶,۲۳۸,۵۵۱ |
| ۱۴ متفرقه عواید | ۵,۱۳۳,۵۹۲,۱۳۹ | ۹,۱۳۶,۷۷۴,۰۴۱ | ۱۰,۴۹۷,۵۷۷,۷۵۸ | ۱۰,۷۷۱,۲۱۹,۳۲۱ | ۱۱,۱۰۸,۱۳۹,۲۹۹ | ۱۱,۴۱۵,۲۴۶,۱۹۱ | ۱۱,۶۹۶,۳۵۴,۹۸۳ |
| د غیر سیال شتمنیو خرڅلاو-۱۵ | ۱۱,۳۵۷,۴۲۵,۱۶۹ | - | ۴۸,۲۷۰,۹۶۷ | (۷,۸۵۰,۴۷۰,۷۴۸) | (۷,۸۴۸,۹۲۱,۴۹۱) | (۷,۸۴۷,۵۰۹,۳۲۲) | (۷,۸۴۶,۲۱۶,۷۰۱) |
| تولنیز ونډه-۱۷ | ۴,۰۶۴,۵۵۱,۴۹۸ | ۶,۹۹۷,۹۶۸,۸۸۷ | ۳,۸۷۷,۲۰۷,۵۸۸ | ۳,۹۷۸,۲۷۵,۲۰۳ | ۴,۱۰۲,۷۱۴,۲۶۱ | ۴,۲۱۶,۱۴۲,۰۶۳ | ۴,۳۱۹,۹۶۷,۶۴۷ |
| بلاعوضه مرستي-۱۹ | ۲۱۱,۹۱۵,۶۶۳,۱۷۵ | ۲۵۶,۱۴۷,۷۵۸,۱۹۱ | ۲۲۸,۸۷۶,۴۵۲,۹۲۷ | ۱۸۷,۷۸۸,۸۵۱,۳۳۰ | ۱۷۸,۱۸۳,۶۵۲,۲۳۱ | ۱۶۳,۲۶۷,۸۳۹,۰۰۰ | ۸۸,۴۰۴,۹۹۶,۲۰۲ |
| **لګښتونه-۲** | **۳۵۴,۱۸۶,۷۷۷,۲۵۴** | **۳۷۲,۷۳۲,۵۶۴,۰۴۵** | **۳۶۱,۰۴۹,۹۷۷,۷۷۵** | **۳۵۴,۵۷۵,۴۴۳,۰۶۶** | **۳۵۷,۴۱۹,۲۰۱,۵۴۸** | **۳۵۱,۲۴۱,۳۱۴,۵۴۸** | **۳۳۹,۱۹۵,۰۴۷,۹۵۱** |
| د مزد او معاشونو لګښتونه -۲۱ | ۱۶۴,۶۲۱,۰۲۷,۹۰۶ | ۱۷۳,۲۵۰,۰۹۳,۲۹۵ | ۱۷۶,۹۶۸,۴۲۵,۰۰۶ | ۱۷۵,۲۸۶,۴۵۳,۰۹۰ | ۱۸۰,۷۰۲,۴۲۰,۴۶۴ | ۱۸۵,۶۷۳,۲۳۱,۰۶۹ | ۱۹۰,۲۴۵,۵۷۰,۲۶۵ |
| ۲۲ اجناس او خدمات | ۱۰۳,۵۱۰,۱۵۴,۸۷۵ | ۱۹۲,۱۳۴,۱۶۵,۹۱۹ | ۸۵,۱۳۷,۳۳۷,۷۵۳ | ۹۱,۶۰۶,۷۳۳,۸۸۰ | ۹۰,۶۷۶,۷۸۳,۴۵۰ | ۸۶,۳۹۰,۶۲۹,۱۳۵ | ۷۹,۸۲۵,۷۲۱,۹۹۸ |
| ۲۳ ګټي او د پورونو بیرته ورکړه | ۱,۶۱۴,۹۹۶,۹۱۱ | - | ۱,۸۷۴,۳۸۳,۳۷۲ | ۱,۸۰۲,۸۵۰,۰۰۰ | ۱,۸۰۲,۸۵۰,۰۰۰ | ۱,۸۰۲,۸۵۰,۰۰۰ | ۱,۸۰۲,۸۵۰,۰۰۰ |
| بلا عوضه مرستي او تولنیز منفعتونه ، سبسایدی ګاني-۲۴ | ۲۴,۴۷۴,۱۲۱,۸۷۵ | - | ۲۵,۷۵۰,۰۸۵,۸۷۷ | ۲۲,۱۸۸,۸۲۴,۰۵۲ | ۲۲,۸۵۶,۰۲۴,۹۹۳ | ۲۳,۴۳۰,۸۹۴,۷۰۳ | ۲۳,۹۳۳,۶۹۳,۷۱۳ |
| ۲۵ د شتمنیو تر لاسه کول | ۵۹,۹۶۶,۴۷۵,۶۸۸ | ۷,۳۴۸,۳۰۴,۸۳۱ | ۷۱,۳۱۹,۷۴۵,۷۶۷ | ۶۳,۶۹۰,۵۸۲,۰۴۴ | ۶۱,۳۸۱,۱۲۲,۶۴۰ | ۵۳,۹۴۳,۷۰۹,۶۴۰ | ۴۳,۳۸۷,۲۱۱,۹۷۵ |
| **نور کوډونه** | - | **۵۶,۶۸۱,۱۵۰,۷۷۰** | - | **۶,۳۱۶,۱۱۴,۴۹۸** | **۳,۹۷۶,۷۶۴,۸۶۷** | **۳,۳۳۶,۰۹۰,۲۴۰** | **۲,۴۴۱,۶۰۲,۷۸۸** |
| ۹۸ پراختیایي بودجه | - | ۵,۷۸۴,۶۷۱,۴۶۰ | - | ۶,۳۱۶,۱۱۴,۴۹۸ | ۳,۹۷۶,۷۶۴,۸۶۷ | ۳,۳۳۶,۰۹۰,۲۴۰ | ۲,۴۴۱,۶۰۲,۷۸۸ |
| ۹۹ احتیاطي کوډونه | - | ۵۰,۸۹۶,۴۷۹,۳۱۰ | - | - | - | - | - |

## د ۱۳۹۷ مالي کال بودجه - یو لازمي بودجوي محدودیت

د ۱۳۹۷ کال بودجه ۱۰ میلیارده افغانی کسر لري چې له شته نقدي زیرمو څخه تمویلیږي. له کلونو وروسته ترحد ډېرخوشبینانه بودجه جوړونې څخه، په ۱۳۹۷ مالي کال کې حکومت د بودجې جوړونې لپاره یوه نوې تګلاره غوره کړې ده. د ۱۳۹۷ کال عادي بودجه کې هیڅ ډول زیاتوالی ندی راغلی، خو په اختیاري پراختیایي بودجه کې ۲۲ سلنه زیاتوالی راغلی او غیراختیاري پرمختیایي بودجه د ۱۳۹۶ مالي کال تر آخره پورې د حقیقي لګښتونو اټکل څخه کمه ده، چې په اوسنیو پروژو کې د اغیزمنتوب د لاښه کولو اړتیا څرګندوي.

د حکومت د لګښتونو لپاره دغه محتاطانه تګلاره د لاندې لاملونو له امله دی:

- په تیرو لسو کلونو کې په لګښتونو کې په ځانګړې توګه د عادي بودجې په لګښـتونو کـې د پـام وړ زیـاتوالی راغلـی دی ترڅو د ملکي خدمتونو ضمني لګښتونه تمویل کړي.
- په ملکي خدمتونو کې ډېرې نیمګړتیاوې شتون لري چې باید سم او اصلاح شي.
- په راتلونکي کې باید د بودجې زیاتوالی د مولدیت د زیاتولو له لارې ترسره شي.
- هیڅ داسې ضمانت نشته چې په راتلونکي کې به هم د نړیوالې ټولنې مرستې همداسې دوام ولري. دا فرضیه باید لـه مـوږ سره موجوده وي چې د اجرااتو پربنسټ مرستې به کمې او ترډېره بدلون مومي.
- پر مهمو پرمختیایي پایلو باندې د پانګونې له پاره مالي سرچینې مخ پر کمیدو دي او هرڅومره چې وړیا مرسـتې کمیـږي هغومره پر مالیاتو فشار زیاتیږي.
- حکومت باید په ملي بودجه کې د روغتیـا، ښـوونې او روزنـې او زیربنـا پـر سـکټورونو بانـدې د پـانګونې لـه پـاره مـالي سرچینې پیدا کړي.

پورتنیو ټکو ته په کتو، حکومت په پام کې لري ترڅو یوه معتبره او واحده بودجه وړاندې کړي او لـدې لارې د لـږ ترلـږه ۹۵ سـلنه بودجې د اجراء کولو لارې چارې برابرې کړي.

## د ۱۳۹۸ - ۱۴۰۰ کلونو له پاره وړاندوینه: مالي فشار سره مقابله

د ۱۳۹۸ او ۱۳۹۹ کلونو د وړاندوینو له پاره له ورته محتاطانه تګلارې څخه کار اخیستل شوی او د ۱۳۹۸ کال په لګښـتونو کـې لـږ زیاتوالی راغلی او بیا په راتلونکو کلونو کې د مرستو د کمیدو له امله کموالی راغلی دی. دا پدې مانا ده چې په بودجـوي لګښـتونو کې واقعي زیاتوالی نه راځي خو بیاهم په دواړو یادو شویو کلونو کې اټکل شوي پروژې به کوچني کسر ولـري. دا کسـرونه بایـد د لوړو مالیاتو د راټولولو، د پورونو او یا په لګښتونو کې د سپما له لارې پوره کړل شي. حکومت به د دغو کسرونو د پوره کولو لپـاره صرفه جویانه ګامونه پورته کړي او ملي لومړیتوبونو ته د لګښتونو د تخصیص په اړه به بیاکتنه وکړي.

د ۱۴۰۰ کاله پورې اټکلونه ښیي چې د نړیوالو همکارانو د ژمنو څخه هاخوا، په لومړي کال کې یوه ستره مـالي خـلا رامـنځ تـه کېـږي. سره لدې چې له ۱۳۹۹ څخه وروسته افغانستان لپاره د مرستو ژمنه نشته، خـو تمـه کېـږي چـې د دغـو مرسـتو یـوه برخـه بـه دوام وکـړي. د دې

وړاندوینې په اساس د مرستو کچه به د اوسنیو مرستو نیمایي ته راښکته شي. دا پدې مانا نده چې په راتلونکي کې به دولت د مرستو د دوام او جلب هڅه نه کوي، بلکې پر مرستو د افغانستان اوسنی تکیه څرګندوي. که چېرته د ۱۴۰۰ کال څخه وروسته اوسنی مرستي ۵۰ سلنه هم کموالی ومومي، په شته پالیسی کې له بدلون څخه پرته به په بودجه کې ۶۱ میلیارده افغانی کسر شتون ولري.

دولت هڅه کوي ترڅو مالي محدودیت او سرچینې زیاتې کړي؛ مګر دا کار ستونزمن دی. د عوایدو په اړه په لاندې برخه کې مفصل مالومات وړاندې شوي دي، خو راتلونکو کلونو وړاندوینې پراساس اټکل کېږي ترڅو کورني عواید هر کال په منځنی کچه ۱۰ سلنه لوړ شي. سره لدې چې دا وړاندوینې محتاطانه دي خو په کورنیو عوایدو کې ان تر ۱۵ سلنې زیاتوالی هم په نړیوالو مرستو کې د ۵۰ سلنې کموالی تشه نشي ډکولای.

دا پدې مانا ده چې راتلونکي ملي لومړیتوبونه به په نورو برخو کې د سپما او د مؤثریت د زیاتولو له لارې پلې کیږي. له ۱۳۹۷ مالي کال څخه وروسته به وزارتونه او نورې دولتي ادارې اړ وي چې د نویو پروګرامونو او پروژو د پیل له پاره د سپما وړاندیزونه وکړي. د وخت په تیرېدو سره به د کمزورو اجراآتو لرونکو پروګرامونو او پروژو څخه بودجه د ښه اجراآتو او لومړیتوب لرونکو پروژو او پروګرامونو ته ولیږدول شي او په پایله کې به ښې پایلې لاسته راشي.

### د ۱۳۹۷ بودجې د کال منځ کتنه

| ٥ | امنیت | د ملی امنیت لوی ریاست | ۱۲,۸۳۸,۹۸۳,۰۸۱ | ۱٤,۲٤۹,۸۳۰,۳۳۱ | ۲۰,٥٦٤,٥۱۷,۷۷۹ | ۱٥,۹۷٤,۲۷۷,٦۹۳ | ۱٦,٤٦٤,۱٦۲,٦٥۱ | ۱٦,۸۹۸,٥٦۹,۸۷۹ | ۱۷,۲۸۷,٦۷٥,۳۸٤ |
| ٦ | کلیوال زیربناوی | د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت | ۸,۲۷۷,۷٤۲,۲۳۲ | ۱۳,۲۷۰,٦٤۷,۱۸۷ | ۱٤,۱٤۸,۹۰۰,۱۰۳ | ۱٥,۲۰۹,۱٦۰,٥۳۲ | ۱٤,٤۰٤,٤۹۷,۹٤٤ | ۱۲,۰۸۳,۸٦۸,۸۲۷ | ۸,۸٤۳,۸۸۷,۸۱٤ |
| ۷ | د شهدا او معلولینو چارو پروګرام | د کار او ټولنیزو چارو، شهداء و معلولینو چارو وزارت | ۱٤,٦۳۹,۹۰۹,۱۰٥ | ٤۹,۸۷۸,۰۰۰ | ۱٥,٤۳٤,۷۸۱,۱۹٦ | ۱٥,۰٦۸,۱٤۱,٤٤۳ | ۱٥,٥۳۹,٤٦۷,٦٤٥ | ۱٥,۹٦۹,۰۸۷,٥۳۷ | ۱٦,۳٦۲,۳۳۸,۰۰٥ |
| ۸ | د روغتیایې خدماتو وړاندې کول | د عامې روغتیا وزارت | ۱۱,۹٦۳,۰۸٥,۱٥۷ | ۹,۸۸۲,٦۳۷,۱۳٤ | ۱۳,۸۲۹,٦۱۱,۲٦۷ | ۹,۸٤۳,۸۸۲,٦٦۲ | ۹,٤۲٦,٤۱۳,۱۰۸ | ۸,۱٤٦,۷۰۸,۱٤٤ | ٦,۳٤۳,۲۰۱,٦۱۰ |
| ۹ | زیربناوی | د ټول ګټو وزارت | ۱۳,٦۸۰,۱۸۷,۲۸٦ | ۲۹,٦۹۷,۷۸۲,٥۷٦ | ۱۸,۸۰٥,٦۲۲,۱٦٤ | ۹,٦٦۱,۷٤٥,۸۳۱ | ۹,۱٥٥,۱۳۹,٥٥۰ | ۷,٦۹۰,۷٥٤,٦۱۱ | ٥,٦٤٥,٤۸۸,۷٦۲ |
| ۱۰ | د کار ملاتړ پروګرام | د کار او ټولنیزو چارو، شهداء و معلولینو چارو وزارت | ۷,۳۸٥,۲۸٤,۸٥٤ | ۱,۲۱٥,٤٤۸,٥۲۰ | ۸,۲۸٦,۸۰٦,۹٦۲ | ۷,۹٥۸,۳۱۲,۰۳٤ | ۸,۱٥۲,۷٦۹,۱۱۱ | ۸,۲٦۲,٤۹۱,۲۳۸ | ۸,۳۱٥,٤٥۱,٦۱۰ |
| ۱۱ | افغانستان ته د برقونو ویش | دافغانستان برشنا شرکت | ۱۲,٥٦۰,۳۷۰,٥۹۳ | ۲٥,۲٦۸,٥۰۹,۰٤۲ | ۱۱,٦۱۰,۷٤٦,۹۲۰ | ۷,۰٤٥,۲۷٦,۳٤۷ | ۷,۱٤٦,۰۸۲,٦۱۳ | ٥,۹۹٤,۸۱٦,۷۰٦ | ٤,۳۸۷,٤٥۹,٦۱۰ |

| | پروګرام | وزارت | ۱۳۹۵ حقیقي لګښتونه | ۱۳۹۶ منظور شوی بودجه | ۱۳۹۶ د کال تر پایه پورې حقیقي تخمین | ۱۳۹۷ بودجه | ۱۳۹۸ وړاندوینه | ۱۳۹۹ وړاندوینه | ۱۴۰۰ وړاندوینه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | د لوړو زده کړو سیستمونو اداره او رهبری | د لوړو زده کړو وزارت | ٤,٩٠٦,١٧٩,٢٠٧ | ٥,١٦٩,٠٧٦,٧٢٠ | ٤,٤٢٩,٦٣٨,٧٤٧ | ٥,٦٦٩,٦٤٢,٦١٦ | ٥,٨٤٦,٩٨٧,٠٥٧ | ٦,٠٠٨,٦٣٨,٧٩٥ | ٦,١٥٦,٦٠٥,٩٢٣ |
| ۱۳ | د سیمه ییزی حکومتداری مدیریت | د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره | ٢,٧٤٧,٠٩٥,٩٢٦ | ٤,٧٣٣,٦١١,٢٩٧ | ٣,٣٦١,٧١٧,٦٢٩ | ٥,٦٥٦,٥٩٨,١٩٢ | ٥,٦٨٠,٦٧٤,١٦٤ | ٥,٥١٣,١٣٥,٦٨٣ | ٥,٢٢٦,٥٦٩,٩١١ |
| ۱۴ | مالی او اداری چاری | د بهرنیو چارو وزارت | ٤,٨٨٧,٣٣٥,٤٩٨ | ٥,٧٨٧,٩٥٨,٠٠٢ | ٥,٣٠٠,٦٢٢,٩٣٥ | ٥,٥٧٤,٧٧٦,١١٥ | ٥,٧٠٠,٥٠٧,٠٢٨ | ٥,٧٥٤,٨١١,١٨٣ | ٥,٧٦٢,١٢٥,٥٤٦ |
| ۱۵ | د کرهنی او حاصلاتو تولید | د کرهنی، اوبولګونی او مالداری وزارت | ٤,٠٤٨,٣٩٥,٣٦٧ | ٣,٨٤٠,٣٦٩,٤٧٧ | ٤,٤٢٩,٦٠١,٢١٩ | ٤,٥٩٢,٥٥١,٤١٩ | ٤,٣٩٦,٤٠٨,٥١٤ | ٣,٧٩٦,٤١٤,١٥٥ | ٢,٩٥١,٠٩٦,٧٣٩ |
| ۱۶ | ملاتړ ځواکونه | د دفاع وزارت | ٩,٤٥٠,٣٦٦,٢٠٥ | ٦,٩٠٨,٦١٠,١٧٠ | ٤,٠٧٧,٤٣٠,٦٤٩ | ٤,٤٤١,٥٥٠,٤٠٧ | ٤,٥٨٠,٤٨٠,٥٥٢ | ٤,٧٠٧,١١٧,١٦٦ | ٤,٨٢٣,٠٣٣,٣٧١ |
| ۱۷ | قضایی ملی چاری | ستره محکمه | ٣,٥٣٦,٨١٦,٥٥٠ | ٣,٥١٢,٣٢٣,٢٦٧ | ٣,٣٢٧,٠٣٠,٢٣٢ | ٣,٧٠١,٦٩٤,٣٦٤ | ٣,٨٠٦,٩٨١,٨٧٦ | ٣,٨٨٩,٩٣٦,٨٧٨ | ٣,٩٥٦,٧١٨,٩٣٧ |
| ۱۸ | ولسمشر ته خدمات | د ولسمشری دفتر | - | - | - | ٣,٤٦٠,٠٨٦,٧٠٠ | ٣,٥٥٧,٠٩٨,١١٢ | ٣,٦٣١,٦١٨,٤٥٣ | ٣,٦٩٠,٠٥٣,٥٧٩ |
| ۱۹ | کرنیز اقتصاد او ارزښت ورکونه | د کرهنی، اوبولګونی او مالداری وزارت | ٢,٠٨٥,٧١٧,٣٧٩ | ٣,٥٤٨,٧٠٨,٢٦٧ | ٥,٣٢٣,١٨٣,٢٠٤ | ٣,٤١١,٧٢٦,١٥٣ | ٣,٢٤٧,٨٢٨,٠٣٦ | ٢,٧٦٢,٩٨٠,٦٧٦ | ٢,٠٨٣,٣٤٩,٩٣١ |
| ۲۰ | هوایی ترانسپورتی خدمات | ملکی هوانوردی اداره | ٣,٥١٦,٩٥٢,٠٥٧ | ٤,٢١٠,٩٣٦,٨٠٤ | ٤,٤٤٨,٧٩١,٠٧٥ | ٣,٣٨٤,٤٣٦,٤٨٧ | ٣,٢٣٨,٠٧٦,٥٢٤ | ٢,٧٩٢,٠١٣,٦٣٥ | ٢,١٦٣,٩١١,٥٧٠ |

### د حکومت د دندو پر بنسټ لګښتونه –عادی او پراختیایي

دا برخه د نړیوالو معیارونو سره سم د حکومت لګښتونه د حکومت د مالي احصائیې (GFS) لارښوونې په مطابقت، د فعالیتونو او دندو د طبقه بندۍ یا (COFOG) پر بنسټ توضیح کوي. د دولت د فعالیتونو او وظایفو طبقه بندي (COFOG) د ټولنیزو اقتصادي دندو او موخو تفصیلي طبقه بندي ده چې دولتي مرکزي اداري غواړي د مختلفو برخو د لګښتونو له لارې یې ترلاسه کړي. د بېلګې په توګه روغتیا، پوهنه او ټولنیز خوندیتوب پربنسټ چې عمومي اړتیاوې دي او همدارنګه د تحلیل او ارزونې لپاره ډېر ګټور دي.

که څه هم د تېرو کلونو په بودجو کې د فعالې دندې په هکله مالومات او راپورونه ورکړل شوې خو حکومت د ۱۳۹۷ مالي کال بودجه او د درېیو نورو راتلونکو کلونو اټکلونه عادي او پراختیایي بودجې په تولیز ډول د وظایفو پربنسټ وړاندې کوي، چې دا کار د افغانستان بودجې ته د نړیوالو تجاربو سره مطابقت ورکوي.

### د حکومت د دندو پر بنسټ د لګښتونو لرلید

د حکومت لګښتونه د فعالیتونو او وظایفو پر بنسټ له ۱۳۹۶ – ۱۴۰۰ پورې په لاندې پنځلسم جدول کې ښودل شوي دي.

پنځلسم جدول: د څو کلونو وړاندوینې لپاره د حکومت د دندو پربنسټ توحید شوي لګښتونه

| کال | ۱۳۹۵ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۳۵۴,۱۸۶,۷۷۷,۲۵۴ | ۴۲۹,۴۱۳,۷۱۴,۸۱۵ | ۳۶۱,۰۴۹,۹۷۷,۷۷۵ | ۳۶۸,۷۹۱,۵۵۷,۵۶۴ | ۳۶۹,۲۹۵,۹۶۶,۴۱۵ | ۳۶۲,۴۷۷,۴۰۴,۷۸۸ | ۳۴۹,۵۳۶,۶۵۰,۷۴۰ |
| **۷۰۱۰۰-عامه عمومي خدمتونه** | ۳۹,۲۱۱,۰۸۳,۹۲۴ | ۳۰,۵۵۹,۴۶۳,۶۷۳ | ۳۶,۵۶۰,۷۸۹,۹۱۱ | ۳۰,۴۲۶,۷۶۲,۲۷۶ | ۳۰,۵۷۴,۶۶۶,۹۴۳ | ۲۹,۷۱۳,۰۶۰,۸۱۸ | ۲۸,۲۲۳,۸۹۲,۸۲۴ |
| ۷۰۱۱۰- اجرایي او مقننه، مالي چارو او بهرنیو چارو اورګانونه | ۳۷,۳۱۹,۲۴۵,۴۶۹ | ۲۵,۰۵۰,۵۲۷,۲۱۰ | ۳۳,۳۱۲,۵۸۱,۰۱۲ | ۲۶,۱۵۸,۰۴۹,۹۸۰ | ۲۶,۴۱۲,۶۱۳,۲۵۴ | ۲۵,۹۴۵,۹۵۵,۱۹۵ | ۲۵,۰۲۷,۶۰۷,۹۸۲ |
| ۷۰۱۲۰- بهرني اقتصادي مرستې | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۰۱۳۰-عمومي خدمتونه | ۱,۳۹۵,۷۸۰,۹۷۴ | ۵,۱۴۹,۱۷۰,۶۲۲ | ۲,۵۹۴,۰۳۶,۱۲۶ | ۳,۵۲۳,۳۶۶,۰۸۸ | ۳,۳۹۳,۷۸۳,۲۷۰ | ۲,۹۷۸,۴۲۲,۸۷۹ | ۲,۳۸۹,۲۵۷,۶۰۷ |
| ۷۰۱۴۰-لومړنی څېړنې | ۲۰۴,۳۰۷,۹۷۳ | ۲۵,۲۰۵,۶۰۱ | ۲۳۸,۳۳۷,۵۰۴ | ۲۴۸,۴۶۲,۸۷۹ | ۲۵۵,۸۴۴,۷۵۲ | ۲۶۲,۰۹۰,۰۳۶ | ۲۶۷,۴۶۶,۷۹۷ |
| ۷۰۱۵۰- هغه عمومي عامه خدمتونه چې بل ځای کې طبقه بندي شوي ندي | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۰۱۶۰-هغه عمومي عامه خدمتونه چې بل ځای کې طبقه بندي شوي ندي | ۲۹۱,۷۴۹,۵۰۸ | ۳۳۴,۵۶۰,۲۴۰ | ۴۱۵,۸۳۵,۲۷۰ | ۴۹۶,۸۸۳,۳۳۰ | ۵۱۲,۴۲۵,۶۶۷ | ۵۲۶,۵۹۲,۷۰۷ | ۵۳۹,۵۶۰,۴۳۸ |
| ۷۰۱۷۰- د حکومت مختلفو سطوحو/څانګو ته انتقال | - | - | - | - | - | - | - |
| **۷۰۲۰۰-دفاع** | ۸۵,۸۹۳,۴۰۸,۳۲۴ | ۸۴,۰۶۲,۹۰۳,۹۱۴ | ۸۰,۳۳۲,۴۷۴,۳۳۳ | ۸۰,۹۲۵,۳۸۵,۵۴۸ | ۸۳,۴۳۰,۷۱۰,۶۷۳ | ۸۵,۶۸۲,۱۲۶,۵۱۶ | ۸۷,۷۲۰,۲۹۷,۶۸۰ |
| ۷۰۲۱۰-نظامي دفاع | ۷۰,۸۴۲,۰۱۰,۹۶۰ | ۶۷,۶۷۷,۶۵۴,۵۹۵ | ۵۷,۲۵۷,۰۳۵,۹۰۹ | ۶۲,۳۵۹,۷۰۷,۰۷۲ | ۶۴,۳۰۳,۶۱۶,۷۹۲ | ۶۶,۰۶۷,۲۳۴,۸۷۲ | ۶۷,۶۷۵,۷۳۲,۶۴۸ |
| ۷۰۲۲۰- مدني دفاع | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۰۲۳۰-بهرني نظامي مرستې | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۰۲۴۰- دفاعي برخه کې تحقیق او پراختیا | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۰۲۵۰- هغه دفاع کوم چې بل ځای کې طبقه بندي شوی نه وي | ۱۵,۰۵۱,۳۹۷,۳۶۴ | ۱۶,۳۸۵,۲۴۹,۳۱۹ | ۲۳,۰۷۵,۴۳۸,۴۲۴ | ۱۸,۵۶۵,۶۷۸,۴۷۶ | ۱۹,۰۶۰,۱۶۲,۲۲۱ | ۱۹,۵۲۱,۰۳۷,۶۳۰ | ۱۹,۹۴۸,۳۹۹,۷۹۴ |
| **۷۰۳۰۰- خوندیتوب او عامه نظم** | ۶۷,۲۸۴,۲۸۹,۸۲۰ | ۶۴,۳۴۴,۸۱۸,۴۱۴ | ۶۳,۵۴۸,۹۵۱,۱۶۸ | ۶۶,۹۰۹,۶۵۲,۹۶۷ | ۶۸,۹۳۷,۰۱۰,۴۴۰ | ۷۰,۷۰۳,۷۱۳,۹۷۳ | ۷۲,۲۶۳,۷۳۱,۱۵۴ |
| ۷۰۳۰۰-خوندیتوب او عامه نظم | ۵۹,۰۰۳,۹۷۳,۵۸۷ | ۵۷,۵۶۲,۰۲۸,۲۰۱ | ۵۴,۷۵۲,۹۰۲,۸۵۱ | ۵۷,۹۱۰,۹۹۸,۹۵۸ | ۵۹,۶۸۲,۸۰۳,۹۱۰ | ۶۱,۲۴۸,۷۰۰,۹۳۵ | ۶۲,۶۴۷,۵۰۰,۷۹۴ |
| ۷۰۳۲۰- د اور وژنې خدمتونه | ۸۲۷,۱۷۳,۲۶۲ | ۱۴۴,۶۴۵,۲۸۲ | ۸۲۴,۹۰۴,۶۵۵ | ۱۴۷,۱۱۵,۳۳۶ | ۱۵۱,۷۱۷,۰۵۲ | ۱۵۵,۹۱۱,۵۷۶ | ۱۵۹,۷۵۱,۰۱۲ |
| ۷۰۳۳۰-محاکم | ۶,۰۹۴,۲۲۷,۴۲۴ | ۶,۶۳۸,۱۴۴,۹۳۱ | ۶,۴۹۲,۳۳۹,۳۹۵ | ۷,۲۸۰,۰۶۳,۶۲۳ | ۷,۴۸۱,۸۵۹,۲۳۷ | ۷,۶۳۳,۶۶۵,۶۳۳ | ۷,۷۵۰,۰۳۰,۹۴۳ |
| ۷۰۳۴۰-زندانونه | ۱,۳۵۸,۹۱۵,۵۴۶ | - | ۱,۴۷۸,۸۰۴,۲۶۷ | ۱,۵۷۱,۴۷۵,۰۵۰ | ۱,۶۲۰,۶۳۰,۲۴۰ | ۱,۶۶۵,۴۳۵,۸۲۹ | ۱,۷۰۶,۴۴۸,۴۰۵ |
| ۷۰۳۴۰-زندانونه | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۰۳۶۰- هغه خوندیتوب او عامه نظم کوم چې بل ځای کې طبقه بندي | - | - | - | - | - | - | - |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شوی نه وي | | | | | | | |
| **۷۰۴۰۰-اقتصادي چارې** | ٦٨,٧٩٢,٠٨١,٤٠١ | ١٠٨,٣٠٣,٦٤٠,١٢١ | ٨١,٨٨٥,٦٢٨,٧٠٢ | ٦٤,٦١٤,٧٩٣,٥٥٦ | ٦٢,٠٨١,٥٩٨,٠٥٣ | ٥٤,١٢٧,٠٧٠,٧٥٧ | ٤٢,٨٧٧,٠٦٧,٤٥١ |
| ۷۰۴۱۰- کاري، سوداګریز او اقتصادي عمومي چارې | ٢,٩٣٧,٤٢٢,٨٨٦ | ٤,١٥٨,٢٤٩,٥٦٠ | ٢,٩٦٢,٦٤٨,٠٧٣ | ٣,٦١٥,٧٨٥,٥٢٠ | ٣,٥٦٠,٩٩٦,٢١٥ | ٣,٣٠٢,٩٤٠,٧٨٤ | ٢,٩٢٠,٤٢٣,٤٢٠ |
| ۷۰۴۲۰-کرنه، ځنګلونه، ماهیګیري او ښکار | ١٢,٦٤٩,٣٢٢,٧٣٠ | ١٦,٨١٢,٤١٥,٩٩٨ | ١٩,٦١٨,٥٧٢,٩٢١ | ١٤,٧٦٦,٣٨٣,٤٣٢ | ١٤,١٦٣,٣٥٦,٢٧٢ | ١٢,٢٩٣,٦٣٣,٥٧٨ | ٩,٦٥٤,١٧٢,٢٦٨ |
| ۷۰۴۳۰- سون توکي او انرژي | ١٣,٩٤٤,٦٥٦,٤٤٤ | ٢٩,٥٣٠,٠٨٠,٨٦٢ | ١٢,٧٢١,٥٩٥,٨٨٨ | ٧,٨٢٨,٥٢١,١٤١ | ٧,٤٢٣,٣٧٨,٨٨٢ | ٦,٢٤٨,٣٣٤,٥٩١ | ٤,٦٠٦,٣٠٧,٣٥٤ |
| ۷۰۴۴۰- کان کیندنه، صنعت او ساختمان | ٨١٧,١٩٤,٣٣٨ | ١,٣٢٣,١٩٧,٤٦٤ | ٧١١,٦٧١,٦٧٥ | ٧٤٣,٩٧٢,٠٦٤ | ٧٤٠,١٤٧,٨٤١ | ٧٠٣,٠٧٤,٨٥٥ | ٦٤٥,٥٢٧,٩٨٢ |
| ۷۰۴۵۰-ترانسپورت | ٢٥,٩٦١,٦٦٦,٥٩١ | ٤٣,٣٧٦,٥٧٨,٤٥٦ | ٣٥,١٣٣,٠٢٧,٢٠٧ | ٢٦,٨٤٢,٤٢٠,٣٥٧ | ٢٥,٨٣٢,٢٧٣,٦٠٥ | ٢٢,٦١٨,٥٦٠,٤٥١ | ١٨,٠٦٤,٩٢٣,١٤٧ |
| ۷۰۴۶۰-مخابرات | ١,٠٥٨,٥٤٧,١٣٤ | ٢,٧١٥,٢٢٥,٠٩٧ | ١,٦٢٢,٠١٦,٢٥٣ | ٢,٠٤٥,٣٠٦,٩١٧ | ١,٩٨٨,٤٧١,٤٠٩ | ١,٧٨٦,٩٠٧,٩٥٩ | ١,٤٩٧,١٢٦,٢٢١ |
| ۷۰۴۷۰-نور صنایع | ١٠,٥١٣,٨٧٤,٨٦٤ | ٩,٠٨١,٠٩٢,٨٧٥ | ٨,٤٦١,٣٨٣,٧٢٠ | ٨,٤٩٣,٥٨٠,٠١٨ | ٨,٠٨٩,٧٨٩,٨٧٨ | ٦,٨٩١,٨٦٧,٢١١ | ٥,٢١١,٩٤٨,٠٦٠ |
| ۷۰۴۸۰-اقتصادي چارو کې پراختیا او څېړنه | ٩٠٩,٣٩٦,٤١٤ | ١,٣٠٦,٧٩٩,٨٠٩ | ٦٥٤,٧١٢,٩٦٦ | ٦٢٠,٥٢٤,١٠٦ | ٦٠٦,٨٠٥,٨٢١ | ٥٥٣,٢٣٦,٢٦٣ | ٤٧٥,٣٣٢,١٧٩ |
| ۷۰۴۹۰- هغه اقتصادي چارې کوم چې بل ځای کې طبقه بندي شوی نه وي | - | - | - | - | - | - | - |
| **۷۰۵۰۰-چاپیریال ساتنه** | ٩٠٣,٦٦٦,٩٧٣ | ٧٩٧,٧٤٦,٧١٦ | ٢,١١٥,٦٠١,٠٣٨ | ٢,٢٩٢,١٩٤,٥٠١ | ٢,١٩٠,٨١١,٩٠٦ | ١,٨٨٣,٨٥٠,٣٧٠ | ١,٤٥٢,٠٤٢,٦٢٤ |
| ۷۰۵۱۰-د کثافاتو مدیریت | - | ٢٦,٥١٣,٧٧٦ | - | - | - | - | - |
| ۷۰۵۲۰- د فاضلاب مدیریت | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۰۵۳۰-ککړتیا کموالی | ٥,٧٦٠,٨٥٢ | - | ٥,٨١٥,٥٠٥ | ٦,٨٦٨,٧٢٤ | ٧,٠٨٣,٥٧٥ | ٧,٢٧٩,٤١٥ | ٧,٤٥٨,٦٧٥ |
| ۷۰۵۴۰- د بیولوژیکي تنوع او د ځمکې د طبیعي نما ساتنه | ٨٠٦,٥٦٣,٢٠٤ | ١٧٥,٦٣٦,٠٠٠ | ٢,٠٣٧,٧٦٣,٦١٣ | ٢,٢٠٤,٢٥٧,١٣٣ | ٢,١٠٠,٢٧٣,٥٢١ | ١,٧٩١,١٢٦,٦٠٦ | ١,٣٥٧,٤٤٨,٨٨٣ |
| ۷۰۵۵۰-انکشاف و تحقیق در بخش مصئونیت محیطی | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۰۵۶۰- هغه چاپیریال ساتنه کوم چې بل ځای کې طبقه بندي شوی نه وي | ٩١,٣٤٢,٩١٧ | ٥٩٥,٥٩٦,٩٤٠ | ٧٢,٠٢١,٩٢١ | ٨١,٠٦٨,٦٤٤ | ٨٣,٤٥٤,٨١١ | ٨٥,٤٤٤,٣٤٩ | ٨٧,١٣٥,٠٦٦ |
| **۷۰۶۰۰-کور جوړونه او د ټولنې سازګاري** | ٣,٩٨٢,٨٠٨,٧١٨ | ٨,٠٣١,٨٨٦,٤٣٧ | ٦,٨٩٠,٦٧٤,٥٧٥ | ٦,٩٧٠,٢٣٨,٤٥٩ | ٦,٦٤٣,٨٧٤,٢٧٣ | ٥,٦٧١,٥٦٨,٥٦٢ | ٤,٣٠٧,١٦٣,٨٧٩ |
| ۷۰۶۱۰- د کور جوړونې پراختیا | ١,٧٨٠,٦٨٨,٥٥١ | ٢,٥١٠,٥٢٠,٣٨٤ | ٢,٥٧٤,٠٣٢,٣٩٥ | ٢,٦٦٠,٨٩٠,٤٩١ | ٢,٥٢١,٣١٩,٧٩٧ | ٢,١١٧,٩١٦,٠١٠ | ١,٥٥٤,٥٠١,١٤٤ |
| ۷۰۶۲۰-د ټولنې پراختیا | ١,٥١٥,٠٤١,١٧٤ | ٣,٤٤٣,٧٤٠,٦٢٩ | ٣,١٤٠,٠٤٤,٨٠٠ | ٣,٢٠٣,٢٠٣,٧٩٣ | ٣,٠٤٨,٤١٤,٦٧١ | ٢,٥٩١,٢٤٦,٩٠٦ | ١,٩٥٠,٥٧٤,٦١٦ |
| ۷۰۶۳۰- د اوبو تامین | ١٨٩,٩٥٩,٧٧١ | ١,٣٩٥,٧٢٥,٩٥٦ | ٢٤٧,١٤٦,٠٨٩ | ١٨٥,٧٣٩,١٦١ | ١٧٥,٩١٢,٣٦٢ | ١٤٧,٥٧٢,٠٩٣ | ١٠٨,٠٠٤,٤٠٣ |
| ۷۰۶۴۰- د سړکونو روښانه کول | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۰۶۵۰- د کور جوړونې او د ټولنې د سازګاری په اړه څېړنه او پراختیا | - | - | - | - | - | - | - |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷۰۶۶۰- کور جوړونه او د ټولنې سازګاري چې بل ځای کې طبقه بندي شوی نه وي | ٤٩٧,١١٩,٢٢٢ | ٦٨١,٨٩٩,٤٦٨ | ٩٢٩,٤٥١,٢٩٠ | ٩٢٠,٤٠٥,٠١٤ | ٨٩٨,٢٢٧,٤٤٣ | ٨١٤,٨٣٣,٥٥٣ | ٦٩٤,٠٨٣,٧١٧ |
| **۷۰۷۰۰-روغتیا** | ١٦,٢٠٩,٥١١,٨٣٨ | ١٤,٩٩٣,٧٦٧,٣٣٥ | ١٨,٥٩١,٥٨٩,٩٤١ | ١٣,٨٣٢,٣١٧,٨٣٤ | ١٣,٤١٩,١٤٢,٤٧٢ | ١١,٩٩٤,٠٢٧,٥٨٩ | ٩,٩٥٢,٤٤٣,٥٩٧ |
| ۷۰۷۱۰- طبي تولیدات، وسایل او تجهیزات | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۰۷۲۰-د بستر څخه دباندې ناروغانو لپاره خدمتونه | ١١,٢٩٢,١٢٣,٤٩٨ | ٩,٧٤٥,٨٦٦,٩٥٢ | ١٢,٧٩٣,٥٢٣,٧٤٩ | ٩,١٣٢,٦٣٩,٧٦٥ | ٨,٧٥٣,٣٢٢,٧٧٨ | ٧,٥٨٣,٢٦٥,٥٠٨ | ٥,٩٣٢,٧٦٠,٠٣٤ |
| ۷۰۳۰۰- خوندیتوب او عامه نظم | ٧٩٣,٨٩٢,٨٧٧ | ١٧٨,٩١٨,٧٤٣ | ١,٠٤١,٩٣٦,٢٢٣ | ٧١٣,٥٠٢,٤٧٤ | ٦٧٥,٧٥٣,٥٩٦ | ٥٦٦,٨٨٦,٦٦٦ | ٤١٤,٨٩٠,٤٧٥ |
| ۷۰۴۰۰- اقتصادي چارې | ١٢٨,٢٤٤,٠٩٦ | ٥٨٧,١٩٠,٤٩٥ | ١٢٠,٤٥٩,٣٣٩ | ٨٦,٦٠٦,٨٢٤ | ٨٦,٥١٣,٩٢٩ | ٨٢,٩٥٦,٠١٨ | ٧٧,٢٥٧,٥٦٤ |
| ۷۰۵۰۰- چاپیریال ساتنه | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۰۶۰۰-کور جوړونه او ټولنې سره سازګاري | ٣,٩٩٥,٢٥١,٣٦٧ | ٤,٤٨١,٧٩١,١٤٥ | ٤,٦٣٥,٦٧٠,٦٣٠ | ٣,٨٩٩,٥٦٨,٧٧١ | ٣,٩٠٣,٥٥٢,١٦٩ | ٣,٧٦٠,٩١٩,٣٩٧ | ٣,٥٢٧,٥٣٥,٥٢٤ |
| **۷۰۸۰۰- بیاجوړونه (بازآفریني)، فرهنګ او دین** | ٢,٨٤٣,٣٠١,٢٠٩ | ٤,١٨٥,٣٢٦,٤٢٢ | ٢,٨٨٩,٩٩٧,١٢٤ | ٣,٢٦٤,٤٧٢,٠٣٦ | ٣,٣١٣,٦٢١,٨٠١ | ٣,٢٩٢,٧٧١,٦٣٣ | ٣,٢٢٧,٥٣٢,٩٨٨ |
| ۷۰۸۱۰-د بیاجوړونې او ورزشي خدمتونه | ٣٨٥,٩١١,٣٢٨ | ٩٣٤,٢٦٤,٧٨٣ | ٣٥٨,٩٩٨,٥٦٩ | ٣٤٦,٠٧٢,٠٤٩ | ٣٥٢,٢٥٠,٨٢٤ | ٣٥٢,١٢٣,٤٣٥ | ٣٤٧,٩٥٧,٨٦٧ |
| ۷۰۸۲۰-فرهنګي خدمتونه | ٥٧٠,٣٥٢,٢٥٦ | ٣٠٤,٤٧٠,٣٩٧ | ٦٣٧,٦٠٢,٦٦٢ | ٦٨٧,٠١٥,٧٦٩ | ٦٩٢,١٤٥,٥٥٨ | ٦٧٦,٥٤١,٩٧٥ | ٦٤٨,٠٠٢,٥٤١ |
| ۷۰۸۳۰-نشراتي او چاپي خدمتونه | ٧٩٠,٢٠١,٥٨٣ | ٧٢٣,٦٠٦,٨٨٦ | ٦٣٣,٥٤٩,١١٤ | ٦٢١,٩٣٩,٣٣١ | ٦٣٦,٨٣٨,٩٠٦ | ٦٤٤,٧٧٤,٣٩٣ | ٦٤٨,٠٦٩,١٠٩ |
| ۷۰۸۴۰- دیني او نور ټولنیز خدمتونه | ١,٠٩٦,١٥٨,٥٢٢ | ١,٦١٧,٥٤٨,٢١٤ | ١,٢٥٧,٥١٥,٢٢٩ | ١,٦٠٧,٣١١,٣٩١ | ١,٦٣٠,٣٦٥,٨٩٣ | ١,٦١٧,٦٣٦,٧٤١ | ١,٥٨٢,٢٦٢,٨٧٧ |
| ۷۰۸۵۰- د بازآفریني، فرهنګ او دیني چارو په برخو کې څېړنه او پراختیا | ٦٧٧,٥٢٠ | ٦٠٥,٤٣٦,١٤٢ | ٢,٣٣١,٥٤٩ | ٢,١٣٣,٤٩٥ | ٢,٠٢٠,٦٢٠ | ١,٦٩٥,٠٨٩ | ١,٢٤٠,٥٩٤ |
| ۷۰۸۶۰- د بازآفریني، فرهنګ او دیني چارو هغه خدمتونه چې بل ځای کې طبقه بندي شوی نه وي | - | - | - | - | - | - | - |
| **۷۰۹۰۰-پوهنه او روزنه** | ٤٦,٣٦٦,٦٣٣,٩٢٤ | ٥٤,٧٩٥,٠٣٦,٢٠٠ | ٤٤,١٠٩,٦٩٧,٠٣٠ | ٤٦,٦٣٨,٧٧٩,٧١٥ | ٤٧,٨٧٤,٢٨٩,٧٦٩ | ٤٨,٧٢٣,٦٢٩,٩٧٢ | ٤٩,٣٠٦,٤٤٤,٣٤٥ |
| ۷۰۹۱۰- له ابتدایي دورې څخه مخکې او په ابتدایي دوره کې پوهنه او روزنه | ٢٠,٠٦٦,٣١٧,٩٣٠ | ٣٢,٦٨٥,١٦٩,٦١١ | ٢٠,٦٢٨,٦٥٥,٥٨٥ | ٢١,٦٩٥,٤٣٧,١٥٢ | ٢٢,٣٢٢,٥٥١,٥٩٢ | ٢٢,٨٣٠,٣٢١,٧٠٦ | ٢٣,٢٥٠,٢١٧,١٠٧ |
| ۷۰۹۲۰- د ثانوي دورې پوهنه او روزنه | ٥٤,٢٣٣,٨١٨ | ٥,٢٢١,١٠٩ | ٨١,١٥٤,٥٢٩ | ٧٥,٣٩٩,٥٣٤ | ٧٧,٤٠٦,٨٢٦ | ٧٨,٨٠١,١٨١ | ٧٩,٧٧١,٤٦٢ |
| ۷۰۹۳۰- پوهنه او روزنه - څوارلسم ټولګي | ١,٣٨٩,٨٨١,٧٢٨ | ٢,١٩٢,٠٤١,٤١٦ | ٢٢٦,٣٦٤,٣٦٧ | ١٧٩,٧٤٢,٧٤٠ | ١٨٣,٩٠٢,٠١٦ | ١٨٥,٨٧٩,٧١٤ | ١٨٦,٤١٥,٠٤٥ |
| ۷۰۹۴۰-لوړې او نیمه لوړې زده کړې | ٧,٤٨٠,٢٦٣,٠٤٧ | ٨,٠١٧,٤٩٢,٥٧٣ | ٦,٣١٢,٩٠٠,٣١٠ | ٧,٢٣١,٤٢٧,٨٠٧ | ٧,٣٢٨,٤٥٠,٣٥٦ | ٧,٢٥٦,٧٦٥,٠٧٥ | ٧,٠٧٨,٥٧٩,٦٢٤ |
| ۷۰۹۵۰- هغه زده کړې کوم چې درجه بندي شوی نه وي | ٣,٧٦٢,٨٦٨,٩٩٥ | ٥,٢٢١,٧٩٥,١٥٩ | ٣,٧٢٥,٤١٩,٤٤٥ | ٣,٥٤٢,٤٨٦,٨٠٩ | ٣,٦٤٢,٢٤٥,٧٤٠ | ٣,٧١٩,٤٨١,٣٠٠ | ٣,٧٨٠,٥٤٩,٩٩٧ |
| ۷۰۹۶۰- د پوهنې او روزنې لپاره حمایوي خدمتونه | ٤٩,٤٢٨,٢٠١ | - | ٣٣,٦٤٧,٥٣٢ | ٤٠,٤٦٧,٧١٣ | ٤١,٧٣٣,٥٢٩ | ٤٢,٨٨٧,٣٣٦ | ٤٣,٩٤٣,٤٦٨ |
| ۷۰۹۷۰-د پوهنې او روزنې د برخو پراختیا او څېړنه | ٧٤٥,٨٩٩,٦٢٦ | ٢٦,٨٠٠,٠٠٠ | ٩٧٤,٥١٠,٩١٩ | ٦٦٠,١٥٥,٥٠٠ | ٦٧٢,٧٠٩,١٨٥ | ٦٧٤,١١٦,٦٣٢ | ٦٦٨,٣٤٩,٨٩٢ |
| ۷۰۹۸۰-هغه پوهنه او روزنه چې بل ځای کې طبقه بندي شوی نه وي | | | | | | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۱۲,۸۱۷,۷۴۰,۵۷۹ | ۶,۶۴۶,۵۱۶,۳۳۲ | ۱۲,۱۲۷,۰۴۴,۳۴۲ | ۱۳,۲۱۳,۶۶۲,۴۵۸ | ۱۳,۶۰۵,۲۹۰,۵۲۶ | ۱۳,۹۳۵,۳۷۷,۰۲۸ | ۱۴,۲۱۸,۶۱۷,۷۵۰ |
| **۷۱۰۰۰-ټولنیز خوندیتوب** | ۲۲,۶۸۷,۰۶۰,۷۸۴ | ۲,۶۵۷,۹۷۴,۸۱۳ | ۲۴,۱۲۸,۴۱۴,۱۱۵ | ۲۳,۳۲۰,۶۶۹,۲۱۶ | ۲۴,۰۰۸,۴۱۳,۵۵۷ | ۲۴,۵۸۳,۵۸۸,۱۵۷ | ۲۵,۰۷۳,۷۱۶,۲۱۸ |
| ۷۱۰۱۰-ناروغي او معلولیت | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۱۰۲۰- سني زوړوالی | ۵,۹۶۹,۷۸۱,۷۱۳ | ۳۱۶,۴۰۷,۵۰۰ | ۶,۵۲۵,۶۹۰,۰۰۳ | ۶,۲۹۸,۹۹۴,۱۵۰ | ۶,۴۷۵,۶۱۴,۷۲۰ | ۶,۶۱۱,۳۰۶,۹۲۸ | ۶,۷۱۷,۷۲۶,۰۳۵ |
| ۷۱۰۳۰-بازماندگان | ۱,۸۹۰,۳۴۲,۲۷۴ | - | ۱,۸۱۵,۱۸۲,۳۳۶ | ۱,۷۷۲,۰۶۴,۲۶۴ | ۱,۸۲۷,۴۹۳,۸۱۵ | ۱,۸۷۸,۰۱۸,۵۶۴ | ۱,۹۲۴,۲۶۶,۱۴۶ |
| ۷۱۰۴۰- کورنی/ماشومان | ۳۴۷,۱۶۰,۴۰۲ | ۴۶۲,۵۷۸,۰۰۰ | ۳۷۵,۰۶۸,۲۲۶ | ۳۶۳,۴۰۵,۸۱۰ | ۳۷۴,۳۰۳,۳۷۲ | ۳۸۳,۶۵۴,۴۷۱ | ۳۹۱,۸۰۴,۶۸۲ |
| ۷۱۰۵۰-بیکاری | ۲۶۴,۴۸۱ | ۱۰,۲۳۴,۹۸۷ | ۲۶,۳۴۱,۵۳۶ | ۱۶,۳۰۳,۶۶۶ | ۱۵,۴۴۱,۴۹۷ | ۱۲,۹۵۴,۷۳۰ | ۹,۴۸۲,۷۲۶ |
| ۷۱۰۶۰-کور جوړونه | - | - | - | - | - | - | - |
| ۷۱۰۷۰- هغه نور ټولنیز محرومیتونه کوم چې طبقه بندي شوی نه وي | ۳۰۲,۲۸۹,۱۰۶ | ۲۱۷,۴۳۹,۰۷۲ | ۴۴۰,۱۸۴,۰۱۶ | ۱۲۷,۳۳۳,۳۴۰ | ۱۲۳,۶۳۹,۲۷۳ | ۱۱۰,۷۵۵,۷۵۱ | ۹۲,۲۷۲,۷۵۲ |
| ۷۱۰۸۰- د ټولنیز خوندیتوب د برخې پراختیا او په اړه یې څېړنه | ۱۷,۴۸۳,۵۷۰ | ۴۹,۸۷۸,۰۰۰ | ۸,۷۱۶,۳۶۰ | ۸,۵۰۹,۳۱۰ | ۸,۷۷۵,۴۷۹ | ۹,۰۱۸,۰۹۴ | ۹,۲۴۰,۱۷۲ |
| ۷۱۰۹۰-هغه ټولنیز خوندیتوب چې بل ځای کې طبقه بندي شوی نه وي | ۱۴,۱۵۹,۷۳۹,۲۳۸ | ۱,۶۰۱,۴۳۷,۲۵۴ | ۱۴,۹۳۷,۲۳۱,۶۳۹ | ۱۴,۷۳۴,۰۵۸,۶۷۶ | ۱۵,۱۸۳,۱۴۵,۴۰۱ | ۱۵,۵۷۷,۸۷۹,۶۱۸ | ۱۵,۹۲۸,۹۲۳,۷۰۶ |
| | ۱۲,۹۳۰,۳۴۰ | ۵۶,۶۸۱,۱۵۰,۷۷۰ | (۳,۸۴۰,۱۶۰) | ۲۹,۲۵۴,۵۹۱,۴۵۷ | ۲۶,۵۶۵,۱۳۶,۳۱۸ | ۲۵,۹۲۴,۳۶۵,۵۲۰ | ۲۵,۰۲۹,۷۹۰,۰۳۸ |

شته مالومات څرګندوي چې د ۱۳۸۹ - ۱۳۹۶ کلونو په بهیر کې د وظایفو پر بنسټ لګښتونه د دفاع، عامه نظم او امنیت، اقتصادي چارې او پوهنې په برخو کې تر تولو لوړ دي. او دا د وروستیو اوو کلونو امنیتي وضعیت را ښیي او یوازې به هغه وخت تغییر وموميې چې شخړې پای ته ورسیږي. د وظایفو پر بنسټ مالومات دا هم څرګندوي چې د ۱۳۸۹-۱۳۹۶ کلونو په بهیر کې د لګښتونو زیاتوالې د چاپیریال او ټولنیز خوندیتوب په برخو کې په ترتیب سره د ۲۸۸ او ۴۴۲ سلنې سره زیات شوي دي. همدا شان د عامه عمومي خدماتو او اقتصادي چارو په برخو کې په ترتیب سره ۸۹ او ۱۱۳ سلنه زیات شویدي.

د پالیسیو په هکله د وظایفو پر بنسټ مالومات لا په لمړني پړاو کې دی او سیستم هم په پراخه توګه تحلیل نشي-کولای او همدا شان د وظایفو پر بنسټ د لګښتونو وېش په هکله کارکونکو لپاره روزنیز پروګرامونه کم دي. د وظایفو پربنسټ راتلونکي اټکلونه د تیرو کلونو موجوده حقیقي ارقامو پربنسټ سنجول شوي او د پالیسی په کچه تغییرات پکې نده ښودل شوی. څرنګه چې د مالي ریفورمونو (اصلاحاتو) سره هڅه کیږي ترڅو اړینې اړتیاوي او ښه اجراآت لرونکو برخو ته سرچینې ورکړل شي، د وظایفو پر بنسټ راتلونکي اټکلونه به هم به د سکتورونو پر بنسټ تخصیص ورکونې لپاره اساس جوړ کړي.

په دې برخه کې د حکومت د مقروضیت او شتمنۍ هغه مالومات چې په آسانۍ سره ترلاسه کیدای شي، شامل دي. افغانستان نغدي محاسبې نه ګټه اخلي او تر اوسه پورې داسې بشپړ بیلانس شیټ یې نه دی جوړ کړی چې د هیواد د شتمنۍ خالص ارزښت وښیي. د حکومت پخواني بودجوي اسناد د پورونو د مجموعې په هکله مالومات خپاره کړي چې د سږ کال کمښت او د خدمتونو راتلونکو لګښتونه هم پکې شامل دي. حکومت د مالي احصائیې نغدي محاسبې ورپېژندلو سره، د ۱۳۹۷ کال په بودجه کې د پورونو په هکله اضافي مالومات شامل کړي، خو دا به یوازې د ۱۳۹۷ کال او راتلونکو دریو نورو کلونو لپاره وي.

د ۱۳۹۶ مالي کال د پورونو په هکله مالومات په شپاړلسم جدول کې ورکړل شوي.

د پورونو د مدیریت ربعوار راپور (د ۱۳۹۶ مالی کال دویم ربع)

| ارقام په میلیون افغانی / سیال پورونه/ پور ورکوونکي | ژمن شوی مبلغ | د دورې پیل: د مقروضیت پاتې برخه | د اصلی پور بیلانس | په دی دوره کې کارول شوی پور | په دوره کی د پور بیرته ورکړه: د اصلی پور بیرته ورکړه | په دوره کی د پور بیرته ورکړه: اداری لګښتونه | په دوره کی د پور معافیت: اصلی پور | په دوره کی د پور معافیت: اداری لګښتونه | اصلی پور سره له اداری لګښتونه: به دوره کی | اصلی پور سره له اداری لګښتونه: د اداری لګښتونو مجموع | اسعاری بدلون | د دورې په آخر کی د اصلی پور بیلانس | دمقروضیت پاتی برخه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نړیوال پراختیایې موسسه (IDA) | ۲۷,۳۹۸.۹ | ۲۳,۶۲۲.۹ | ۲۳,۶۲۲.۹ | - | ۱۰۹.۲ | ۵۸.۳ | ۹۳.۸ | ٤.٤ | - | ۰.۰ | -۸۰.۹ | ۲۳,۵۰۰.۸ | ۲۳,۵۰۰.۸ |
| آسیایی پراختیایې بانک | ٤۷,۸۲۲.۷ | ٤٤,۱۲۸.٦ | ٤۱,۸۵۵.۹ | - | ۱٦۵.٤ | ٦۵.٤ | - | - | - | ۲,۲۷۲.۷ | -۱٤۳.٤ | ٤۱,۸۳۳.۹ | ٤٤,۱۰٦.٦ |
| اسلامی پراختیایې بانک | ٤,۰۱۳.۳ | ۳,۱۱۷.۲ | ۳,۱۱۷.۲ | ۵.٤ | ۰.۰ | - | - | - | - | ۰.۰ | -۱۰.۷ | ۳,۱۳۳.۳ | ۳,۱۳۳.۳ |
| د سعودی پراختیایې صندوق | ۵,۵۵٦.۵ | ۳,۵۹٦.۰ | ۳,۵۹٦.۰ | ۵۳۷.٦ | ۵۸.۷ | - | - | - | - | ۱۱۷.۵ | -۱۲.۳ | ٤,۰۸۷.۱ | ٤,۰۸۷.۱ |
| د روسیې فدراسیون | ٦۰,۹٤۲.۲ | ٦۱,۲۷۸.۱ | ٦۱,۲۷۸.۱ | - | - | - | - | - | - | - | ۳۳۵.۹ | ٦۰,۹٤۲.۲ | ٦۰,۹٤۲.۲ |
| د اوپک صنوق | ۱۲۱.۰ | ۱۱۷.۲ | ۱۱۷.۲ | - | - | - | - | - | - | - | ۰.٦ | ۱۱٦.۵ | ۱۱٦.۵ |
| د کویت صندوق | ۱,۵۰٦.٤ | ۱,۵۰۵.۹ | ۱,۵۰۵.۹ | - | ۳.۸ | - | - | - | - | - | -۰.۵ | ۱,۵۰۲.٦ | ۱,۵۰۲.٦ |
| نړیوال وجهی صندوق | ۱٤,۵٦۱.٤ | ۵,۳۲۲.۹ | ۵,۳۲۲.۹ | - | ۳۱٤.۲ | - | - | - | - | - | -۱۸.۲ | ۵,۰۲٦.۹ | ۵,۰۲٦.۹ |
| بلغاریا | ۳,٤۳۹.۵ | ٤۷٤.۹ | ٤۷٤.۹ | - | ۱۷.۰ | - | - | - | - | - | ۲.٦ | ٤۷۲.۳ | ٤۵۵.۳ |
| ایتالیا | ۲,۱٤۲.۳ | ۹۵.۰ | ۹۵.۰ | - | - | - | - | - | - | - | -۰.۱ | ۹۵.۰ | ۹۵.۰ |
| **د سیال پورونو مجموع** | ۱٦۷,۵۰٤.۳ | ۱٤۳,۲۵۸.٦ | ۱٤۰,۹۸۵.۹ | ۵٤۲.۹ | ٦٦۸.۳ | ۱۲۳.۷ | ۹۳.۸ | ٤.٤ | ۰.۰ | ۲,۳۹۰.۲ | ۷۳.۱ | ۱٤۰,۷۱۰.۷ | ۱٤۲,۹٦٦.٤ |
| **غیرسیال پورونه** | | | | | | | | | | | | | |
| ایران | ۷۳۸.۲ | ٦۹۳.۰ | ٦۲٤.۳ | - | - | - | - | - | - | ٦۸.۳ | ۳.۸ | ٦۲۰.۹ | ٦۸۹.۲ |
| **د غیر سیال پورونو مجموع** | **۷۳۸.۲** | **٦۹۳.۰** | **٦۲٤.۳** | - | - | - | - | - | - | **٦۸.۳** | **۳.۸** | **٦۲۰.۹** | **٦۸۹.۲** |
| د نه معامله کیدونکی کورنی پور اسناد | **٤۱,۳۵۲.۵** | **۲۲,۹۹۹.۰** | **۲۲,۹۹۹.۰** | - | - | - | - | - | - | - | - | **۲۲,۹۹۹.۰** | **۲۲,۹۹۹.۰** |
| **د پورونو مجموع (سیال، غیرسیال او کورنی)** | **۲۰۹,۵۹٤.۹** | **۱٦٦,۹۵۰.۷** | **۱٦٤,٦۰۹.۳** | **۵٤۲.۹** | **٦٦۸.۳** | **۱۲۳.۷** | **۹۳.۸** | **٤.٤** | - | **۲,٤۵۸.۵** | **۷٦.۹** | **۱٦٤,۳۳۰.٦** | **۱٦٦,٦۵٤.٦** |

د حکومت د پورونو د مدیریت منځمهاله ستراتیژي چې موجوده او اټکل شوې حکومتي پورونه یې هم تر پوښښ لاندی نیولي دي په پراخه توګه د پورونو د اوږد مهال قرارداد کولو په موخه د احتمالي خطراتو په نظر کي نیولو سره په یو قوي چوکاټ کې عملي کیږي. د دغې ستراتیژۍ یوه مهمه بڼه د پورونو د ثبت او څارنې پیاوړې کول دي. د مالیې وزارت به د پور اخیستنې او د هغې تثبیتول او تائیدول او صلاحیتونو لپاره یوه فعاله تګلاره غوره کړي څو د ټولو پورونو د معاملاتو دقت او په ټاکل شوي وخت کې د ثبتولو او د پورونو لخوا اټکل شوو خدمتونو په اړه ډاډ ترلاسه شي. همدا ډول د مالیې وزارت هغه احتمالي مقروضیتونه چې د ځانګړو حکومتي عملیاتو او د عامه او خصوصي سکتورونو د مشارکت اوتفاهم لیکونو څخه سرچینه اخیستی، څارنه او ثبتوي.

حکومت په نظر کې لري ترڅو د غیرمشروطو پورونو یوه محدوده برخه د کابل ښار حلقوي سړک پروژې تمویلولو ته اختصاص ورکړي، که څه هم اوسنی پالیسې چې د پورونو کچه ټیټ وساتل شي هم پرځای دی. نړیوال وجهي صندوق د حکومت د غیرمشروط پور اخیستنې وړتیا وړاندیز منظور کړی دی. د نړیوال وجهي صندوق سره وروستی تړون لیکونه جوته کوی چې د لاندې مسئلو څخه باید ډډه وشي:

١. نوي بهرنې غیرمشروط پورونه؛
٢. لنډ مهاله بهرني پورونه؛
٣. نوي پاتې بهرنې ورکړې؛

تمه کیږي چې د راتلونکي کال بودجه به د خزانو ځانګړې حساب او د تمویل کوونکو ځانګړي حساب، بیلانس شیتونو په ګډون د شتمنیو په هکله لا زیات مالومات ولري. دغه کار به هغه مهال شوونې وي کله چې دولت په بودجه کې د وجوهو په تخصیصاتو، د وجوهو په محاسبې او د حساباتو د جدول په مدیریت کې بنسټیز اصلاحات رامنځ ته کړي حکومت به یو ځل بیا هڅه وکړي څو موجوده عمده شتمنیو په ګډون د ځمکو، ودانیو، زیربناوو او عمده تجهیزاتو شمیر معلوم کړی. دا به د یو پرانیستې بیلانس شیت جوړولو په لور لمړنی ګامونه وي چې د حکومت د شتمنیو او مقروضیتونو د لا ډیر فعاله او ځواب ورکوونکي مدیریت توان لوړ کړي.

داسې مقروضیتونه چې اندازه یې مالومه نه وي او یا یې حکومت په اړه کافي مالومات ونلری، د مالي خطراتو، احتمالي مقروضیتونو او شتمنیو په ځانګه کې د هغوی په هکله څرګندونې او مالومات ورکړل شوي دي.

## مالي خطرات او احتمالي مقروضیتونه او شتمنۍ

### عمومي مالي خطرونه

د ۱۳۹۷ مالي کال په بودجه کې د راتلونکو څو کلونو اټکلونه، هغه انګیرنې (فرضیاتو) او قضاوتونه په بر کې نیسي چې د خپرېدو پر مهال تر ټولو موثقو مالوماتو پر بنسټ تر لاسه شوي دي. یو لړ عوامل کولای شي چې په راتلونکو کلونو کې د حقیقي بودجې پایلو باندې اغیزه ولري. د دغو عواملو څرګندول به د مالي اټکلونو روښتیا لا هم زیاته کړي.

هغه پیښې کوم چې کولای شي مالي پایلې اغیزمنوي، په لاندې توګه دي:

- په اقتصاد او نور داسې ثابتو عواملو کې بدلون؛ په ځانګړي توګه نړیوال اقتصادي پراختیا کې؛
- هغه موضوعات چې د وخت، اندازې، پراخوالي او احتمالاتو له کبله په مالي وړاندوینو کې شامل نه دی؛
- او د احتمالي مقروضیتونو او شتمنیو تحقق.

### امنیت

په افغانستان کی روانه شخړه، بودجه له ډیرو خطراتو سره مخامخ کوي. شخړې د اقتصاد د ودې پر وړاندې خنډ بلل کیږي او پر پانګې اچونې، خرڅلاو، ګډون او مولدیت باندی منفي اغیزه کوی. د شخړو هر ډول پراختیا کولای شي چې پر ودې منفي اغیزه ولري او د عوایدو د کمښت لامل وګرځي. د بدیل په توګه، د شخړو کمښت کولای شي چې د اقتصادي فعالیتونو د زیاتیدو او د عوایدو د ښه والي لامل وګرځي. همدا ډول شخړې کولای شي چې د پانګې اچونې لګښت د زیربناوو د تخریب له لارې زیات کړي او یا د امنیتی لګښتونو د زیاتیدو لامل شي.

همدا ډول؛ د افغانستان د امنیت د تمویل یوه لویه برخه د ملي بودجې څخه بهر د غوڅ ملاتړ ماموریت لخوا برابریږي. غوڅ ملاتړ یو نړیوال ماموریت دی چې پر بنسټ یې بهرنیو حکومتونو پالیسیو څخه چې د افغانستان د حکومت مستقیم کنټرول نه بهر دی، متابعت کوي. که چېرې د غوڅ ملاتړ ماموریت لخوا د تمویل سرچینې د پام وړ کمښت سره مخامخ شي، نو دا به هرومرو د افغان امنیتي ځواکونو ظرفیت باندې مستقیمه او ځانګړې اغیزه واچوي. افغان حکومت او نړیوالو ملګرو یې په دې توافق کړي چې تر ۲۰۲۴ پورې به افغانستان په خپله امنیتي لګښتونه له کورنیو عوایدو څخه تأمین کړي. دې موخې ته رسېدل پر یو لړ عواملو مشروط دی چې کولای شي پر ملي بودجه او د حکومت د عادي بودجې پر توازن باندې ځانګړی فشار واچوي.

### د افغانانو بیرته راستنېدنه

که شخړې پای ومومي، شونې ده چې د بې ځایه شویو افغانانو بیرته راستنیدنه په ملي بودجې باندې ځانګرې فشارونه رامنځ ته کړي؛ د افغان کډوالو یو زیاتیدونکي شمیر هېواد ته راستانه شوي او تمه کیږي چې د روانې شخړې له پای او د امنیت له ټینګښت سره سم میلیونونه نور کډوال هم هیواد ته راستانه شي. همدا شان د نورو هیوادونو څخه د راستنیدونکو کډوالو د بیرته ځای په ځای کیدلو په لګښتونو سربیره، د لومړنیو خدماتو لکه روغتیا او پوهنې لګښتونه هم د راتلونکو کلونو په اټکلونو کې نه دي سنجول

شوي چې پدی صورت کې باید د یادو خدماتو لګښتونه له موجوده منابعو څخه ورکړل شي او دا اقدام ملي بودجې باندې ځانګړې اغیزه کوي.

اوولسم جدول: د راستنېدوونکو افغانانو کلیدي احصائیه

| کلیدی احصائیه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د کډوالو (مهاجرت) کټګوری | ۲۰۱۶ | ۲۰۱۷* | (۲۰۱۶+۲۰۱۷) | ۲۰۱۸** | (۲۰۱۶+۲۰۱۷+۲۰۱۸) |
| کورنی بیځایه شوي | ۶۷۳،۶۸۷ | ۳۳۷،۴۲۴ | ۱،۰۱۱،۱۱۱ | ۵۰۵،۵۵۶ | ۱،۵۱۶،۶۶۷ |
| ثبت شوی راستنیدونکی | ۳۷۲،۳۹۲ | ۶۸،۸۷۷ | ۴۴۱،۲۶۹ | ۲۲۰،۶۳۵ | ۶۶۱،۹۰۴ |
| نه ثبت شوی راستنیدونکی | ۶۹۲،۴۹۱ | ۴۵۶،۶۴۴ | ۱،۱۴۹،۱۳۵ | ۵۷۴،۵۶۸ | ۱،۷۲۳،۷۰۳ |
| **مجموع** | **۱،۷۳۸،۵۷۰** | **۸۶۲،۹۴۵** | **۲،۶۰۱،۵۱۵** | **۱،۳۰۰،۷۵۸** | **۳،۹۰۲،۲۷۳** |

* د ۲۰۱۷ اکتوبر څخه تر دسمبر وړاندوینې د سږ کال د منځنۍ کچې (اوسط) پر بنسټ، شامل شوی.

** تخمیني ارقام د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو د منځنی کچې (اوسط) پر بنسټ، شامل شوی.

په همدې ډول د ۱۳۹۶ کال د پاتې برخې او د ۱۳۹۷ کال لپاره خصوصاً په ژمي کې هغو خلکو ته چې په غرونو کې اوسیږي، د مرستو او اسانتیاوو برابرول له ځانګړو فشارونو سره مخ دي. لاندینی جدول د یادو اوسنیو فشارونو او ناتمویل شویو اړتیاوو په هکله په تفصیل سره د غبرګونونو څرنګوالی را ښیي چې د ۱۳۹۷ مالي کال له موجوده منابعو څخه په ګټې اخیستنې سره به پوره شي.

نړیوالې پراختیایي مرستې د ۱۳۹۷ کال ملي بودجه کې شاوخوا ۵۵ سلنه جوړوي. څرنګه چې افغانستان په نړۍ کې د نورو هېوادونو په پرتله تر ټولو ډیر په بهرنیو مرستو ولاړ هیواد دی نو د نړیوالو لخوا د ملي بودجې څخه بهر مالي مرستې (off budgt) خورا مهمې ګڼل کیږي.

د کورنیو عوایدو د بنسټ جوړولو په برخه کی ډیر پرمختګ شوي چې په راتلونکو اټکلونو کې هر کال شاوخوا ۱۰ سلنه زیاتوالی را ښیي، خو دا به یواځې په لنډ مهاله او منځمهاله موده کې په بهرنیو مرستو د افغانستان اتکا تر یوه بریده کمه کړي مګر له منځه بې وړای نشي. د وارسا او بروکسل کنفرانسونو په ترڅ کې د تمویلوونکو ژمنې په ۱۳۹۸ -۱۳۹۹ (۲۰۱۹-۲۰۲۰) کی پای ته رسیږي او د نړیوالو مرستو ځانګړی او تدریجي کمښت، د راتلونکو کلونو ملي بودجه له مهم مالي خطر سره مخ کوي.

د ملي بودجې لپاره د وړیا مرستو تمویل د ټاکل شویو ثابتو مرستو څخه متغیرو مرستو ته بدلون موندلی دی. په تیره یوه لسیزه کې د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق، ملي بودجې او په خاص ډول عادي بودجې ته ځانګړې وړتیاوې ورکړې دي. دغه کار په وجهي صندوق کې د عادي لګښتونو د چوکاټ د حفظ له امله، تر یو حده بشپړ شوی دی. اما په دې وروستیو کلونو کې د یادو مرستو څرنګوالی په تدریج سره د یو شمیر تشویقي پروګرامونو (IP) او د هغو د پایلو او لاسته راوړنو په معرفي کولو سره تعویض شوی دی. په داسې حال کې چې د پایلو پر بنسټ یاد ترتیبات او تدابیر ډیرې ګټې لري خو د خپل طبیعت له مخې ډیر بدلیدونکي دي. که حکومت ونشي کولای چې ټاکلي بنچمارکونه پوره کړي، نو د تشویقي پروګرامونو له مخې د مرستو اندازه به هم ډیره کمه وي.

له تشویقي پروګرام نه بودجې ته اړوند واردیدونکي خطرات په ۱۳۹۳-۹۴ (۲۰۱۴-۲۰۱۵) کې هغه وخت را برسیره شول چې د ولسمشریزو ټولټاکنو ناڅرګند وضعیت د مالي کړکیچ لامل شو او په پایله کې یې د ټیټو کورنیو عوایدو له امله رامنځته شوي مالي ناورین حکومت اړ کړ څو د حفظ او مراقبت او پلان شوي عملیاتي لګښتونه کم کړي. د پایلې په توګه حکومت د دغه پروګرام د

يو بينچ مارک د نه ترلاسه کولو له امله د تشويقي پروګرام د بلاعوضه مرستو عوايد هم دقيقاً له لاسه ورکړل او د کورنيو عوايدو کچه هم راټيټه شوه.

د ۱۳۹۴ (۲۰۱۵) کال بدليدونکي اضافي بلاعوضه مرستې د متحده ايالاتو د ملي پراختيايي پروګرام او د اروپايي ټولنې د دولت جوړونې قرارداد ترنامه لاندې ور وپيژندل شولې. دواړه پروګرامونه په مستقيمه توګه د بودجې څخه ملاتړ او د عامه مالي مديريت د ملي سيستمونو په پياوړي کولو کې مرسته کوي چې حکومت د نړيوالو اضافي پراختيايي مرستو د ترلاسه کولو هرکلی کوي؛ که څه هم دا دواړه پروګرامونه د توافق شوو اجرائيوي معيارونو (بينچ مارکونو) سره سم ترسره کيږي او بدليدونکي اجزاء لري چې بودجه له يو لړ داسې نا اټکل شويو خطراتو سره مخ کوي چې وړاندوينه يې ناشونې وي. سربېره پر دې، د دغو پروګرامونو له بلاعوضه مرستو څخه په عادي بودجه کې ګټه اخيستنې باندې محدوديتونه د افغانستان د بيارغونې د وجهي صندوق په پرتله حکومت ته لږ امکانات ورکوي؛ په داسې حال کې چې حکومت يو لړ کاری او عملياتی فشارونو سره مخ دی خو لازمه ده چې په ځينو برخو کې لکه امنيت او د پانګونې غوښتنې لپاره ګڼ شمېر مسؤليتونه د پراختيايي بودجې له لارې په غاړه ولري.

۱۸ جدول: د مهاجرت پروګرام له پاره نړيوال پراختيايي مرستي

| رهبری کوونکې اداره | ګټه اخیستونکي | د بودیجې وړاندوینه (افغاني) | موجوده بسپنې | بودجوی تشه (افغانی) | د تمویل سرچینه | د تمویل ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت | په ۲۰۱۷-۲۰۱۸ کې له پاکستان، ایران او اروپا څخه بیرته راستنیدونکي | ۶۹,۷٤٤,٥٤۰ | - | ۶۹,۷٤٤,٥٤۰ | مشخص به شی | ملی بودیجه |
| د نفوسو د ثبتولو مرکزی اداره (د الکترونیکي تذکرې ریاست) | بیرته راستنیدونکی او کورنې بیځایه شوی | ۱۳۹,٤۸۹,۰۸۰ | - | ۱۳۹,٤۸۹,۰۸۰ | د اروپا اتحادیه | بودیجې نه بهر |
| د کډوالو او بیرته راستنیدونکو وزارت، د پیښو پر وړاندی د مبارزی چمتووالی ملی اداره، د سرپناه کلستر | د بیرته راستنیدونکو، کورنی بیځایه شویو او په هڅکو ځایونو کې د کوربه ټولنې | ۱,۰۸۸,۰۱٤,۸۲٤ | ٥۸٥,۸٥٤,۱۳۶ | ٥۰۲,۱۶۰,۶۸۸ | UNHCR او نور د کلستر غړی | بودیجې نه بهر |
| د بشر پالنې مؤسسې | د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ بیرته راستنیدونکی او کورنې بیځایه شویو لپاره | ٥,٥۷۹,٥۶۳,۲۰۰ | - | ٥,٥۷۹,٥۶۳,۲۰۰ | WFP & BPRM/US | بودیجې نه بهر |
| د پوهنې وزارت | بیرته راستنیدونکې او کورنې بیځایه شویو (۲۰۱۷-۲۰۱۸) او کوربه ټولنه | ۳,٤۰۸,۲۳۲,۲٤۲ | - | ۳,٤۰۸,۲۳۲,۲٤۲ | | ملی بودیجه |
| د عامی روغتیا وزارت | بیرته راستنیدونکې او کورنې بیځایه شویو (۲۰۱۷-۲۰۱۸) او کوربه ټولنه | ۱,۸۱٤,٤۱٤,۹۰۲ | ۱٤۳,۹۲۲,۸۸۰ | ۱,۶۷۰,٤۹۲,۰۲۲ | د افغانستان د بیارغوونی وجهې صندوق/نړیوال بانک | ملی بودیجه |
| د کلیو پراختیا وزارت | بیرته راستنیدونکې او کورنې بیځایه شویو (۲۰۱۷-۲۰۱۸) او کوربه ټولنه | ٥,٥۷۹,٥۶۳,۲۰۰ | ٥,٥۷۹,٥۶۳,۲۰۰ | - | IDA، د افغانستان د بیارغوونی وجهی صندوق/نړیوال بانک، آلمان او دنمارک | ملی بودیجه |
| د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره | بیرته راستنیدونکې او کورنې بیځایه شویو (۲۰۱۷-۲۰۱۸) او کوربه ټولنه | ۳,٤۸۷,۲۲۷,۰۰۰ | ۳,٤۸۷,۲۲۷,۰۰۰ | - | IDA/نړیوال بانک | ملی بودیجه |

| رهبری کوونکې اداره | ګټه اخیستونکي | د بودیجې وړاندوینه (افغانی) | موجوده بسپنې | بودجوی تشه (افغانی) | د تمویل سرچینه | د تمویل ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ښار جوړونې او مسکن وزارت + UNHABITAT | د بیرته راستنیدونکو، کورنۍ بیځایه شویو او د وسله وال ځواکونو د شهیدانو کورنی زیان منونکې ګروبونه | ٤,١٨٤,٦٧٢,٤٠٠ | ١,٧٤٣,٦١٣,٥٠٠ | ٢,٤٤١,٠٥٨,٩٠٠ | هندوستان | ملی بودیجه/بو دیجې نه بهر |
| کنسر سیوم (UN-H and IOM) | د بیرته راستنیدونکو، کورنۍ بیځایه شویو او د وسله وال ځواکونو د شهیدانو کورنی زیان منونکې ګروبونه | ٦٢٧,٧٠٠,٨٦٠ | - | ٦٢٧,٧٠٠,٨٦٠ | د اروپا اتحادیه | بودیجې نه بهر |
| د اراضی خپلواکه اداره | بیرته راستنیدونکې، بیځایه شوې او کوربه ټولنې | ٢٠٩,٢٣٣,٦٢٠ | ١٣٩,٤٨٩,٠٨٠ | ٦٩,٧٤٤,٥٤٠ | د افغانستان حکومت | ملی بودیجه |
| د مالیې وزارت، د کرهنې، اوبولګونې او مالداری وزارت، د کار او ټولنیزې چارې، د شهیدانو او معلولینو وزارت | بیرته راستنیدونکې، کورنۍ بیځایه شوی (٢٠١٦-٢٠١٨) او کوربه ټولنه | ١٣٩,٤٨٩,٠٨٠ | - | ١٣٩,٤٨٩,٠٨٠ | نړیوال بانک | ملی بودیجه |
| د کار او ټولنیزې چارې او د شهیدانو او معلولینو وزارت، د پوهنې وزارت | بیرته راستنیدونکې، کورنۍ بیځایه شوی (٢٠١٦-٢٠١٨) او کوربه ټولنه | ٦٩٧,٤٤٥,٤٠٠ | - | ٦٩٧,٤٤٥,٤٠٠ | نړیوال بانک | ملی بودیجه |
| د ټولګټو وزارت، د انرژی او اوبو وزارت، د کرهنې، اوبولګونې او مالداری وزارت | بیرته راستنیدونکې، کورنۍ بیځایه شوی (٢٠١٦-٢٠١٨) او کوربه ټولنه | ٢,٧٨٩,٧٨١,٦٠٠ | - | ٢,٧٨٩,٧٨١,٦٠٠ | نړیوال بانک | ملی بودیجه |
| یونسکو/ د بدنې روزنې لوی ریاست | بیرته راستنیدونکې، کورنۍ بیځایه شوی (٢٠١٦-٢٠١٨) او کوربه ټولنه | ٦٩٧,٤٤٥,٤٠٠ | - | ٦٩٧,٤٤٥,٤٠٠ | | بودیجې نه بهر |
| د ولسمشر د مقام د دفتر لوی ریاست | موجود نه دی | ٣٤,٨٧٢,٢٧٠ | - | ٣٤,٨٧٢,٢٧٠ | مشخص به شی | بودیجې نه بهر |
| د څارنې او ارزونې واحد | موجود نه دی | ١٠٤,٦١٦,٨١٠ | ١٠٤,٦١٦,٨١٠ | - | د ملګرو ملتونو پراختیایې پروګرام | بودیجې نه بهر |
| مجموعه | | ٣٠,٦٥١,٥٠٦,٤٢٨ | ١١,٧٨٤,٢٨٦,٦٠٦ | ١٨,٨٦٧,٢١٩,٨٢٢ | | |

## طبیعي پېښې او د اقلیم بدلون

افغانستان په لوړه کچه له سختو او تکراري طبیعي پېښو لکه سیلابونه، زلزلې، واورې ښویېدنې، د ځمکې او وچکالۍ له ناورینونو سره مخ دی. د درېیو لسیزو جګړو په ترڅ کې د چاپېریال له منځه وړلو او د ناورین د خطر د کمولو تګلاره کې افغانانو ناکافي پانګه اچونه کړې چې دغه تګلاره د طبیعي پېښو له ناڅاپي حالت سره د مبارزې او د خلکو د آسیب پذیری په برخه کې د ناورین د خطرونو د کمولو په هکله د یوې مناسبې ستراتیژۍ نشتوالي اغیزمنه کړې ده. د UNOCHA په وینا، په منځنۍ ډول سره دغه پېښې هر کال دوه سوه زره (٢٠٠٠٠٠) خلک اغیزمنوي. دا مهال د طبیعي پېښو د اقتصادي او مالي اغېزو په سمه توګه اندازه لګول ستونزمن دي او د پېښو د بیارغونې لپاره په راتلونکو اټکلونو کې هیڅ مناسب چمتووالی ندی ښوودل شوی. د یوې سترې طبیعي پېښې په وړاندې هر ډول غبرګون باید له عادي سرچینو څخه چمتو شي او دغه کار بودجه د پام وړ خطر سره مخ کوي..

د افغانستان په کلتور او اقتصاد کې کرهنه ستر رول لوبوي او د دغه هېواد د اقتصادي ودې ٥،٧ سلنه جوړوي چې د ډېرو بېوزلو او زیان منونکو کلیوالو افغانانو لپاره د کورنۍ د عاید بنسټ/منابع ګڼل کیږي. په داسې حال کې چې افغانستان ښاري ژوند په چټکتیا

سره تجربه کوي، کرهنه به په دوامداره توګه په اقتصادي او ټولنیزه پراختیا کی رول ولوبوي. د کرهې لپاره اوبه په ډیره کچه د واورې له ویلې کیدلو ترلاسه کیږي او د هغو سرچینې د هندوکش له غرونو بهیدل شوو اوبو باندې ولاړې دي چې دغه واقعیت افغانستان د اوږد مهال موسمي بدلون په مقابل کې زیان منونکی (آسیب پذیر) کوي. د دغو خطرونو د له منځه وړلو لپاره چې ډیر لاملونه لري، په دواړو خواوو کې د سازګارۍ او یا د خطرونو کمولو په موخه باید په اړینو اقداماتو لاس پورې شي.

## دولتي تصدي ګانې

افغانستان ۳۶ مالي دولتي تصدیانې (SOEs)، ۱۶ دولتي شرکتونه (SOCs) او ۳ دولتی سوداګریز بانکونه (SoCBs) لري. په داسی حال کې چې دولتي تصدیانې ۱۰۰ فیصده تر حکومت پورې مربوط شرکتونه او بنسټونه دي، حکومت په دولتي شرکتونو (SOCs)کې بدلیدونکې ونډې لري. دولتي تصدیانې (SOEs) په انرژي او کان کیندنې، امنیت، رغونه، صنعت، تولیداتو، ترانسپورت، او د ګرځندوی په سکتورونو کې مهم رول لوبوي. دولتي شرکتونه (SOCs) په بیمې، مخابراتو، انرژۍ، اوبو او سوداګریزو سکتورونو کې شتون لري. د دولتی سوداګریزو بانکونو په کتار کې د افغانستان ملي بانک او پښتني بانک شامل دي چې په ۲۰۰۴ کال کې د مالي قوانینو پر بنسټ هغوی ته بیا جواز ورکړل شو او د کابل بانک تر کړکیچ وروسته په ۲۰۱۱ کې، حکومت د نوي کابل بانک مالکیت په غاړه واخیسته.

د دولتي تصدي ګانو او دولتي شرکتونو عواید په ناخالصو کورنیو محصولاتو کې شاوخوا ۴.۵ سلنه ونډه اخلي چې د کلیدي ستراتیژیکو سکتورونو لکه انرژۍ او کان کیندنه، مخابرات، امنیت او هوایي شرکتونو په برخه کې فعالیت لري. په دولتي تصدي ګانو او دولتي شرکتونو کې شاوخوا ۲۵۰۰۰ کسان کار کوي. دولتي سوداګریز بانکونه په افغانستان کې د بانکي ونډې یوه ځانګړې برخه وړاندې کوي. افغان ملي بانک، پشتني بانک او نوی کابل بانک د بانکدارۍ سکتور په ټولو شتمنیو کې شاوخوا ۲۷ سلنه برخه لري. دولتي تصدیانې او دولتي شرکتونه له ۱۰ سلنې کم حکومتي عواید جوړوي او د دولتي سوداګریزو بانکونو ګټې نوسانات لري.

ناکافی مالي څارنه، د معلوماتو محدود شتون او د ظرفیت تهدید، ځانګړې ننګونې رامنځته کوي او د مالي خطراتو خاصې سرچینې په ګوته کوي. د محدود ظرفیت له امله، دولتي تصدیانې نشي کولای چې تل راپور ورکړي او خپل مالي حالت په اړینه کچه وڅیړي. د افغانستان مرکزي بانک د درې دولتي سوداګریزو بانکونو څارنه کوي. د دولتي شرکتونو مالي څارنه محدوده ده. په داسی حال کی چې حکومت دولتي تصدیانې او دولتي شرکتونو ته د پورونو تضمین، مشروط پورونه، مالیاتي لګښتونه، سبسایډي او د پانګې بیرته راګرځولو په بڼه کې مرستې برابروي، له دې سره سره تاریخي معلومات او د مجموعي احتمالي مقروضیتونو تحلیل په سیستماتیک ډول راټول شوي نه دي. حکومت په ۱۳۹۷ کې، د مالیې وزارت د دولتي تصدیانو او شرکتونو ریاست، عمومي ریاست ته لوړ کړ او د مالي اجرااتو د ودې د پلان پر بنسټ، د دې خطرونو د څارنې او مدیریت لپاره د ظرفیت لوړولو تر څنګ یې د دفتر لوی ریاست په تشکیلاتي اډانه کې د څارنې او همغږۍ نوی ریاست رامنځته کړ چې په برخه کې به یې اړینه پانګه اچونه وشي.

د دولتي تصدیانو او شرکتونو بیاکتل شوی قانون د تصویب په وروستیو مرحلو کې دی چې له دغو اداراتو سره د حکومت د ملاتړ څرنګوالی به روښانه کړي.

حکومت د ملکي خدمتونو کارکوونکو د تقاعد د هغو عمده مقروضیتونو راټولولو په حال کې دی چې په پوره توګه د لګښتونو منځمهاله مالي چوکاټ او د راتلونکو کلونو په اټکلونو کې په پام کې نه دي نیول شوي. د ملکي کارکوونکو د تقاعد اوسنی سیستم، د تقاعد په وخت کې د عایداتو کچه د خدمت د کلونو او وروستي معاش پر بنسټ وړاندې کوي.

تقاعد په لاندې ډول محاسبه کیږي:

- تر ۱۰ کاله خدمت وروسته، په منځنۍ کچه د کارکوونکي د وروستیو درېیو کلونو معاش ۴۰ سلنه د تقاعد د ورکړې وړ ګڼل کیږي.
- د یوې بلې مادې پر بنسټ، د خدمت د هر یو اضافي کال په مقابل کې به دوه سلنه ٪۲ اضافه ورکول کیږي.
- داوطلبو ملکي کارکوونکو ته کیدای شي په ۶۳ کلنۍ کې تقاعد ورکړ شي خو اجباري تقاعد په ۶۵ کلنۍ کې ورکول کیږي.

د نظامیانو تقاعد له پورته اصل سره توپیر لري:

- د کارکوونکي د تقاعد برخه د هغه د معاش د ۲،۳۵ سلنه برخې په تناسب د خدمت د هر یو کال په مقابل کې له لومړي کال نه په پیل ورکول کیږي.
- نظامي کارکوونکي کولای شي چې د ۵۲ او ۷۰ کلنۍ تر منځ د رتبې او خدمت د کلونو پر اساس تقاعد وکړي.

اوس مهال، حکومت د یو کارکوونکي د یو کال معاش ۸ سلنه د هغه د تقاعد لپاره ورکوي او هر کال د نوموړي کارکوونکي له معاش څخه ۸ سلنه د تقاعد د ونډې په توګه کموي. د نظامیانو لپاره، حکومت په کال کې ۱۱ سلنه ونډه ورکوي او د کارکوونکي له معاش نه هر کال ۵ سلنه ونډه کموي. اوسمهال د ملکي کارکوونکو او نظامیانو په هکله د حکومت ونډه ۱۰۰ سلنه تمویل شوې نه ده. په دې مانا چې حکومت د تقاعد حقونو د ورکړې پر مهال هیڅ ذخیره نلري او په هر کال کې یې له عادي سرچینو څخه ورکوي. د دې تر څنګ اوس حکومت د کارکوونکو ونډې چې هر کال د هغوی له معاشاتو اخیستل کیږي، نه ساتي او له هغو څخه د رسیدونو په توګه د هر مالي کال د عادي ورکړې لپاره کار اخلي.

په پایله کې، حکومت د یو لوی مقروضیت راجوړولو په حال کې دی چې د تمویل لپاره یې هیڅ ذخیره نلري او د اوسنیو او راتلونکو نا تمویل شویو تقاعدي مقروضیتونو په هکله دقیق اټکل نلري.

همدا شان یو راتلونکې مالي خطر هم شتون لري. اوس مهال، هغه پیسې چې د کارکوونکو له معاشاتو څخه د هغوی د راتلونکي تقاعد د ونډې لپاره وضع کېږي د ذخیره کیدو پر ځای د رسیدونو (عوایدو) په توګه د عادي لګښتونو لپاره کارول کیږي. دغه اضافي رسیدونه به په راتلونکو څو کلونو کې له هغو وجوهو ورکړي چې تقاعد ته رسیدلو خلکو ته ورکول کیږي. په دې مانا چې حکومت په داسې حال کې چې مخ په زیاتیدونکي راتلونکي تقاعدي مقروضیتونه لري، کولای شي خپلې فوري اړتیاوې د متقاعدینو د اوسنۍ ورکړې لپاره مرفوع کړي. اټکل کیږي چې  په ۱۴۰۲ کال کې اوسنی حالت تغیر وموميږ کله چې د اوسنیو کارکوونکو ونډې مخ په کمیدو شي ځکه د متقاعدینو شمیر به نور هم زیاتیږي او دغه تشه به هر کال لوړه شي. متقاعدینو ته دغه عادي ورکړې باید له عادي کورنیو عوایدو څخه برابرې شي چې په ملي بودجه باندې لوی فشار راوړي. دغه مالي تشه به تر ۱۴۱۲ کاله پورې ۱۰۰ میلیارده افغانیو ۱،۵ میلیارد ډالر) ته ورسیږي.

په دې اړه لاندې ارقام د پاملرنې وړ دي:

شپږم گراف:




ماليې وزارت په هغه پاليسۍ باندې کار کوي چې د ملکي خدمتونو کارکوونکو د تقاعد لپاره داسې يو ټينګ او دوامن بنسټ جوړ کړي چې د ونډې په بيو کې بدلون، په امتيازاتو کې تعديلونه او د حکومت او کارکوونکو د ونډې د ساتنې او مديريت لپاره د تقاعد يو صندوق جوړول هم پکې شامل وي.

## عامه او خصوصي مشارکت

د عامه او خصوصي مشارکت ملي پاليسي د ۲۰۱۷ ميلادي کال په مارچ مياشت کې د افغانستان اسلامي جمهوريت کابينې لخوا تائيد شوه. په ماليه وزارت کې د مشارکت مرکزي اداره د دې لپاره ايجاد شوې څو اړوندو وزارتونو او د خصوصي سکتور بنسټونو ته د مشارکتي پروژو د اسنادو ترتيبولو، ثبتولو، پرمخ بيولو او د ادارې او نظارت په برخه کې لارښوونه وکړي. همدارنګه د عامه او خصوصي مشارکت عملياتي لارښود د پرمختګ په حال کې دی څو د مشارکت مرکزي ادارې د طرحو د پلي کيدو شونتيا، د قراردادونو ترتيبولو او د داوطلبۍ سندونو او همدارنګه د پي پي پي پروژو ارزونه او څارنه وکړي.

د انرژی په برخه کې لاندې څلور پروژې د خبرو اترو په وروستي پړاو کې دي:

**دکجکي برېښنا کوټ:** د کجکي برښنا کوټ (دويمه برخه) به د کجکي د بند د برېښنا له اوسني توليد څخه ۱۵۰ ميګاواټه ته لوړ کړي. دغه ۲۳ کلنه پروژه چې ټول ارزښت يې ۱۴ميلیارده افغانۍ (۲۰۹ ميلونه امريکايي ډالره) دی ۷۰ سلنه يې پور او ۳۰ سلنه يې نقدي دي.

**د مزارشريف برېښناکوټ:** د مزارشريف برېښناکوټ به ۵۲ ميګا واټه برېښنا د شبرغان له ګازو څخه توليد کړي. د دغې ۲۰ کلنې پروژې لګښت ۵ ميليارده افغانيو په پانګونه چې ۷۵ ميليونه امريکايي ډالر کيږي، له دې جملې څخه ۶۰ سلنه پور او ۴۰ سلنه نغدې پيسې دي.

**د بیات خپلواک برېښناکوټ:** د بیات برېښناکوټ به ۵۲ میګاواټه برېښنا د شبرغان له ګازو څخه تولید کړي. د دغې ۵ کلنۍ پروژې لګښت ۴،۲ میلیارده افغانۍ دی چې د ۶۰ میلیونه ډالرو معادل کېږي او ۱۰۰ سلنه د خصوصي کمپنیو لخوا ورکول کېږي.

**د کندهار لمریز برېښناکوټ:** د کندهار لمریز برېښناکوټ به ۳۰ میګاواټه برېښنا د لمر له انرژۍ څخه تولید کړي. د دغې ۲۰ کلنۍ پروژې لګښت ۴.۸ میلیارده افغانۍ دی چې ۷۲ میلیونه امریکایي ډالر کېږي. د قرضي او نغدو معامله یې لا تراوسه تر بحث لاندې ده. همدارنګه حکومت به په همدې پروژه کې ۱.۸ میلیارده افغانۍ چې ۲۷ میلیونه ډالر کېږي، د حمایتي وجوهو په توګه په پروژه کې مصرفوي؛ له دې پیسو څخه دولت د ۱۳۹۷ کال په بودجه کې ۲ میلیونه امریکایي ډالر په نظر کې نیولي دي.

حکومت پورته ذکر شوو پروژو ته دوه ډوله ضمانتونه ورکوي:

لومړی؛ حکومت به دا ضمانت ورکوي چې حکومت به برېښنا د پیسو په بدل کې اخلي. دویم؛ د دولت (Sovereig Guarantee) ضمانت چې د نړیوال بانک لخوا د IDA په همکارۍ سره تمویلېږي. دویم ډول خپلواک ضمانت به یوازې د مزار شریف او کجکي د دویمې برخې لپاره وي.

د دغو تضمینونو لخوا رامنځته شوی احتمالي مالي مسؤلیت تر اوسه معلوم شوی ندی. د مشارکت مرکزي اداره او د مالیې وزارت عملاً کار کوي څو د احتمالي مالي خطرونو د ارزولو لپاره یو میکانیزم رامنځته کړي. له ۱۳۹۷ څخه، دولت ژمن دی چې د مشارکت د پروژو په اړه په ملي بودجه کې ټول احتمالي مالي مسؤلیتونه او احتمالي مالي خطرونه منعکس کړي.

که چیرې دا څلور پروژې کامیابې شي، نو دا به په ملي بودجی تر ډېره حده فشار راکم کړي او د هیواد د انرژۍ تولید د ظرفیت په لوړولو سره به د افغانستان اتکاء په وارداتي برېښنا په پاموړ توګه را کمه کړي. همدارنګه ۵ نورې طرحې هم د اقتصاد د عالي شورا لخوا تائید شوې دي. د مشارکت مرکزي اداره له اړوندو ادارو سره د دغو پروژو د امکان پذیرۍ لپاره کار کوي او په ۱۳۹۷ کال کې به یې د اقتصاد عالي شورا او کابینې ته د منظورۍ په موخه وړاندې کړي.

هغه پروژې چې د شونتیا پروسې لاندې دي عبارت دي له:

- د ډریورۍ جواز او د موټرو ثبتول څو فساد را کم کړي، وګړو ته ښه خدمات وړاندې شي او په دې توګه د عوایدو کچه لوړه شي؛
- د کابل ولایت ۱۲-۲۲ ناحیو ته د اوبو رسول او د نویو ډیجیټل میټرونو نصبول؛
- د جناح او جمهوریت روغتونونو بشپړولو لپاره د عامې روغتیا وزارت غوښتنه چې له خصوصي سکتور سره یې په ګډه مخته یوسي؛
- د کابل د اسعارو د تبادلې مارکیټ؛

همدا راز لاندې څلور وړاندیزونه هم شتون لري چې راتلونکي ته د اقتصادي عالي شورا د منظورۍ په خاطر په نظر کې نیول شوي:

- د ډیجیټل پارکینګ سیستم وړاندیز د کابل ښار لپاره د اعمار، ګټې اخیستنې او انتقال د روش په واسطه؛
- د کابل ښار لپاره د بسونو د تمځای طرحه؛
- د افغانستان د عمومي سړکونو لپاره د حق العبور سیستم برابرول؛

- له حکومت او خصوصي سکتور سره د ګډې پانګې اچونې وړاندیز چې د VST ټکنالوژۍ څخه په ګټې اخیستنې د کورونو په جوړولو کې ترې استفاده کیږي؛

د دولتی ادارو لخوا ۱۵۰ بالقوه پروژې د مشارکت مرکزي ادارې ته تسلیم شوې چې له تحلیل او تکمیل کیدو وروسته به اولویت بندي شي او اقتصادي عالي شورا ته به د منظورۍ په موخه وړاندې شي.

## د بودجې د اجرا اصول

په دې برخه کې د بودجې د تطبیق اصول څرګندېږي.

### د بودجې د تطبیق حقوقي چوکاټ

۱. د عامه لګښتونو او مالي مدیریت قانون له ۳۷ مادې سره سم، ټول بودجوي واحدونه اړ دي څو خپلې بودجې د هغې د اجراء له اصولو سره سمې ولګوي. د اساسي قانون په استثنا له نورو نافذو قوانینو سره د هر ډول تناقض په صورت کې د بودجې د اجراء اصول د تطبیق وړ دي.

### د ملي بودجې د تطبیق لپاره اداري اړتیاوې

عمومي حکمونه

۲. د ۱۳۹۶ مالي کال، د ۱۳۹۵ کال د جدي میاشتې له لومړۍ ورځې څخه پیل او د ۱۳۹۶ کال د قوس تر وروستۍ ورځې (دسمبر تر نومبر) دوام کوي.

۳. د کابینې، پارلمان او جمهوري ریاست تر تصویب او فرمان وروسته، بودجه نهایي او ټول بودجوي واحدونه اړ دي څو له تصویب شوې بودجې سره سم خپل فعالیتونه ترسره کړي. که چېرې په دغه لارښود کې نه وي څرګند شوي، بودجوي تغییرات باید د مالیې وزارت پخوانی تصویب له ځانه سره ولري.

۴. بودجوي واحدونه اړ دي څو خپل تدارکاتي او مالي پلانونه د مالیې وزارت لخوا د لېږل شوي متحد المال له لارښوونې سره سم د مالي کال تر پیل وړاندې له تصویب شوې بودجې سره په مطابقت کې چمتو کړي. مالي پلانونه باید د میاشتې، د لګښتونو د کوډ او د ولایت پربنسټ د دواړو عملیاتي او پرمختیایي بودجو لپاره ترتیب او د مالیې وزارت ته وسپارل شي.

۵. د تدارکاتو قانون د ۱۲ مادې له دویم بند سره سم، هیڅ ډول تدارکاتي فعالیت تر هغې نشي پیل کېدای څو عامه وجوه د عامه مالي لګښتونو د مدیریت له قانون سره سم نه وي تخصیص شوي. اما د کابینې لخوا د ۱۳۹۷ کال د بودجې تر تصویب وروسته بودجوي واحدونه کولای شي خپل تدارکاتي طرزالعملونه د وخت د سپمولو په موخه پیل کړي. قراردادونه د پارلمان د تصویب او د ولسمشر له لوري د بودجې تر توشیح وروسته لاسلیکېدلی شي.

بدلونونه او تعدیلات

۶. د ۱۳۹۷ کال بودجه د کوډونو پر بنسټ تخصیصاتو ته شاملیږي چې پدې برخه کې بودجوي واحدونه اړ دي څو خپل لګښتونه د هر کوډ لپاره له اړوندو محدودیتونو سره سم ترسره کړي. له یو کوډ څخه بل کوډ ته انتقال یوازې د مالیې وزارت لخوا تصویبیږي. قراردادونه او نورې پیرودنې د تصویب شوې بودجې او د بودجوي کوډونو له حدودو سره سم باید تنظیم شي. هیڅ بودجوي واحد نشي کولی د اجناسو او خدمتونو هغه قراردادونه لاسلیک کړي چې د تصویب شوې بودجې تر محدودې زیات وي. د تېرو کلونو ژمنې یوازې له قانون سره سم کله چې اجناس او خدمتونه چمتو شوي وي، مګر تأدیات یې لاتصفیه وي، انتقالېدای شي. که چېرې یو وزارت یا یوه اداره انتقال ته اړتیا ولري، یاد وزارت یا اداره اړ ده څو مالیې

وزارت ته په کتبي ډول خبر ورکړي تر څو لاتصفیه شوي تأدیات یې د ۱۳۹۶ کال په اوږدو کې د بشپړ شوي کار په بدل کې په ۱۳۹۷ کال کې تصفیه شي او د مالیې وزارت اړ دی څو دغه غوښته تصویب کړي.

۷. په عمومي ډول، ټول بودجوي واحدونه اړ دي څو د هغو اجناسو او خدمتونو او لاتصفیه تأدیاتو لپاره چې قرارداد ولري، په یو ځانګړي مالي کال کې د تصفیې لپاره پلان جوړونه وکړي.

۸. د ۱۳۹۷ کال په بودجې کې لاندې فرعي کوډونه نورو فرعي کوډونو ته د انتقال وړ ندي:

الف. معاشات؛

ب. اضافه کاري؛

ت. د خوړو پیسې؛

ج. د برېښنا لګښت؛

ح. اوبو؛

خ. صفایي؛

د. مخابرات؛

ذ. د وسایطو حفظ او مراقبت؛

ر. د ودانیو د مراقبت لګښت؛

۸. په ممنوعه کوډونو کې انتقالات یا تعدیلات باید د مالیې وزارت لخوا تصویب شي. د اضافه کاری لپاره انتقالات له لست شویو ممنوعه کوډونو څخه پرته هم ممنوع دي.

۹. د مرستندویانو لخوا تمویلیدونکې عملیاتي بودجه په کورنیو چارو او ملي دفاع وزارتونو کې نورو کوډونو ته د دغو مرستندویانو د توافق په صورت کې د انتقال یا تعدیل وړ ده. د مرستندویانو تر تمویل لاندې له نورو کوډونو څخه ممنوعه کوډونو ته انتقالات ممنوع دي. د امنیتي شرایطو له کبله، د ملي دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت لوی ریاست د کوډونو تر منځ ۵ سلنه تعدیلات استثنا بلل کېږي چې دغه موضوع د عامه مالي مدیریت قانون په ۴۷ ماده کې ذکر شوي.

۱۰. له نورو کوډونو څخه اوپراتیفي کوډونو ته انتقالات ممنوع دي. اوپراتیفي لګښتونه یوازې د لاندې وزارتونو او بودجوي واحدونو لپاره د اجرا وړ دي:

الف. د دفاع وزارت؛

ب. د کورنیو چارو وزارت؛

ت. د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت؛

ج. ستره محکمه؛

ح. لويه څارنوالي؛

خ. د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره؛

د. د ملي امنيت لوی رياست؛

ذ. د ملي امنيت شورا، د کوچيانو رياست؛

ر. په پارلماني چارو کې د دولت وزارت؛

۱۱. د بودجې د پروخت تطبيق په هکله د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د ماليې وزارت صلاحيت لري څو د بودجې د کمېټې له تصويب څخه پرته په عملياتي بودجه کې د اقتصادي کوډونو ترمنځ د انتقالاتو اجازه ورکړي. مګر، د ۲۱ کوډ لګښتونه (مزد او معاشات) نورو کوډونو ته د انتقال وړ ندي. د امنيتي سکتور وزارتونه/ بودجوي واحدونه له دغه اصل څخه معاف دي.

۱۲. د مالي کال په اړدو کې د بودجې د اټکل څخه زيات د عوايدو په راټولولو کې د زياتوالي په صورت کې، د ماليې وزارت صلاحيت لري څو په پرمختيايي بودجه کې د هر ډول کسر د تمويل لپاره له اضافي عوايدو څخه ګټه واخلي.

۱۳. هغه وزارتونه او ادارې چې عملياتي لګښتونه لري، بايد د تصويب شوو ولايتي تخصيصاتو په هکله خپلو اړوندو ولايتي رياستونو ته د مالي کال په پيل کې خبر ورکړي او دغه تخصيصات له مالي پلان سره سم دغو رياستونو ته انتقال کړي څو ولايتي کارونه ترسره شي. نوموړي تخصيصات له يو ولايت څخه بل ته د مالي کال په اوږدو کې د انتقال وړ ندي، مګر دا چې د ماليې وزارت لخوا تصويب شوي وي.

د پروژو او قراردادونو مديريت

١٤. په داسې حال کې چې په قراردادونو کې څو کلنې ژمنې لاسليک کېدلای شي، په ټولو قراردادونو کې بايد دا شرط شامل وي چې د راتلونکو کلونو ژمنې د موجودو تخصيصونو تابع وي. هغه قراردادونه چې له غير اختياري پرمختيايي بودجې څخه د څو کلن ګرنټ د توافق له لارې تمويلېږي، دا مانا لري چې د ګرنټ توافق پخپله تخصيص دی او ښايي يو څو کلن قرارداد ته چې د عادي طرزالعملونو تابع وي، بدل شي. په هغو پروګرامونو کې بدلون چې د څوکلن ګرنټ لاندې فعاليت لري، د اټکلونو د بدلون مانا لري او په کلنۍ بودجه کې بايد د راتلونکي تصويب تابع نه وي. بدلونونه بايد د ماليې وزارت سره شريک او تر بحث لاندې ونيول شي.

۱۵. په يوه پروژه کې د کار د پيل څخه د مخه، د اړوندو مرستندويانو ليکلی توافق او د اختياري بودجې لاندې د کار په صورت کې د ماليې وزارت ليکلی توافق، د هرډول اضافه کارۍ لپاره اړين بلل کېږي. د اضافه کارۍ لګښتونه چې د اختياري بودجې لاندې پروژو کې تر ۱۵ سلنه زياتېږي، يوازې په استثنايي حالاتو کې تصويبېږي.

۱۶. هغه پروژې چې د دوو کلونو لپاره کاري پرمختګ ونلري، له بودجې څخه ایستل کېږي او د بودجې د کمېټې لخوا پرې بیاکتنه کېږي.

۱۷. د غیر اختیاري بودجې لاندې وزارتونه او بودجوي واحدونه اړ دي څو د یو قرارداد دربیمې خوا ته د غزولو څخه د مخه د اړوندو مرستندویانو لیکلی توافق له ځانه سره ولري او شفاهي ژمنې د منلو وړ ندي. د کال په اوږدو کې که چېرې یو مرستندوی له خپلې ژمنې څخه په شا کېږي، اجرا کوونکی وزارت یا بودجوي واحد اړ دی څو مالیې وزارت ته په ۲۰ کاري ورځو کې په دې هکله خبر ورکړي.

۱۸. په افغانستان کې ټول قراردادونه او تأدیات باید په افغاني اسعارو ترسره شي. مګر، له هېواده بهر تأدیات له دغه اصل څخه مستثنی ګڼل کېږي.

۱۹. ټول وزارتونه او بودجوي واحدونه اړ دي څو د خپلو بودجو اجراآتو ربعوار رپوټونه د مالیې وزارت او اقتصاد وزارت ته د هرې ربعې له پای څخه د دوو اونیو په اوږدو کې وسپاري. د مالیې وزارت به د اجراآتو یو واحد راپور چمتو او د ولسي جرګې د مالي چارو کمیسیون ته د هرې ربعې له پای څخه مخکې د یوې میاشې په ترڅ کې استوي.

۲۰. ټول بودجوي تخصیصونه (د احتیاطي کوډونو په استثنا) د تصویب شوې بودجې او مالیې وزارت ته د وزارتونو او ادارو د استول شویو مالي پلانونو پر بنسټ په کال کې دوه ځلې (شپږ میاشتې هریو) د تصویب شوې بودجې سره سم ترسره کېږي.

۲۱. ټول بودجوي واحدونه اړ دي څو خپل پیشکي بیلانسونه د مالي کال له پای څخه مخکې تصفیه کړي. ټولې پیشکي ګانې د پلټنې عالي ادارې لخوا ارزول کېږي او هر هغه بودجوي واحد چې ندی توانېدلې خپلې پیشکي ګانې د کال له پای څخه مخکې تصفیه کړي، د راتلونکې کال د پیشکي لپاره وړ نه پېژندل کېږي.

۲۲. د اساسي قانون د ۹۶ مادې سره سم، که چېرې یو قانون یا مقرره د نویو مالیاتو وضع کول یا د رسمي عوایدو کمولو ته اشاره کوي، د تلافي سرچینه یې د وړاندیز په متن کې باید مشخصه شي. هر هغه قانون یا مقرره چې د ملکي او نظامي کارکوونکو د معاشاتو زیاتوالي یا هر ډول هغو امتیازاتو کموالي ته اشاره کوي چې پخوا په بودجه کې (د راتلونکو کلونو د اټکلونو په ګډون) نه وي ذکر شوي، که چېرې په قانون کې نه وي ذکر شوي، دغه امتیازات یا نوي لګښتونه د راتلونکي مالي کال په پیل کې نافذ ګڼل کېږي.

۲۳. د سړکونو د حفظ او مراقبت بسپنې د لانبه ګټه اخیستنې په موخه به د ټولګټو وزارت د حفظ او مراقبت ټول قراردادونه په کلنی توګه لاسلیک او اړونده پیسې یې په هماغه کال کې به ولګوی. برسیره پردې د حفظ او مراقبت پیسې ٪۷۰ په اساسی حفظ او مراقبت، ٪۲۰ یې د سړکونو په عاجله بیارغونه او پاتې ٪۱۰ یې دسړکونو د واورو او شګو د پاک کولو له پاره د ګټه اخیستنې وړ دی. د ټولګټو وزارت په هیڅ صورت نشي کولای چې د پورته یاد شویو سلنې څخه زیاته پیسې ورکړی. د موثره تنظیم او کنترول په موخه یې به د بسپنې تخصیص د قراردادونو پر بنسټ به اجراشی.

که چیرې د لویو قراردادونو چې اندازه (مبلغ) یې د ۱۰۰ میلیون افغانیو څخه زیات وي او یادې قرارداد د راتلونکې کال په موده کې تکمیل کیږی، کولای شی قرارداد لاسلیک و پاتې پیسې یې د مالیې وزارت د موافقې وروسته د راتلونکې کال دبودیجې څخه ورکړي، خو د یادونې وړ ده چې د راتلونکې کال بودجه یې د اوسنی کال بودجه او د حفظ او مراقبت په برخه کې د اجراآتو په نظر کیې نیولو سره به متناسب وی.

د اساسي حفظ او مراقبت ټول قراردادونه باید د باز داوطلبي (NCB) لـه لارې تـرسره شي، د داوطلبـي سـتندرد اسـناد او قـرارد داد څخه باید ګته واخستل شي. د ټولګټو وزارت باید هڅه وکړی چې د کوچنیو او غیر معیاری قراردادونو څخه مخنیوای وکړی او په هیڅ صورت نشي کولای چې د منبع واحد او یا خوش خرید څخه ګټه پورته کړی.

د بشري سرچینو مدیریت (تشکیل)

۲٤. وزارتونه او اړوندې اداري اړ دي څو خپل تشکیل د ملي او سیمه ییزو کچو پربنسټ د بودجې له سقف سره سم چې هر وزارت ته د ملي شورا لخوا ټاکل شوی وي، ترتیب کړي او د مالي کال په ترڅ کې په خپل تشکیل کې له هر ډول زیاتوالي څخه په جدي توګه ډډه وکړي. هغه تصویب شوی تشکیل چې د بودجې په سند کې درج وي، وروستی ګڼل کیږي.

۲۵. په یوه وخت کې هیڅ دولتي کارکوونکی نشي کولای له دوو ادارو څخه په رسمي ساعتونو کې معاش ترلاسه کړي.

۲٦. د داخلي کارکوونکو (د افغانستان اتباع) د اختیاري او غیر اختیاري پروژو لاندې معاشات باید د ان ټي ای (NTA) د پالیسی سره سم ورکړل شي. د نړیوالو کارکوونکو (نامېشتو اتباعو) معاشات د پروژې د معیارونو پربنسټ په یوه پروژه کې ټاکل کېدای شي، مګر په عمومي ډول د لنډ مهاله نړیوالو سلاکارانو لپاره د نړیوال بانک د معاشاتو له محدودې څخه باید ګټه واخیستل شي.

## د توحید شوي بودجې شرحه

### له معیارونو سره همغږي

د پرانیستې او ځواب ورکوونکې حکومتولۍ له اصولو سره سم، دولت د مرکزي حکومت د سکتور لپاره د بودجې د مالي شرحو یوه توحید شوې ټولګه چمتو کړې ده. نوموړې مالي شرحې د دولت د مالي احصایې (GFS) له نغدي معیار سره په بشپړه همغږۍ د مخ پر ودې هېوادونو لپاره په ۲۰۱۱ کال کې د تدوین شوي لارښود پربنسټ چمتو شوې دي. د بودجې د مالي شرحو د چمتو کولو لپاره د دغه معیار د تطبیق څخه موخه د بودجې او د کال د پای د حسابونو تر منځ د پرتلې وړاندې کول دی.

د نسبي بشپړې همغږۍ اساسي برخې په لاندې توګه دي:

- د راپور ورکونې د معیار په توګه "د منابعو او نغدي پیسو د استفادې د شرحې" تطبیق؛
- د راپور ورکونې په معیار کې د GFS د طبقه بندۍ (اقتصادي) له معیار څخه ګټه اخیستنه؛
- د محاسبې اساسي اصول: د عادي او پرمختیایي بودجې توحید؛ د مقروضیتونو پیژندنه، د توکو د جریان او ذخیرې انډول کول او منطقي قواعد؛
- د مختلفو بنسټونو توحید – د تخصیص ګرنټونه؛
- د دولت د سکتور د اداري واحدونو سمه پیژندنه؛
- د فعالیتونو پربنسټ د لګښتونو په اړه راپور ورکونه (د دولت د فعالیتونو د طبقه بندۍ پربنسټ – CoFOG)؛ او
- د دولت د فعالیتونو د طبقه بندۍ – CoFOG لپاره د نښلوونکو جدولونو (Bridging Tables) څخه ګټه اخیستنه (پروګرام، فعالیت او اقتصادی کټګوری).

د نه همغږۍ برخې لاندې موارد رانغاړي:

- د نورو اقتصادي جریانونو په اړه شرحه؛
- بیلانس شیټونه؛
- متناقضه ارزښت ورکونه او د جریاناتو پر وخت ترسره کول او ثبت؛
- د دوه ګونې حسابدارۍ سیستم نشتون (Double entry accounting)؛
- د سیمه ییزو او ولایتي ادارو او نورو بودجوي واحدونو لکه د تقاعد د وجوهو او د ټولنیز خوندیتوب وجوهو د ځانګو په ګډون په ټول عمومي دولتي سکتور (GGS) کې د حساب نشتون؛ او
- د مالي او غیرمالي بنسټونو په ګډون په ټول عامه سکتور کې د راپور ورکونې نشتون. حکومت پدې هڅه کې دی څو دغو موضوعګانو ته د بودجوي همغږۍ د میکانیزمونو او د عامه مالي مدیریت د تطبیق د بهیر له لارې رسېدنه وکړي.

دولت په دې اند دی چې د نه همغږۍ شتون د مخنیوي وړ مالي او پرمختیایي خطرونو لامل ګرځي او هڅه کوي څو د ملي عامه سکتور حسابداري، طبقه بندي او د راپور ورکونې معیارونه پلي کړي. د یو ملي معیار په نشتون کې دغه شرحې د دولت هغه پالیسي څرګندوي چې ګواکې د دولت مالي احصاییې (GFS) د بودجې د محاسبې د پالیسۍ بنسټ کېدلای شي، په استثنا د هغه وخت کله چې دغه کار د ظرفیتونو او اصلاحاتو د محدودیتونو له کبله ناشونی وي. دولت هڅه کوي څو د مالي اجراآتو د ښه کولو د پلان (FPIP) د دواړو خصوصي او عامه سکتور د محاسبې د معیارونو د پلي کولو په موخه یو کمپاین په لاره واچوي.

د تېرو کلونو راپور ورکونه (د ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴ او ۲۵ کوډونه) او د تصفیه بندۍ جوړښتونه د شته تفاوتونو په اړه د لوستونکو د پوهولو په موخه په پام کې نیول شوي. د دولت د مالي احصائیې (GFS) شرحې د اساسي اکونټ له تصفیه بندۍ سره یوځای وړاندې شوي دي. د مطابقت/همغږۍ د اوسنۍ کچې په اړه د معلوماتو د وړاندې کولو په موخه د حسابونو جدول پرته له کوم بدلون څخه پرېښودل شوی دی.

په دې برخه کې د لاندې مواردو په اړه شرحې وړاندې شوې:

- د تیر کال، سږ کال، د ۱۳۹۷ د بودجې کال او د راتلونکو دریو کلونو د اټکلونو د بودجې عمومي ارقام؛
- د نوعیت پر بنسټ د مالیاتي عوایدو مفصل جدولونه؛
- د نوعیت پربنسټ د غیر مالیاتي عوایدو مفصل جدولونه؛
- د مرستندویانو او د مرستې د نوعیت پربنسټ د مرستو د عوایدو مفصل جدولونه.

## د پالیسۍ اړوند نوي فعالیتونه

### لنډه کتنه

دغه برخه د ۱۳۹۷ کال د بودجې د پالیسۍ نوي نوښتونه په ګوته کوي او دا په ډاګه کوي چې د حکومت لخوا شوې پرېکړې په عوایدو او لګښتونو کې د کومو بدلونونو لامل ګرځېدلې او د لاندې مواردو په هکله معلومات وړاندې کوي:

- د یادو پریکړو په وسیله دولت څه ترلاسه کول غواړي؛
- څنګه دولت خپلو اهدافو ته رسیدل غواړي؛
- څوک له پرېکړې څخه برخمن کېږي؛ او
- راتلونکو څو کلونو (او له هغې هاخوا) اټکلونو کې وړاندویل شوي مصارف.

د پالیسۍ نوي نوښتونه(فعالیتونه) څه دي؟

د پالیسۍ نوي نوښتونه هغه پالیسۍ، پروګرامونه او پروژې دي چې په ۱۳۹۷ کال (یا له هغه وروسته) پیلېږي؛ دغو نوښتونو کې هغه پرېکړې هم شاملې دي چې د تېرو تصویب شویو پروګرامونو محدوده او لګښتونو په اساسي ډول بدلوي.

د نوې پالیسۍ تعریف لاندې موارد په بر کې نیسي:

- په مالیاتو او نورو کړنو کې هغه بدلون چې د دولت عواید زیاتوي؛
- د لګښتونو نوي نوښتونه؛ او
- د پخوانیو بې ګټو دولتي لګښتونو د کمولو لپاره منل شوي نوښتونه.

دغه بودجه ګڼ شمېر اصلاحات لري چې لاندې موارد رانغاړي:

- د واقعیت بنسټه لګښتونو د منعکسولو په موخه، دغه بودجه په اوسنیو پروګرامونو کې د لګښتونو پروفایل ته بدلون ورکوي؛
- د دولت او مرستندویانو د پروژې د پای د ژمنو په شمول، د بودجې او د درېیو راتلونکو کلونو د عوایدو او لګښتونو لپاره د منځمهاله مصارفاتي چوکاټ تطبیق.

که څه هم په بودجه کې دغه موارد افغانانو ته په لومړي ځل وړاندې کېږي، مګر دغه موارد د دولت په پالیسۍ کې بدلون نه دی او پدې برخه/سند کې په اړه یې په جلا توګه ګزارش دهي نه کېږي.

د ۱۳۹۷ کال په بودجه کې د پالیسۍ یوازې عمده نوښتونو ته اشاره کېږي. دولت هوډ لري څو په راتلونکي کې د پالیسۍ ټول نوي نوښتونه په بودجه کې شامل کړي.

په عوایدو او لګښتونو کې (دواړه مثبت او منفي) بدلونونه په جلا برخو کې تربحث لاندې نیول شوي او هره برخه د سکتور پربنسټ ترتیب شوې ده. په هغه صورت کې چې په عوایدو یا لګښتونو کې د کوم وزارت یا ادارې نوم نه وي ذکر شوی، پدې مانا ده چې د دولت لخوا د پالیسی اړوند کوم اساسي نوښت په هغه برخه کې ندی نیول شوی. یو وزارت یا ادارې ته ښایي په یوه برخه کې اشاره شوی وي، نه په بله برخه کې.

## د پالیسی نوي نوښتونه (فعالیتونه) – عواید

د ۱۳۹۷ کال په بودجه کې د عوایدو لپاره د پالیسی نوي نوښتونه شتون نلري. د اصلاح شوې پالیسی او پیاوړې شوې ادارې له لارې د دولت پام د کورنیو عوایدو په زیاتوالی متمرکز دی او د ۱۳۹۷ کال د بودجې په ضمیمه کې به نوي اقدامات ورته په پام کې ونیول شي.

په دغه بودجه کې د دولت د عوایدو په هکله د مفصلو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د بودجې ستراتیژي او لرلید – عواید او مرستو برخې ته مراجعه وکړئ.

## د پالیسې نوې فعالیتونه – لګښتونه

۱۹ جدول – په ۱۳۹۷ بودجه کې د پالیسی نوي فعالیتونه

| سکتور/اداره/ پروژی | ۱۳۹۷ |
|---|---|
| **حکومتولي، د قانون ټینګښت او بشري حقونه** | **۳٤,۱۷۰,۰۰۰** |
| د عدلیې وزارت | **۱۳,٦٦۸,۰۰۰** |
| د قانون طرحه | ۱۳,٦٦۸,۰۰۰ |
| د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون | **۲۰,۵۰۲,۰۰۰** |
| د بشري سرچینو د معلومات د مدیریت سیستم | ۲۰,۵۰۲,۰۰۰ |
| **زیرمې او طبیعي سرچینې** | **۲۰۳,۳۰۰,۰۰۰** |
| د کانونو وزارت | **۱۳٦,۰۰۰,۰۰۰** |
| د افغانستان د قیمتي کانونو سروی | ۱۳٦,۰۰۰,۰۰۰ |
| د مخابراتو وزارت | **۷,۰۰۰,۰۰۰** |
| د پوستي خدمتونو پراختیا او عصري کول | ۷,۰۰۰,۰۰۰ |
| د انرژی او اوبو وزارت | **٤۰,۲۰۰,۰۰۰** |
| له ګازو څخه برېښنا ته د مزارشریف د پروژې چمتو کول | ۳۳,۵۰۰,۰۰۰ |
| د تخار په اشکمش ولسوالی کې د برېښنا د جوړولو پروژه | ٦,۷۰۰,۰۰۰ |
| د پلازمېنې زون د پراختیا خپلواکه اداره | **۲۰,۱۰۰,۰۰۰** |
| د کابل هوایي ډګر د ۲ کیلومتره مواصلاتي سړک جوړول | ٦,۷۰۰,۰۰۰ |
| د ښار او شاوخوا سیمو د ۵۰ کیلومتره سړکونو جوړول (سنګ فرش) | ٦,۷۰۰,۰۰۰ |
| د لسمې ناحیې د ۱۰ کیلومتره اتصالي سړک جوړول | ٦,۷۰۰,۰۰۰ |
| **پوهنه** | **۱۲۰,۲۹۳,۰۰۰** |
| د ملي رادیو تلویزیون لوی ریاست | |

| سکتور/اداره/ پروژې | ۱۳۹۷ |
|---|---|
| | **۳۵,۲۹۳,۰۰۰** |
| د باميان، ميدان وردګ، سرپل، پکتيا، بادغيس او لوګر په ولايتونو کې د تلويزيون د استديوګانو جوړول | ۲۸,٤٥۹,۰۰۰ |
| د څرخي پله، آسمايي غره، يکه تون او انصاري واټ د متوسط موج د تياره سيمو روښانه کول | ٦,۸۳٤,۰۰۰ |
| د لوړو زده کړو وزارت | **۸۵,۰۰۰,۰۰۰** |
| د علمي څېړنو د پروګرامونو د کيفيت پياوړتيا او ښه کول | ٦,۰۰۰,۰۰۰ |
| د پوهنې او روزنې په پوهنتون کې د څېړنيز مرکز او کتابتون جوړول | ۵,۰۰۰,۰۰۰ |
| اعمار پارکنګ وسايط در پوهنتون کابل | ٦,۰۰۰,۰۰۰ |
| په کندهار کې د ښځينه پوهنتون جوړول | ۷,۰۰۰,۰۰۰ |
| د دايکندي د لوړو زده کړو موسسې د تدريسې تعمير جوړول | ۱۰,۰۰۰,۰۰۰ |
| د کابل پوليتخنيک پوهنتون کې د څېړنيز مرکز جوړول | ۵,۰۰۰,۰۰۰ |
| د کابل پوهنتون کدري روغتونونو لپاره د عاجلو اتاقونو جوړول او د دوه امبولانسونو او د زباله سوزونکي ماشين پيرودل | ۳۰,۰۰۰,۰۰۰ |
| د لابراتوارونو او کتابتونونو پراختيا | ٦,۰۰۰,۰۰۰ |
| د سرپل د لوړو زده کړو اداري وداني جوړول | ۵,۰۰۰,۰۰۰ |
| د کندز پوهنتون د تدريسي وداني جوړول | ۵,۰۰۰,۰۰۰ |
| **روغتيا** | **۱۰۹,۳٤٤,۰۰۰** |
| د عامې روغتيا وزارت | **۱۰۹,۳٤٤,۰۰۰** |
| د افغانستان د طبي شورا پياوړتيا | ۳٤,۱۷۰,۰۰۰ |
| د زونونو په کچه د لابراتوارونو تجهيز او د دارو او صحي محصولاتو د کيفيت کنترول او د کيفيت د صحي تضمين پياوړتيا | ۵٤,٦۷۲,۰۰۰ |
| د درو او صحي محصولاتو متمرکزه تدارکاتي ځانګه | ۲۰,۵۰۲,۰۰۰ |
| **کرنه او د کليو پراختيا** | **۱,۱۰۹,۸۲۸,٤۱۰** |
| د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت | **۵۹۷,۲۷۸,٤۱۰** |
| د ګلخانه يي ښارګوټو جوړول | ۳۲۳,۰۲۹,۹۹۰ |
| د آبي سرچينو د پراختيا لپاره د پانګونې پروګرام | ۸٦,۳۱۳,٤۲۰ |
| د اوبو لګونې او کرنيزو شبکو بياجوړونه | ۱۳٦,٦۸۰,۰۰۰ |
| غله جاتو لپاره د ستراتيژيکو زيرمو جوړول SGR | ۵۱,۲۵۵,۰۰۰ |
| د کليو د پراختيا او بيارغونې وزارت | **۳٤۱,۷۰۰,۰۰۰** |
| د کاريزونو بياجوړونه او له سيلابونو څخه مخنيوی | ۳٤۱,۷۰۰,۰۰۰ |
| مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت | **۳٤,۱۷۰,۰۰۰** |
| د هلمند ولايت د پوهنتون تالار جوړول | ۳٤,۱۷۰,۰۰۰ |
| د افغانستان د ځمکو اداره | **۱۳٦,٦۸۰,۰۰۰** |
| د هېواد په کچه د ځمکو د عصري ثبت ملي پروژه | ۱۳٦,٦۸۰,۰۰۰ |
| **ټولنيز خونديتوب** | **۸,۵۰۰,۰۰۰** |
| د ښځو چارو وزارت | **۸,۵۰۰,۰۰۰** |
| د ښځينه باغونو کمپلس | ۸,۵۰۰,۰۰۰ |
| **اقتصادي سکتور او د خصوصي سکتور پراختيا** | **۲۸۰,۹۵۰,۰۰۰** |
| د سوداګرۍ وزارت | **۱۳,٤۰۰,۰۰۰** |
| ابتکاري صنايع (صنايع خلاق) | ۱۳,٤۰۰,۰۰۰ |

| سکتور/اداره/ پروژې | ۱۳۹۷ |
|---|---|
| د اقتصاد وزارت | **۱۱۵,۱۰۰,۰۰۰** |
| د شرکتونو د طبقه بندۍ ځانګه | ۳۳,۵۰۰,۰۰۰ |
| د کوچنیو سرحدي پروژو مدیریت | ۸۱,٦۰۰,۰۰۰ |
| د افغانستان د استندرد ملي اداره | **۳۳,۸۵۰,۰۰۰** |
| د کیفیت تصدیق | ۲٦,۸۰۰,۰۰۰ |
| افغانستان کې د سوداګرۍ د نړیوال سازمان فعالیتونه (WTO) | ۷,۰۵۰,۰۰۰ |
| د مالیې وزارت | **۱۱۸,٦۰۰,۰۰۰** |
| د مالیې وزارت لپاره ودانۍ، پراختیا او د شتمنیو ترلاسه کول | ۱۱۸,٦۰۰,۰۰۰ |
| **مجموع** | **۱,۸٦٦,۳۸۵,٤۱۰** |

## زیربنایي پروژو ته کتنه

ګڼ شمیر داسې زیربنایي پروژې شته چې له تېرو کلونو راهیسې له ځانګړي ځنډ سره مخ او نابشپړې پاتې دي. دغه پروژې به په هرو شپږو میاشتو کې د بودجې د کمیټې لخوا تر کتنې لاندې ونیول شي څو لګښتونه او د پلي کیدو پلانونه یې وڅېړل شي او بودجوي اټکلونه یې وارزول شي. دا یو مهم ګام دی چې د ملي پراختیایي فعالیتونو لپاره د زیربناوو په اړه د پرمختګ اهمیت په ډاګه کوي.

**شلم جدول: زیربنایي پروژې**

| وزارت | د پروژې کوډ | د پروژې نوم | تمویل کوونکی | اختیاري/غیراختیاري | بودجه ۱۳۹۷ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٤ د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت | ۳٤۰۱۰۰ | د پاسپورت د ویشلو آنلاین سیستم | د افغانستان دولت | اختیاري | ۳۳,۵۰۰,۰۰۰ |
| ۳٤ د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت | ۳٤۰۱۰۷ | د مخابراتي معلوماتو حقیقي سیستم | د افغانستان دولت | اختیاري | ۳۳,۵۰۰,۰۰۰ |
| ۳٤ د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت | ۳٤۰۰۱۵ | د افغانستان د معلوماتي ټکنالوجی پراختیا (برېښنایي حکومتولي) | د مخابراتو پراختیایي وجوه | غیراختیاري | ۸۰٤,۰۰۰,۰۰۰ |
| ۳٤ د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت | ۳٤۰۱۰۸ | دیجیتل کاسا | نړیوال بانک | غیراختیاري | ۱۳٤,۰۰۰,۰۰۰ |
| ٤۱ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤۱۰۱۳۰ | د ګمبیري د اوبو لګونې پروژې ډیزاین او جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,۷۰۰,۰۰۰ |
| ٤۱ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤۱۰۲۱۳ | د کابل ولایت د شاه توت بند د پروژې جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,۷۰۰,۰۰۰ |
| ٤۱ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤۱۰۲٥٤ | د پکتیا او پکتیکا ولایتونو د مچلغو په سیمه کې د اوبو او برېښنا د بند ډیزاین او جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ۳۳,۵۰۰,۰۰۰ |
| ٤۱ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤۱۰۳۹۹ | د فاریاب په ولایت کې د اوبو لګونې د بند ډیزاین او جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,۷۰۰,۰۰۰ |
| ٤۱ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤۱۰٤۸٦ | د کابل ولایت د امیر غازي د ذخیرې د بند بیارغونه | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,۷۰۰,۰۰۰ |
| ٤۱ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤۱۰٤۸۹ | د شیندند ولسوالۍ د یو میګاواټ سولري برېښنا پروژه | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,۷۰۰,۰۰۰ |
| ٤۱ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤۱۰٥٤۹ | د ډایکندي ولایت د سولري برېښنا ډیزاین او جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ۳۳,٥۰۰,۰۰۰ |
| ٤۱ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤۱۰۷٤۸ | ۲۱ کوچني او منځني بندونه | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦۷,۰۰۰,۰۰۰ |

| وزارت | د پروژې کوډ | د پروژې نوم | تمویل کوونکی | اختیاري/غیراختیاري | بودجه ۱۳۹۷ |
|---|---|---|---|---|---|
| ٤١ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤١٠٧٥٢ | د کنړ ولایت د ساګي د برېښنا بند د پروژې تفصیلي ډیزاین | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,٧٠٠,٠٠٠ |
| ٤١ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤١٠٧٥٣ | د ننګرهار ولایت د کامې د برېښنا او اوبو لګونې بند د پروژې ډیزاین او جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ١٣,٤٠٠,٠٠٠ |
| ٤١ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤١٠٧٥٦ | د کابل ښار ١٥ میګاواټه سولري برېښنا پروژه | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,٧٠٠,٠٠٠ |
| ٤١ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤١٠٧٥٧ | د نهرشاهي ٤٠ میګاواټه سولري برېښنا پروژه | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,٧٠٠,٠٠٠ |
| ٤١ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤١٠٧٥٩ | د نغلو ١٠٠ میګاواټه سولري برېښنا پروژه | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,٧٠٠,٠٠٠ |
| ٤١ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤١٠٧٦٣ | د کله ګوش اوطن ګتو اوبو لګوني کانال تفصیلي دیزاین او د لغمان ولایت د مهترلام او بابا دښتو او بو لګونه | د افغانستان دولت | اختیاري | ١٣,٤٠٠,٠٠٠ |
| ٤١ د اوبو او برېښنا وزارت | ٤١٠٧٦٧ | د فراه ولایت ١٢ میګاواټه سولري برېښنا پروژه | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,٧٠٠,٠٠٠ |
| ٤٢ د ټولګټو وزارت | ٤٢٠١٦٧ | د ١١٧ کیلومترو په اوږدوالي د کابل ښار د حلقوي سړک ډیزاین او جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦٧,٠٠٠,٠٠٠ |
| ٤٢ د ټولګټو وزارت | ٤٢٠٤٥٠ | د بدخاک ازره څخه تر جاجي آریوب ولسوالي د سړک قیراچونه | د افغانستان دولت | اختیاري | ٣٣,٥٠٠,٠٠٠ |
| ٤٢ د ټولګټو وزارت | ٤٢٠١٦٧ | د ١١٧ کیلومترو په اوږدوالي د کابل ښار د حلقوي سړک ډیزاین او جوړول | د آسیا پراختیایي بانک | غیراختیاري | ١٣٤,٠٠٠,٠٠٠ |
| ٤٢ د ټولګټو وزارت | ٤٢٠٣٤١ | د ٥٥٠ کیلومترو په اوږدوالی یکاولنګ څخه تر کندهاره پورې د سړک اقتصادي او تخنیکي مطالعه | د آسیا پراختیایي بانک | غیراختیاري | ٣٣,٥٠٠,٠٠٠ |
| د اوسپنې د پټلۍ خپلواکه اداره | ٤٢٠٥٣٩ | د سپین بولدک - کندهار د اوسپنې د پټلۍ جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٣٣,٥٠٠,٠٠٠ |
| د اوسپنې د پټلۍ خپلواکه اداره | ٤٢٠٥٤٠ | د خواف - هرات د څلورمې قطعې د اوسپنې پټلۍ جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٣٣,٥٠٠,٠٠٠ |
| د اوسپنې د پټلۍ خپلواکه اداره | ٤٢٠٥٤١ | د تورخم - جلال آباد - کابل د اوسپنې پټلۍ جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,٧٠٠,٠٠٠ |
| د اوسپنې د پټلۍ خپلواکه اداره | ٤٢٠٥٤٣ | د کندز - شیرخان بندر - مزارشریف د اوسپنې پټلۍ جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,٧٠٠,٠٠٠ |
| د اوسپنې د پټلۍ خپلواکه اداره | ٤٢٠٥٤٤ | د تورغندي - هرات د اوسپنې پټلۍ جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,٧٠٠,٠٠٠ |
| د اوسپنې د پټلۍ خپلواکه اداره | ٤٢٠٥٤٦ | د آقینه - اندخوی د اوسپنې پټلۍ جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,٧٠٠,٠٠٠ |
| د اوسپنې د پټلۍ خپلواکه اداره | ٤٢٠٥٤٧ | د اندخوی - مزارشریف د اوسپنې پټلۍ جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,٧٠٠,٠٠٠ |
| ٤٤ د ملکي هوايي چلند خپلواکه اداره | ٤٤٠٢١٥ | د ننګرهار ولایت د غازي امان الله خان مینې د ښارګوټي شاته د نوي هوايي ډګر ډیزاین، جوړول او د حاطوي دیوال جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦,٧٠٠,٠٠٠ |
| ٤٤ د ملکي هوايي چلند خپلواکه اداره | ٤٤٠٢٢٢ | د لوګر په ولایت کې د نړیوال هوايي ډګر د تخنیکي ډیزاین مطالعه او جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ١٣,٤٠٠,٠٠٠ |
| ٧٩ د کابل ښاروالي | ٧٩٠٠٨٨ | د ګردنه سخي له لارې د کارته آریانا څخه تر پوهنتونه پورې د سړک جوړول | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦٧,٠٠٠,٠٠٠ |
| ٨٤ د مرکزي زون د پراختیا خپلواکه اداره | ٨٤٠٠١٥ | د محمد آغې صنعتي پارک | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦٧,٠٠٠,٠٠٠ |
| ٨٤ د مرکزي زون د پراختیا خپلواکه اداره | ٨٤٠٠١٦ | د میدان ښار لوژستیکي پارک | د افغانستان دولت | اختیاري | ٦٧,٠٠٠,٠٠٠ |

**د افغانستان د اوسپنې پټلۍ خپلواکه اداره – د هرات/خواف د اوسپنې پټلۍ رغونه - دويمه برخه، څلورمه څانګه**

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانی) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانی) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختياري پراختيايي | | | | | |
| غيراختياري پراختيايي | | ۵,۰۲۵.۰ | | | |

له سيمې سره د افغانستان نښلول، د حکومت له مهمو لومړيتوبونو څخه ګڼل کېږي. حکومت ژمنه کړې ده چې په ۱۳۹۷ کال کې په ټوليز ډول پنځه ميلیارده (۵ میلیارد) افغانۍ د يو کال په اوږدو کې د اوسپنې پټلۍ د جوړونې د ملاتړ او د اجناسو د انتقال اسانولو په موخه برابرې کړي. د اوسپنې پټلۍ درې برخې چې دوې برخې يې په ايران کې او يوه برخه يې په افغانستان کې ده، مخکې له مخکې جوړې او کار يې بشپړ شوی دی. وروستی ۴۴ کېلومتره يې د هرات د روزنک ولسوالۍ څخه تر هرات هوايي ډګر پورې به په دوو مرحلو کې په ۱۳۹۷ کال کې جوړ شي. د اوسپنې پټلۍ به لاندې موارد سنبال کړي:

د اجناسو د انتقال اسانول، د سيمه ييزو او نړيوالو بازارونو سره نښليدل، د سيمه ييزو اړيکو ښه والی، د کار جوړونې او د بې وزلۍ د کمولو له لارې د سيمې د خلکو لپاره ټولنيزې او اقتصادي ګټې برابرول، د تجارتي بيلانس کمښت راټيټول او له افغانستانه د اجناسو د صادراتو زياتوالی.

**د ټولګټو وزارت – د نورستان له مرکز څخه تر کنړونو پورې د ۲۵ کېلومتره سړک قير اچونه**

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانی) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانی) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختياري پراختيايي | | | | | |
| غيراختياري پراختيايي | | ۴۰۰.۰ | ۴۳۵.۵ | ۴۷۱.۰ | |

حکومت به مجموعاً ۱,۳ میلیارده افغانۍ د نورستان له مرکز څخه تر کنړ پورې د ۲۵ کېلو متره سړک جوړونې له پاره د درېيو کلونو په اوږدو کې برابر کړي. نورستان او کنړ ولايتونه په لوړه کچه کرنيزو محصولاتو باندې ولاړ دي چې د دې سړک په جوړولو سره به محلي کرهنيز توليدات په آسانه او ارزانه بيه د سيمې بازارونو ته ورسيږي.

**د ټولګټو وزارت - د کابل ښار ۹۵،۲۴ کیلومتره حلقوي سړک قیر اچونه**

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | | | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | ۳,۰۰۰.۰ | ۳,۹۱۰.۰ | ٤,۰۰۰.۰ | ٤,٥۰۰.۰ |

د کابل د حلقوي سړک جوړېدنه د پلازمېنې زون د پراختیا د ستراتیژیک پلان یوه برخه ده. حکومت ژمنه کړې ده چې د کابل د حلقوی سړک د جوړولو د ملاتړ له پاره مجموعاً ۲۰.۷ میلیارده افغانۍ د شپږو کلونو په اوږدو کې ورکړي. دغه حلقوي سړک به څلور ترافیکي کرښې ولري او په څلورو پړاوونو کې به جوړ شي چې مجموعاً ۹۵،۲۴ کېلو متره اوږدوالی به ولري. د ۲۴،۹۵ کیلو متیرو په اوږدوالي جوړ شوی سړک به څلور ترافیکي کرښې ولري او په څلورو پړاوونو کې به جوړ شي. د ۱۴۰۰ کال څخه وروسته به دغه پروژه اضافي ۵،۳ ملیارده افغانیو ته اړتیا ولري. دغه سړک به په کابل ښار کې ترافیکي ګڼه ګونه کمه کړي، امنیت به ښه کړي او د خلکو او د اجناسو په انتقال او په خاصه توګه کابل ته د غیر ضروری تګ د مخنیوي لپاره به اسانتیاوې برابرې کړي.

**امنیت**

**د دفاع وزارت –دفاعي ځواکونه، افغان ملي اردو او ملکي کارکوونکو حق الخطر او د معاشاتو زیاتوالی**

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادی | | ۹,۰۳٦.۸ | ۹,۰۳٦.۸ | ۹,۰۳٦.۸ | ۹,۰۳٦.۸ |
| اختیاري پراختیایي | | | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

حکومت د وسله والو ځواکونو او ملي اردو سرتېرو په معاشاتو او د شرایطو په خړنګوالی کې لاندې بدلونونه اعلان کړي دي: د وسله والو ځواکونه او د ملي اردو سرتیرو په معاشونو کې ۵ سلنه زیاتوالی او د ملي دفاع وزارت د ملکي کارکوونکو په معاشونو کې به ۱۰۰٪ زیاتوالی راشي.

### د دفاع وزارت – د ملي اردو په اډو کې د روغتیايي کلینیکونو رغونه

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | ۰.۵ | ۰.۵ | ۰.۵ | ۰.۵ |
| اختیاري پراختیایي | | | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

په ۱۳۹۷ او راتلونکي هر یو کال کې به حکومت ۰،۵ میلیونه افغانۍ د ملي اردو په واحدونو کې د کلینیکونو جوړولو لپاره ولګوي.

### د کورنیو چارو وزارت – ساختماني/ودانیز کارونه

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | ۸.۶ | ۷.۳ | ۷.۳ | |
| اختیاري پراختیایي | | | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

له ۱۳۹۷ څخه تر ۱۳۹۹ پورې به حکومت لاندې ودانیز کارونه ترسره کړي: په ۴۵ ولسوالیو کې د ولسوالیو امنیه قوماندانیو ودانۍ جوړول او د الحاقیې (mission – side) ودانۍ جوړول.

## حکومتولي، د قانون ټینګښت او بشري حقونه

### د عدلیې وزارت – د قوانینو د طرحې پروژه

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | | ۱۳.۶ | ۲۰ | ۲۰ | ۲۰ |

په هیواد کې د قوانینو لاښه طرح او تدوین لپاره د عدلیې وزارت په پام کې لری چې د قوانینو د طرحې د پروژې لاندې هر کال ۲۰ میلیونه افغانۍ پانګه اچونې سره د پیاوړې کدرونو استخدام او ساتنه وکړي

### د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون –د بشري سرچینو د معلوماتو مدیریت سیستم

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | | ۸.۵ | ۸.۵ | ۸.۵ | ۸.۵ |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

حکومت به تر راتلونکو څلورو کلونو پورې (۱۳۹۷-۱۴۰۰) هر کال ۸،۵ میلیونه افغانۍ د بشري سرچینو د معلوماتو مدیریت سیستم جوړولو باندې ولګوي څو په ټولو حکومتي ادارو کې د بشري سرچینو مدیریت سیستمونو اجراآتو کې ښه والي او رونتیا رامنځته شي.

### د کلیو پراختیا او کرهنه

#### د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت – کرهنیزی ګلخونې

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | | ۲۸۳.۲ | ۲۸۳.۰ | ۲۸۳.۰ | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

حکومت به د مولدیت، کار موندنې او د بې وزلۍ د کمولو په موخه په پنځو مهمو ولایتونو کې د کرهنیزو ګلخونو د جوړولو د ملاتړ لپاره د دریو کلونو په اوږدو کې مجموعاً ۸۵۰ میلیونه افغانۍ برابرې کړي. دغه پروژه به په کابل، بلخ، ننګرهار، کندهار او هرات ولایتونو کې پلې شي او مستقیماً ۳۰ زره تنه به تر پوښښ لاندې ونیسي. همدا شان دغه پروژه به په کال کې د ۲۲۵۰۰ ټنه تازه سابو او میوې په تولید کې ښه والی رامنځته کړي او مستقیماً شپږ زره (۶۰۰۰) تنو ته به د کار فرصتونه برابر کړي. همدارنګه د

نوموړې پروژې په پلي کېدو سره به په تولیداتو کې ښه والی رامنځته او د صادراتو د کچې په لوړولو سره به د سوداګرۍ د بیلانس کمښت را ټیټ کړي.

**د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت – د کرهنیزې اوبو لګونې شبکې بیارغونه**

| کال | ۱۳۹٦ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | | ۱۳۰.۰ | ٦۳۷.۰ | ٤۳۷.۰ | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

د کرهنې لپاره د اوبو لګونې شبکې د بیارغونې کار په اختیاري بودجه کې د ۲۰ میلیونو ډالرو فعالیت دی چې د کرهنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت لخوا د USAID په مالي ملاتړ تر سره کېږي. دغه پروګرام د حکومت د ۲۰۱٦-۲۰۲۵ کلونو د اوبولګونې په ملي پروګرام کې یو ستراتیژیک لومړیتوب ګڼل کېږي.

د دغه پروګرام اوسنی مرحله د کرهنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د کرهنیزې اوبو لګونې شبکې د بیارغوونې پروژې پلي کولو په هکله د ادرې ظرفیت ارزونه تر سره کوي.

دغه پانګه اچونه به په اوږدمهاله موده کې د هیواد مجموعي خړوبې شوې سیمې له ۲.۱ میلیون هکتار څخه ۳.۱ میلیون هکتارو ته زیاته کړي چې بزګرانو او کلیوالو ته به د پام وړ ګټه ورسوي.

**د کرهنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت – د وچو ځمکو (للمي) د کرلو ستراتیژي**

| کال | ۱۳۹٦ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | | | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | ۱۸.۰ | ۵۸.۰ | ٤۸.۰ | |

د وچو ځمکو کرهنیزې پروژه د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق تر ملاتړ لاندې د استرالیا حکومت یوه درې کلنه پروژه ده چې مجموعاً ۱۳۰ میلیونه افغانۍ (۲ میلیون ډالر) بودجه لري. دغه پروژه به مستقیماً بې وزلو او د بزګرو زیانمنو کورنیو باندې اغیزه

واچوي او هغو کورنیو ته چې همدا اوس د کوکنارو په کښت اتکا لري، مرسته وکړي څو بدیل محصول ته را وګرځي. په پایله کې دغه پروژه د کلیوالو کورنیو خوراکي توکو امنیت لپاره او په ملي کچه خورا د اهمیت وړ بلل کیږي.

### پوهنه

**د پوهنې وزارت – ۸ زره اضافي ښوونکي**

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | ۷٦۸.۰ | ۷۹۷.۰ | ۸۲٦.۰ | ۸٥٤.۰ |
| اختیاري پراختیاي | | | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

د پوهنې د ملي ستراتیژیک پلان پر بنسټ، د زیاتو زده کوونکو جذب او شاملول لازمي ګڼل کېږي. لازمه ده چې د ښوونکو شمیر هم زیات شی څو د زده کوونکو او ښوونکو تناسب خوندي وساتل شی. د ۱۳۹٦ کال په اوږدو کې، حکومت د پوهنې وزارت لپاره د اته زره نویو اضافی ښووونکو د استخدام منظوري ورکړله. پداسې حال کې چې د هغې مصارف په ۱۳۹٦ کال کې په پام کې نیول شوی نه وو. د دغه لګښت ارقام او معلومات په پورته جدول کې په پام کې نیول شوي دي.

**د پوهنې وزارت – د ښوونځیو د ودانیو رغول**

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | | ٦.۰ | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

د پوهنې وزارت په نظر کې لري چې په ۱۳۹۷ کال کې، په مختلفو ولایتونو کې ښوونځیو ته ۴۲ نوې ودانۍ جوړې کړي. د پلان پر بنسټ به دغه ښوونځي د یو کال په اوږدو کې ورغول شي او په راتلونکو کلونو کې نورو لګښتونو ته اړتیا نه لري. په وروستیو

کلونو کې، د پوهنې وزارت کیدای شي چې نوې پالیسی  جوړې او د تمویل لپاره وړاندې کړي. د نویو ښوونځیو ودانولو په پایله کې به لا زیات زده کوونکي زده کړو ته لاسرسی ومومي.

### د پوهنې وزارت – کوچیانو لپاره د لیلیې جوړول

| کال | ۱۳۹٦ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانی) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانی) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | | ۰.۸ | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

د پوهنې وزارت په پام کې لري چې په ۱۳۹۷ کې خوست او کندز ولایتونو کې د کوچیانو د زده کوونکو لپاره دوې نوې لیلیې جوړې کړي. د پلان پر بنسټ، د لیلیې ودانی به د یو کال په اوږدو کې تکمیل شي او په راتلونکو کلونو کې نورو لګښتونو ته اړتیا نه لري. په وروستیو کلونو کې، د پوهنې وزارت کولی شي چې نوې پالیسی جوړې او په خپل وخت یې وړاندې کړي.

### د لوړو زده کړو وزارت – په تشکیل کې اضافي کارکوونکي

| کال | ۱۳۹٦ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانی) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانی) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | ۱۰۵.۰ | ۱۳٦.۰ | ۱٤۰.۰ | ۱٤٥.۰ | ۱٥۰.۰ |
| اختیاري پراختیایي | | | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

په ۱۳۹۷ کال کې د بودجې د کمیټې لخوا د (۱٥۰ پوهنځیو لپاره ٤۰۰ نور د استادانو بستونه او ۲٥۰ د ملکي کارکوونکو بستونه) د تشکیل تصویب شوي چې دغه لوړوالې په ۱۳۹٦ کال کې د تصویب شوي تشکیل د ٦۰۰ بستونو برسېره دی. له هغه ځایه چې د استخدام پروسه ډېر وخت ته اړتیا لري، د ۱۳۹٦ کال په بودجه کې د ٦۰۰ بستونو د ٦ میاشتو مصارف په پام کې نیول شوي وو. خو په ۱۳۹۷ کال کې د ټول کال لپاره دغه مصارف په پام کې نیول شوي دي. په ۱۳۹۷ کال کې هم د ٤۰۰ نویو بستونو لپاره د ٦ میاشتو لپاره د معاشاتو مصارف په پام کې نیول شوي دي.

### د لوړو زده کړو وزارت – په لوړو زده کړو کې د کانکور ازموینې پراختیا

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | ۸.۰ | ۸.۰ | ۸.۰ | ۸.۰ |
| اختیاري پراختیایي | | | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

په ۱۳۹۶ کې، ۱۱۰ میلیونه افغانۍ د کانکور د ازموینې بودجې لپاره په پام کې نیول شوې وې څو د دې ازموینې لګښتونه تر پوښښ لاندې ونیسي. په ۱۳۹۷ کال کې او له هغې وروسته، ۸ میلیونه افغانۍ اضافي بودجه په پام کې نیول شوې ده څو د ملکي کارکوونکو د استخدام لپاره د کانکور ازموینې لګښتونه چې د اداري اصلاحاتو کمیسیون لخوا ترسره کېږي، تر پوښښ لاندې ونیسي.

### د لوړو زده کړو وزارت – د سرطان د درملنې مرکز جوړول

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | | | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | ۲۳۹.۸ | ۵۴.۸ | | |

د کابل طبي پوهنتون له ډونرانو څخه بودجه تر لاسه کړې څو د سرطان د درملنې مرکز په عصري ټکنالوژۍ سمبال کړي. د دې ترون د لاسلیک پر بنسټ به د لوړو زده کړو وزارت د دغه مرکز د ودانۍ لپاره اړین ډیزاین جوړ کړي. د یادې پروژې قرارداد چې ۴،۳ میلیونه ډالره لګښت لري، د تدارکاتو ملي اداري لخوا منظور شوی او په دوو کلونو کې به یې ټولې چارې پای ته ورسیږي.

**د سرحداتو، اقوامو او قبایلو چارو وزارت – د سرحداتو او قبایلي ښوونځیو نویو زده کوونکو ته هستوګنځي**

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانی) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانی) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | ۴۰.۰ | ۱۳.۰ | | |
| اختیاري پراختیایي | | | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

د سرحداتو او قبایلو چارو وزارت به ۲۰۰۰ اضافي زده کوونکو ته د سرحداتو او قبایلو په ښوونځیو کې هستوګنځي جوړ کړي چې د لیلیه او حفظ و مراقبت لګښتونه هم پکی شامل دي. په ۱۳۹۷ تشکیل کې، څلوېښت ۸/۷ بستونه اضافه شوي څو د سرحداتو او قبایلو د ښوونځیو لپاره کارکوونکي وګومارل شي. همدارنګه د یاد وزارت په ۱۳۹۷ بودجه کې د جرګو د جلساتو لګښتونو باندې هم موافقه شوې ده.

اقتصاد او د خصوصي سکټور پراختیا

**د سوداګرۍ او صنایعو وزارت – د ښځو اقتصادي پیاوړتیا (ملي لومړیتوب پروګرام) (ابتکاري صنایع)**

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانی) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانی) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | | ۱۷.۰ | ۶.۸ | ۶.۸ | ۸.۱ |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

حکومت به د ښځو د اقتصادي فعالیتونو د ملاتړ له پاره مجموعاً ۳۸.۵ میلیون افغانی د پنځو کلونو په اوږدو کې له لسو نه ډېرو ولایتونو او ۲۰۸ ولسوالیو کې برابري کړي. دغه پروژه به د تجارت او صنایعو وزارت لخوا د اختیاري پراختیایي بودیجې څخه به استفادې پلې شي. دغه پروژه به د صادراتو او وارداتو پروسې لانورې هم ساده کړي او د صادراتي او وارداتي مقرري په هکله د تجارت کونوکو ښځو پوهاوی به زیات کړي. د تجارت د ثبتولو پروسې پوهاوي کې به ښه والی رامنځته کړی او د (افغان ښځو جوړ شوی) سوداګریز مارک به جوړ او ترویج کړي.

**د افغانستان د ستندرد ملي اداره – د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د څېړنې مرکز جوړېدل**

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري | | ۱۰.۱ | ٤.۵ | ٤.۵ | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

د نړیوالې سوداګرۍ سازمان سره د سوداګرۍ تخنیکي خنډونو تړون د لاسلیک پر بنسټ، د افغانستان حکومت ژمنه کړې ده چې د دې سازمان یو څېړنیز مرکز د افغانستان د ملي ستندرد په اداره کې جوړ کړي. دغه پروژه به ۲۰ میلیونه افغانۍ معادل د (۲۸۲ زره ډالر) لګښت ولري او په دریو کلونو کې به سر ته ورسیږي. له هغې وروسته به دا فعالیت د عادي بودجې د یوې برخې په توګه دوام ومومي. یاد څېړنیز مرکز به د تجارت نړیوال سازمان د مقرراتو مطابق د سوداګریزو چارو په برخه کې ښه والی رامنځته کړي. د تجارت نړیوال سازمان په هکله پوهاوی او په افغانستان کې ظرفیت به لوړ کړي او نړیوالو بازارونو ته د افغان سوداګرو په لاسرسي کې به ښه والی رامنځته کړي.

**د افغانستان ملي ستندرد اداره – د ستندرد د کیفیت تصدیق**

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | | ۳۳.۵ | ۱٦.۸ | ۱٦.۸ | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

د افغانستان ملي ستندرد اداري مجموعاً د ٦۷ میلیونه افغانیو وړاندیز ورکړی څو د دریو کلونو په اوږدو کې د ستندرد د کیفیت تصدیق اړوندو حکومتی ادارو وړاندې او په دې توګه د اجناسو له کیفیت څخه کنټرول او ډاډ ترلاسه شي. دغه پروژه به په عامه مصؤنیت کې ښه والی رامنځته کړي او د کورنیو تولیداتو کیفیت به هم لوړ کړي. دغه پروژه کولای شي د کم/بې کیفیت لرونکو وارداتو مخنیوی وکړي او کورني تولیدات وهڅوي.

**د روغتیا وزارت – سیمه ییز، تجهیز شوي او د کېفیت د کنټرول لابراتوارونه او دکیفیت د اطمینان پیاوړي شوي سیستمونه**

| کال | ۱۳۹٦ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | ۲۵.٤ | ۲۵.٤ | | |
| اختیاري پراختیایي | | ۱۰۲.۵ | | | |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

دغه پروژه د سیمې په کچه د هرات، کندهار، بلخ او ننګرهار ولایتونو کې د درملنې او د روغتیایې تولیداتو ملاتړ په موخه د اسانتیاوو په برابرولو، لکه جواز ورکول، ثبتول، تفتیش او د کیفیت د اطمینان سیستمونو باندې کار کوي.

**د عامې روغتیا وزارت – د تدارکاتو د مدیریت مشترک واحد**

| کال | ۱۳۹٦ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانۍ) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانۍ) | ۱٤۰۰ (میلیون افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | ۳٦.۲ | ۲۹.۳ | ۳۲.۸ | ۳۳.۰ |
| اختیاري پراختیایي | ۲۱.٤ | ۳٦.۲ | ۲۹.۳ | ۳۲.۸ | ۳۳.۰ |
| غیراختیاري پراختیایي | | | | | |

د درملو د تدارکاتو مشترک میکانیزم کاري ګروپ د ولسمشر د تقنیني فرمان پر بنسټ جوړ شوی څو د حکومت د درملو اوسنی تدارکاتي پروسې و ارزوي او د هغو د ښه والي په موخه ستراتیژي وړاندې کړي.

د تدارکاتو د مدیریت مشترک واحد یو تدارکاتي واحد دی چې د حکومت روغتیایي محصولاتو د مشترکو تدارکاتو مسؤولیت لري.

**د عامې روغتیا وزارت – د افغانستان د طبي شورا د پیاوړي کولو پروژه**

| کال | ۱۳۹۶ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۷ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۸ (میلیون افغانی) | ۱۳۹۹ (میلیون افغانی) | ۱۴۰۰ (میلیون افغانی) |
|---|---|---|---|---|---|
| عادي | | | | | |
| اختیاري پراختیایي | ۴۰.۰ | ۸۸.۴ | ۸۰.۰ | ۸۴.۰ | ۸۸.۰ |
| غیراختیارې پراختیایي | | | | | |

په افغانستان کې طبي شورا په ۲۰۱۷ کال کې د ښاغلي ولسمشر د ځانګړي فرمان پر بنسټ رامنځته شوه. د دغې شورا اصلي موخه د روغتیایي ملي ستندردونو رامنځته کول او د روغتیا په برخه کې څارنه ده.

طبي شورا ژمنه کړې ده چې د ناروغانو مصؤنیت د ډاکترانو او د روغتیایي خدماتو وړاندې کوونکو طبي زده کړو انستیټیوتونو د خدماتو د کیفیت د ښه والي له لارې ډاډ ترلاسه کړی. دغه پروژه به لومړی په مرکز کې پلې کېږي او وروسته بیا د افغانستان مهمو ښارونو ته پراختیا مومي. په پام کې ده چې په لومړي کال کې، ۹۰ سلنه ډیر طبي ډاکتران د مرکز او ولایتونو په کچه ثبت شي.

## ۳: په ولایتونو کې مالي فعالیتونه

### عمومي کتنه

د ملي بودجې دغه برخه، ولایتي کچې ته د مالي سرچینو د ولایتي ویش په باب معلومات وړاندې کوي. د مالي سرچینو ویشنه د هیواد د اتباعو د اړتیاوو او ملي ګټو پر بنسټ په مؤثر او متوازن ډول سره د مالي سرچینو ویش د ځان بسیاینې په لور د حکومت یواځینی موخه ده. همدارنګه د بنسټیزو خدمتونو چمتو کول او د ملي زیربناوو د پیاوړتیا لپاره د دولت روښانه ژمنې سولې او ټیکاو ته د رسیدو لپاره یوه اساسي اړتیا ده.

د روڼتیاو حساب ورکونې د زیاتوالي لپاره لازمه ده چې حکومت د ولایاتو په کچه د ملي بودجې د ویش لپاره ولایتي سقفونه په معین وخت سره ترتیب او خپاره کړي. دغه برخه لاندې موضوعات په بر کې لري:

۱. د ولایاتو په کچه لګښتونه - حکومت ژمن دی چې د ۱۳۹۷ مالي کال او درېیو نورو راتلونکو کلونو لپاره اټکل شوي ولایتي لګښتونه ترتیب کړي.
۲. ولسي تړون - دا برخه د ۱۳۹۷ مالي کال او د راتلونکو درېیو کلونو لپاره د کلیو په کچه په ملي بودجه کې د ولسي تړون ملي پروګرام لخوا د منابعو تخصیص او فعالیتونه وړاندې کوي.

د هیواد مالي سیستم اصلي اصلاحات، په ځانګړي توګه د ولایتونو لپاره د مالي مسؤولیت لیږد او د ملي سرچینو د رڼه او منصفانه تخصیص په برخه کې د حکومت اصلي مهمو ستراتیژیو څخه دی او د ټول هیواد په کچه د متوقعه پایلو ترلاسه کولو لپاره د حکومت د پالیسی او اهدافو لاسته راوړلو کې مرسته کوي.

### په ولایتي کچه د حکومت لګښتونه - ۱۳۸۹-۱۳۹۶

حکومت د افغانستان د مالي مدیریت معلوماتی سیستم (AFMIS) له لارې، د ولایتي لګښتونو څارنه او مدیریت کوي. سربیره پر دې، د ۱۳۸۹ او ۱٤۰۰ کلونو ترمنځ، دا برخه نور معلومات وړاندې کوي چې لګښتونه له ۱۳۸۹ څخه راپدېخوا په کومو برخو کې څنګه ولګول شي.

یوویشتم جدول: د ولایتونو پرېنسپ لګښتونه

| | ۱۳۹۵ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ولایتونو پرېنسپ لګښتونه | ۳۵٤,۱۸٦,۷۷۷,۲٥٤ | ٤۲۹,٤۱۳,۷۱٤,۸۱٥ | ۳٦۱,۰٤۹,۹۷۷,۷۷٥ | ۳٦۸,۷۹۱,٥٥۷,٥٦٤ | ۳٦۹,۲۹٥,۹٦٦,٤۱٥ | ۳٦۲,٤۷۷,٤۰٤,۷۸۸ | ۳٤۹,٥۳٦,٦٥۰,۷٤۰ |
| کابل-۰۱ | ۲۲,۳۱۳,۷۲٦,٤۷٥ | - | ۲۸,۰٥٥,۷٥۲,۰۳٥ | ۲٤,۹۷۹,۲۱٤,۲٤۰ | ۲٤,۱۳٥,۸٦۸,۲۱۹ | ۲۱,۳٥۳,۲۰٤,۰۹٤ | ۱۷,۳۹۰,۲۷۲,٤۰۷ |
| کاپیسا-۰۲ | ۲,۸۹٥,٤۱٥,۷٦۷ | - | ۳,٥۲۹,۰۹۳,٥۳۳ | ۳,۱۰۲,۷۸۲,۸۷٦ | ۳,۱۱٥,٤۹۲,۳۲۱ | ۳,۰۲۲,٥۲٤,٦٥۰ | ۲,۸٦۳,۹۲٥,۱۰۹ |
| پروان-۰۳ | ٥,۰۰٦,۹۰٦,٦۳۰ | - | ٥,۱۸٦,۸۰۱,۷٦۲ | ٥,۱۲٥,۳٦٥,۰٤۳ | ٥,۱۳۲,٥۱۹,۹٥۲ | ٤,۹٤۹,۱۸۰,٥۲۸ | ٤,٦٤۷,۸۸٦,۲۸۰ |
| وردګ-۰٤ | ۳,۳۲۳,۹۱٥,۲٤۷ | - | ۳,٥۸٥,۸۸۲,٤٦۸ | ۳,۲۷٤,۰۱۰,٥٤۸ | ۳,۲۷٤,۸۳٥,۹٤٥ | ۳,۱٤۹,٦٦٥,۳۲۳ | ۲,۹٤٦,٥٦٥,۱۷۹ |
| لوګر-۰٥ | ۲,۷۳۷,۷۹٤,۲۸۰ | - | ۳,۲۷٤,۱۳۰,٤٤۳ | ۳,۰٤۰,٤۹۷,۰٥۹ | ۳,۰۲۰,٤۳٤,٥٦٤ | ۲,۸٥۹,۳۸٦,۱۹٤ | ۲,٦۱۱,٦۰۸,۰۳۷ |
| ننګرهار-۰٦ | ۱۷,۱۸۷,۹۰۳,۸۱٥ | - | ۱۷,۸٤۱,۸۰۸,٦۲۸ | ۱۸,٤۱۷,٥۰۲,۱٥۷ | ۱۸,۷۰٦,۷۹۷,۳۷۲ | ۱۸,٦۱٤,۹۸۲,٤۱٥ | ۱۸,۲۸۱,۰۱۰,۰٦٦ |
| لغمان-۰۷ | ۲,۹٥۷,٦٤۲,٦۰۰ | - | ۲,۸۷۲,۳٦۱,٥۳۷ | ۲,۹۲۱,٥۸٦,۲۰۹ | ۲,۹٥۹,۸٦٦,۹۱۲ | ۲,۹۲۸,۹۳۱,۳۰۹ | ۲,۸٥٤,۳۳٥,۷۷۰ |
| پنجشیر-۰۸ | ۱,۸۹۲,۱۷۹,۷۳۷ | - | ۱,۷۱۹,۰۹۰,۲٦٥ | ۱,۷۱٥,۷۲۹,۷۲۸ | ۱,۷۳٤,٤٥۱,۷۹۳ | ۱,۷۰۸,۱۹۹,۳۲۹ | ۱,٦٥۳,۷۱٦,۱۲۸ |
| بغلان-۰۹ | ۷,۹۲۱,۰۹٤,۸٤۰ | - | ٦,۸٥۷,٦٦٥,۲٤۸ | ٦,۱۸٥,٦٥٥,٤٥٦ | ٦,۱۷۲,۰۲٦,٤٥۹ | ٥,۹۰۲,۸٦۷,۱٥٦ | ٥,٤۷٦,۰۰۳,۸۷٥ |
| بامیان-۱۰ | ۳,۱۸۷,۰٥۱,٦٥٤ | - | ٥,٤۰٤,٤٥۲,٦۸۲ | ۳,۹٦۹,٦٥٥,۹۸۳ | ۳,۸۹٦,۹۲٤,٦۰۷ | ۳,٥۸٦,٥٥۳,۰۲۹ | ۳,۱۳۰,۸٦٦,٦۸٤ |
| غزنی-۱۱ | ٤,٦۱۰,۷۲٥,٦۹۱ | - | ٤,٤۷۱,٤۲٦,۰۳۰ | ٤,٥٥۸,۰۳٦,۲٥۹ | ٤,٥۷٥,۰۳۹,۳۷٥ | ٤,٤۳٤,۸۸۱,۹۸۷ | ٤,۱۹۷,۱٦۱,۰٤۲ |
| پکتیکا-۱۲ | ۳,۱٤۹,٦۳۷,۷۸٥ | - | ۳,٥۷۸,۳۹۱,۸۹۰ | ۲,۹۹۲,۲٤۳,۷٦۰ | ۲,۹۹٤,۹۷٦,۱۲٥ | ۲,۸۸٤,۸۳۲,۷۷٦ | ۲,۷۰٤,۸۳۰,۱۸٥ |
| پکتیا-۱۳ | ۱۱,۷۱۰,۳۸۱,۸۲۱ | - | ۱۱,۳۹٤,٤۹٦,٤۲٥ | ۱۱,۹۸۹,۹۱۹,٦۳۱ | ۱۲,۲۷۷,۷۰۲,۲۸۲ | ۱۲,٤۳۱,۸٥٦,۰٤۸ | ۱۲,٤۹٦,۹۱۹,۰۸۸ |
| خوست-۱٤ | ٤,۰۸٥,۱۰٤,۲۳٤ | - | ۳,٦۰۹,۷٦۸,۰۲٥ | ۳,٥۲۸,۲۲۸,٦۳٦ | ۳,٥٥۸,۳٦۸,٤۱۸ | ۳,٤۸٦,۳۹۸,۹۷۹ | ۳,۳٥۰,٦۱۲,٦٥۸ |
| کنر-۱٥ | ۲,۹۱۳,٥۱۷,۳۳۰ | - | ٤,۰۱٦,٦٤٦,٦۹۱ | ۳,۸٤۱,٥٤۷,٦٤٥ | ۳,۸٥٥,٥٦٤,۲٦۹ | ۳,۷۳٦,۷٦۳,٦۸٦ | ۳,٥۳٥,٥۱۹,٥۲٥ |
| نورستان-۱٦ | ۱,۹۲۲,۲۲۳,۳٤٥ | - | ۱,۹۸۲,٥۳۱,۱٦٥ | ۱,۹۱۱,۷۸۰,٦۰۷ | ۱,۹۲٤,۰۳۳,٤۲٤ | ۱,۸۷٦,۲٦۳,۲۹۷ | ۱,۷۹۱,۱۰۲,۲۹۸ |
| بدخشان-۱۷ | ۷,۷۳۲,٤۷۳,٦۲۸ | - | ۷,۸٥٤,۸٤۲,۳٦۲ | ۷,۰۳۰,۲٤۸,٦۷۱ | ۷,۰۰۳,۲۲٦,۱۸٦ | ٦,٦۷۲,٥۰۷,۹٦۸ | ٦,۱٥٤,٦۰۲,۸۰٦ |
| تخار-۱۸ | ٤,۷۸۱,۷٥۹,۲٥۳ | - | ٥,٦۲۰,۱۷۳,۷۳۳ | ٤,۸۸۲,۳۳٤,۲۷۰ | ٤,۸۸۳,۷٦٥,۹۷٥ | ٤,٦۹۷,٥۳۸,٦۰۹ | ٤,۳۹٥,۲۳۸,۱۰۱ |
| کندز-۱۹ | ٦,٦۳۰,۹۰۰,٥۹۱ | - | ٦,٦۱۸,۷۲۱,۸۹۰ | ٦,٥۸۹,۹۱۸,۱۷۸ | ٦,٦٤۳,۳۳۸,۲٥٥ | ٦,٥۰۲,۷۳۳,٤٦٦ | ٦,۲٤۰,۹٥۲,۱۹٤ |
| سمنګان-۲۰ | ۲,٦۱٦,۲۰۹,٦۹۲ | - | ۲,٥۱٥,۸۷۲,۲۱۹ | ۲,۳٥۱,۰۰۹,۲٥۱ | ۲,۳٤۷,۱۱۰,٥۷۹ | ۲,۲٤۷,٥٦٦,۳٥۷ | ۲,۰۸۸,۹٦٦,۱۹٦ |
| بلخ-۲۱ | ۱٥,٥۸۳,٦٥۰,۰٥۷ | - | ۱٥,۹۲٦,۳۹٤,۷۲۲ | ۱٦,٤۰۷,۷٥۰,٦۰۱ | ۱٦,٦٦۲,٤۰۳,۷٦۸ | ۱٦,٥۷۳,۹۹٦,۱٥۱ | ۱٦,۲٦۷,۷۳٦,۹۹۹ |

| | ۱۳۹۵ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سرپل-۲۲ | ۲,۹۴۹,۵۲۹,۱۹۹ | - | ۲,۶۷۳,۹۸۱,۱۵۳ | ۲,۶۱۰,۶۹۴,۰۴۰ | ۲,۶۲۴,۴۴۱,۳۵۶ | ۲,۵۵۲,۷۸۶,۴۵۲ | ۲,۴۲۸,۰۱۳,۵۸۲ |
| غور-۲۳ | ۳,۵۰۲,۷۰۰,۷۴۱ | - | ۲,۶۷۵,۹۳۷,۶۵۳ | ۲,۷۰۲,۵۷۷,۷۶۳ | ۲,۷۱۳,۹۴۳,۰۳۴ | ۲,۶۳۳,۶۰۱,۴۱۸ | ۲,۴۹۶,۲۹۶,۷۴۸ |
| دایکندی-۲۴ | ۲,۲۶۸,۰۳۱,۲۳۹ | - | ۲,۵۴۷,۰۹۷,۵۰۳ | ۲,۲۶۲,۳۵۰,۷۰۸ | ۲,۲۴۶,۵۰۰,۰۱۰ | ۲,۱۲۴,۶۸۳,۴۰۶ | ۱,۹۳۷,۶۹۷,۴۴۷ |
| ارزگان-۲۵ | ۲,۰۲۷,۴۷۶,۰۵۵ | - | ۱,۹۴۳,۸۷۴,۵۱۳ | ۲,۰۱۲,۵۵۸,۸۵۹ | ۲,۰۳۰,۵۱۲,۱۱۷ | ۱,۹۹۱,۰۹۶,۶۵۲ | ۱,۹۱۵,۸۰۳,۶۲۲ |
| زابل-۲۶ | ۱,۸۸۲,۹۹۲,۱۹۹ | - | ۲,۱۷۲,۸۲۹,۵۲۳ | ۲,۱۹۷,۴۸۶,۱۰۲ | ۲,۲۲۲,۲۹۸,۸۹۰ | ۲,۱۹۰,۴۶۸,۶۱۹ | ۲,۱۲۳,۰۵۵,۵۲۹ |
| کندهار-۲۷ | ۱۵,۴۱۷,۳۹۶,۵۱۹ | - | ۱۵,۸۶۴,۰۶۰,۰۸۵ | ۱۶,۳۸۶,۸۲۲,۵۱۹ | ۱۶,۶۴۹,۱۰۵,۵۲۸ | ۱۶,۵۷۷,۹۲۱,۹۳۷ | ۱۶,۲۹۴,۶۴۸,۲۱۱ |
| جوزجان-۲۸ | ۳,۹۰۹,۱۳۹,۳۰۷ | - | ۵,۱۷۲,۷۱۸,۳۱۸ | ۴,۶۶۹,۴۶۶,۶۴۶ | ۴,۶۳۶,۲۱۷,۴۸۰ | ۴,۳۸۳,۶۴۱,۷۵۴ | ۳,۹۹۶,۱۸۹,۴۳۸ |
| فاریاب-۲۹ | ۴,۶۲۴,۲۱۸,۷۲۰ | - | ۴,۰۳۲,۱۳۳,۵۱۴ | ۴,۰۶۹,۱۸۱,۱۸۴ | ۴,۱۲۶,۰۳۴,۳۸۸ | ۴,۰۹۰,۵۵۳,۳۹۲ | ۳,۹۹۶,۷۰۰,۳۶۵ |
| هلمند-۳۰ | ۱۲,۶۹۰,۸۹۹,۵۳۹ | - | ۱۲,۱۲۳,۲۵۲,۲۴۹ | ۱۱,۲۸۱,۷۹۷,۶۵۱ | ۱۱,۴۳۰,۰۴۴,۹۶۴ | ۱۱,۳۱۱,۵۰۰,۷۲۸ | ۱۱,۰۲۴,۶۵۵,۳۵۷ |
| بادغیس-۳۱ | ۲,۲۰۴,۹۲۵,۱۱۴ | - | ۲,۲۰۰,۸۲۵,۸۷۶ | ۲,۱۴۸,۲۸۳,۴۵۰ | ۲,۱۶۳,۳۳۷,۸۶۳ | ۲,۱۱۲,۴۲۴,۱۱۶ | ۲,۰۲۰,۳۸۰,۳۲۲ |
| هرات-۳۲ | ۱۴,۹۹۱,۰۱۳,۵۹۳ | - | ۱۴,۵۵۵,۱۶۹,۲۷۱ | ۱۴,۵۲۵,۶۸۱,۴۲۶ | ۱۴,۷۸۴,۵۷۹,۷۲۵ | ۱۴,۷۷۸,۲۷۸,۹۶۶ | ۱۴,۶۰۲,۱۷۸,۰۱۸ |
| فراه-۳۳ | ۳,۰۶۴,۰۹۸,۳۳۹ | - | ۳,۸۱۸,۲۴۶,۰۵۱ | ۳,۴۲۳,۶۱۷,۹۰۱ | ۳,۴۱۹,۰۳۳,۷۰۰ | ۳,۲۷۶,۴۲۵,۶۲۲ | ۳,۰۴۸,۵۷۱,۸۹۸ |
| نیمروز-۳۴ | ۲,۲۴۸,۹۹۳,۶۴۳ | - | ۳,۵۷۸,۳۶۴,۶۵۷ | ۲,۵۸۴,۱۷۰,۷۶۸ | ۲,۵۳۷,۱۱۸,۲۴۲ | ۲,۳۳۵,۷۰۵,۱۳۰ | ۲,۰۳۹,۸۹۷,۶۸۰ |
| ۹۰مرکزی اداري | ۱۴۵,۰۹۴,۹۵۵,۴۸۴ | ۴۲۹,۴۱۳,۷۱۴,۸۱۵ | ۱۴۰,۱۹۹,۱۰۱,۰۸۱ | ۱۵۷,۸۸۰,۱۵۵,۹۵۱ | ۱۵۷,۶۷۵,۰۶۶,۳۹۴ | ۱۵۷,۵۰۸,۱۵۸,۰۹۳ | ۱۵۵,۷۸۶,۸۳۰,۷۸۶ |
| پیهرنی ورکړي-۹۵ | ۲,۱۵۰,۱۹۳,۰۹۳ | - | ۱,۵۷۶,۰۸۲,۵۷۵ | ۱,۲۲۱,۶۹۵,۷۹۱ | ۱,۱۶۲,۹۸۵,۹۲۴ | ۹۸۹,۳۲۵,۱۵۰ | ۷۴۵,۹۰۱,۱۱۰ |

د حکومت لګښت ۵۷ سلنه په مستقیم ډول ولایتونو ته ځانګړی شوی دي. د لګښتونو پاتې ۴۳ سلنه چې ولایتونو ته نه دي ورکړل شوي او د مرکزي وزارتونو او مرکزي بودجوي واحدونو لخوا لګول کیږي، چې جغرافیائي او یا حکومت لخوا یې په مستقیم ډول یو ځانګړي ولایت ته ټاکل شوی نه وي. پدې لګښتونو کې عملیاتي تجهیزات او لګښتونه او همدارنګه ملي پانګونې شاملې دي.

په وروستیو کلونو کې په افغانستان کې د لوړې کچې ښاري کیدلو ته په پام سره، په ځانګړې توګه د کابل او نورو ښاري مرکزونو نفوس، د پایداره نفوس وده کې د ولایتونو لګښتونو سره زیاتوالی ښایي چې په تیرو اتو کلونو کې د بسپنو زیاتولو له لارې، د سرچینو تخصیص غیر مستقیم مرکز سره سمون نلري. د کابل نفوس په ۱۳۸۹ کې ۳،۶ میلیون ته لوړ شوی وو خو په ۱۳۹۶ کال کې ۴،۶ میلیونو ته رسیدلی دی. د دې دورې په جریان کې، په کابل کې د تناسب لګښتونه په سمه توګه پاتې دي، پداسې حال کې چې دا په نورو ولایتونو کې چټکه وده کړې. د دې دورې په جریان کې، کابل، چې د لسو ولایتونو په شمول د هر وګړي د لوړ لګښت ولایت وو، د نهه ویشتمې درجې ولایت ته راټیټ شوی دی.

## د ولایتي لګښتونو تحلیل

د ولایتي لګښتونو ارزولو لپاره لومړی انتخاب دا دی چې د اصلي کلني لګښتونو پرتله کړي. لاندې ارقام په ۱۳۹۶ کال کې ولایتي لګښتونه ښیي:

اووم ګراف: د ولایتونو پربنسټ د حکومت لګښتونه (اسمي)




پنځه ولایتونه چې ډیر لوړ لګښت لري له کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار او هرات څخه عبارت دي چې د ولایتي لګښتونو ۴۲ سلنه او د ټولې بودجې ۲۵٪ او همدارنګه د دغه ولایت د ټول هېواد ۳۹٪ لوړ نفوس تشکیلوي.

په عین وخت کې، پنځه ولایتونه چې کم لګښت لري، پنجشیر، نورستان، ارزګان، زابل او دایکندي دي چې د ټولو ولایتي لګښتونو پنځه سلنه جوړوي او د ټولې بودجې درې سلنه جوړوي. دا پنځه ولایتونه د هیواد د ټولو وګړو یوازې ۵٪ جوړوي.

د لګښتونو بیاکتنه او ارزونه دویم اختیار دی چې په پنځو شتمنو ولایتونو او پنځو بې وزلو ولایتونو کې د لګښتونو ارزونه وکړي. د دې تحلیل لپاره، پنځه شتمن ولایتونه د پنځو ولایتونو په توګه تعریف شوي چې د هر وګړي میاشتنی عاید یې زیاد دي. دا ولایتونه کابل، بلخ، پروان، فراه او لوګر دي، چې ځینې یې ډېر او ځینې یې کم نفوس لري او د حکومت لګښتونو ۲۴٪، خو د ټولې ملي بودجې ۱۴٪ دغو ولایتونو ته ځانګړې شوي.

پنځه بیوزله ولایتونه تخار، لغمان، زابل، بدخشان او سرپل دي، چې د بیوزلۍ کچه یې تر ټولو لوړه دي. د دغو ولایتونو بودجه د ولایتي لګښتونو ۱۰٪ او د ملي بودجې ۶٪ جوړوي. دا تحلیل ښيي چې د نورو ولایتونو په پرتله په دغو ولایتونو کې د زیات غربت سره د سرچینو د زیاتوالي لپاره د ځینو لګښتونو بدلولو ته اړتیا ولیدل شي.

حکومت د لګښتونو د جوته کولو په خاطر تحلیل هم کولی شي چې د فیصدی په کچه یې معلوم کړي. د تحلیل دا طریقه ښيي چې په هر یو کس باندې څومره مصرف کیږي. په ځینو مواردو کې، دا طریقه د سرچینو مساوي تخصیص څخه وروسته د پوهیدو یوه ښه لاره ده.

د هر وګړي د لګښت په کچه پکتیا، نیمروز، کندهار، هلمند او نورستان ولایتونه د هېواد په کچه تر ټولو لوړ لګښتونه ښيي. پکتیا ولایت په تیرو اتو کلونو کې د هر وګړي لګښت کچه د ټولو ولایتونو څخه لوړه ده او په ۱۳۹۶ کال کې د حکومت لخوا پر هر وګړي د تناسب لګښت  ۲۰۹۷۳ افغانی، یا ۳۱۳ امریکایي ډالرو ته رسیږي.

پنځه ولایتونه چې د هر وګړي د مصرف ټیټه کچه لري، غزني، غور، فاریاب، بادغیس او سرپل دي. په غزني کې تر ټولو ټیټ تناسب مصرف په ۱۳۹۶ کې د هر شخص لپاره ۳۳۳۶ افغانیو، د ۵۰ امریکایي ډالرو په ارزښت د حکومت لخوا محاسبه شوی.

د لوړ او ټیټ لګښت په کچه، د غزني ولایت د هر وګړي د مصرف ټیټوالی د پکتیا ولایت څخه شپږ ځله ټیټ دی. دا تحلیل د نابرابرۍ کچه یا د مالي سرچینو غیر مساوي وېش ښیي چې حکومت به یې په راتلونکو کلونو کې حل کړي.

د پنځو لوړو او پنځو ټیټو ولایتونو د هر وګړي فیصدي، د نسبي  کچې سره سم، په تیرو اتو کلونو کې د نورو ولایتونو په پرتله خورا باثباته دي. پاتې برخه په ډیرو ولایتونو کې د حکومت مهم لګښتونه ښیي. ځیني یې په لویو پروژو کې په یوه کال کې لوړې شوي دي، پداسې حال کې چې اوسنی امنیتي وضعیت پدې مانا دی چې ځیني ولایتونه د خوندیتوب او ناامنۍ ترمنځ حرکت کوي.

**اتم ګراف: د ولایتونو پربنسټ د بودجې سرانه لګښت**



دغه بې ثباتي په افغانستان کې د حکومت نسبي متمرکز ماهیت څرګندوي او ولایاتو ته د پیسو د لیږد چې موخه یې د وګړو تر مینځ مالي مقایسه ده او په ډېرو هیوادونو کې رایج دی، ډېر ورو ده.

### د ۱۳۹۷ - ۱۴۰۰ کلونو لپاره د ولایتونو په کچه د بودجې تخصیص

دغه برخه د ۱۳۹۷ څخه تر ۱۴۰۰ پورې د حکومت ولایتي لګښتونو اټکلونه وړاندې کوي. په اوسني بهیر کې، د زون په کچه (سیمې) د لګښتونو تخصیص په سیستماتیک ډول ندی تحلیل شوی. عادي بودجه په عمده ډول د وزارتونو او بودجوي واحدونو جوړښت، موقعیت، اندازه او اداري واحدونو په اساس تخصیص شوې ده، پرمختیایی بودجه د پروګرامونو او پروژو په بنسټ تنظیم شوې ده، پداسې حال کې چې د پانګونې جغرافیایي موقعیت د ارزیابي پروسې یوه برخه ده، مګر حکومت غواړي چې په ۱۳۹۷ کې د بودجې له پاره یو منظم سیستماتیک لاره جوړه کړي. د نوي حکومت پالیسی وړاندیزونه د ولایتي پروپوزلونو د تحلیل او ارزونې په اړه به تمرکز کوي.

د حکومت د پالیسی موخه دا ده څو ډاډ ترلاسه کړی چې ملي سرچینې په ټول هیواد کې او د ټولو افغانانو په ګټه کارول کېږي. سربېره پردې، په تیرو برخو کې د ولایتونو تیر لګښتونو تحلیل سره سم، دا اړینه ده چې یو شمیر لګښتونه د هیواد نسبتاً غوره سیمو ته او هغه څه چې ډیر اړین دي ورکړل شي. پداسې حال کې چې د امنیتي ستونزو له کبله، سرچینې هغه سیمې ته لیږل کیږي چې هلته تر ټولو زیاتې شخړې شتون لري، مګر حکومت په نورو سیمو کې د ځینو لګښتونو تخصیص ورکونې مسؤلیت هم لري ترڅو اړین خدمات برابر او پانګونې ته دوام ورکړي.

دا اټکلونه د هغو وړاندوینو پر بنسټ ولاړ دي چې فرض کیږي چې اوسني ولایتي تخصیصونه په راتلونکو څلورو کلونو کې دوام وکړي. د تیرو اتو کلونو په ترڅ کې په ولایتي کچه د حقیقي لګښتونو بې ثباتی ته په پام سره، اټکلونه او وړاندیزونو ته بیاکتنه شوې، او د پایلو د پروګرامونو او پروژو معلومات اغیزمن کړي چې د کال د نیمایي بیاکتنه او ۱۳۹۸ په ملي بودجه کې به تجدید شي.

د ولایتونو پربنسټ د بودجې تر دې ډېر جزئیات د بودجې په دویمه ګڼه کې د لاسرسی وړ دی.

### ولسي تړون

